D100



# د امام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ لنډه

# او مستنده پيژندنه




**لیکوال:**

ارشاد احمد سراج کاموي

**کتونکی:**

شیخ القران راز محمد سراج کاموي



حنفی شافعی

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

کفایت دینی کتب خانه

کفایت اللہ ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔

کفایت اللہ ابن صدیق

easypaisa

+923052488551

+923247442395

حنبلی مالکی

# د امام ابوحنيفه رحمه الله لنډه او مستنده پېژندنه

## إِرْشَادُ الدُّرَرِوَالْـمَرْجَانِ
## فِيْ
## مَنَاقِبِ الْإِمَامِ أَبِي حَنِيْفَةِ النُّعْمَانِ


ليكوال: ارشاداحمد سراج كاموي

كتونكی: شيخ القران رازمحمدسراج كاموي

قاري سفر محمد شيرزاد غزنوي

## کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| کتاب نوم: | **د امام ابوحنیفه رحمه الله لنډه او مستنده پېژندنه** |
| لیکوال: | ارشاد احمد سراج کاموي |
| کمپوز: | لیکوال |
| ډیزاین: | شریف الله للمه وال ۰۷۸۷۲٦۷۵۸۵ |
| خپرندوی: | افغان خپرندویه ټولنه،جلال کوټ |
| چاپ شمېر: | 1100 |
| چاپ وار: | لومړی |
| چاپ کال: | ۱۳۹۷ هـ ش یا 2018میلادي |
| بیه: | (     ) |



**چاپ حقوق د خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.**



**د تر لاسه کیدلو درکونه:**

**افغان کتاب پلورنځی ـ جلال اباد_افغانستان**

پته: لاندې پوړ، اسحاق زی مارکیټ،بزازۍ څلور لارې ،جلال آباد.

(+۹۳) ۷۸۰۸۵٦۱۷۴ - (+۹۳) ۷۷۹۰۹۰۷۸۲

Afghanpublisher-Nangharhar

**طاسیه پلورنځی ـ جلال اباد_افغانستان**

اق زی مارکیټ،بزازۍ څلور لارې ،جلال آباد.

(+۹۳) ۷۸۸۸۸۷۷۹۷

بسم الله الرحمن الرحیم

**مننلیک**

دهغه چاڅخه مننه کوم، چې په دی وخت او زمان کې د اسلام مقدس دین لپاره، مالي، ځاني اوبدني مصرف کوي او د اسلام مقدس دین لپاره قرباني ورکوي.

زه خاص دهغه چاڅخه ډیره مننه کوم، چې ددی رسالې په چاپ کولو کې یې مالي او ځاني مرسته کړی ده، الله تعالی دی ورته په دنیا او آخرت کې نیکې بدلې ورکړي او جنت الفردوس دې نصیب شي.

امین ثم امین

ارشاد احمد سراج کاموي

# ډالۍ

## هغه چاته!

چې د امام ابوحنيفه (رحمه الله) سره

د زړه نه مينه لري.

# تقـــريظ

**شيخ القرآن والحديث الفقيه العابد ابوالحنيف**

**محمد اميرالرحمن «نعماني» غفرالله له**

**رئيس شـــوریٰ لاهل الســـنة والجماعـــة - افغانســـــتان**

الحمدلله الذي رَفَـــعَ للعلماء درجة ومقدارًا،وجَعَلَ بضياءِ عُلومهم جهالـــة الليل نهارًا،والصّلـوٰة والسّـلام علـــیٰ مَنْ أرســـله والكـــفار،قد أعرضوا عن الحق استكبارًا، فقام بأمرالله انتصارًا،وعلـــیٰ آلـــه وصحبه صلـــوٰةً تـــزيدنا في الـــدين استبصارًا،وتـــحط عنّا من ثقل الذنوب أوزارًا.

**وبعـــد:** دامام الأئمة سراج الأمة أبوحنيفة النعمان عليه سحائب الرحمة والرضوان، په مناقبو ډيرو علماؤو كرامو په مختلفو ژبو كتابونه ليكلي دي،دا پخپله دامام ابوحنيفه(رحمه الله)په جلاليتِ شان او عظمت مقام باندې بيّن ثبوت دی.

**أئمة هذه الدنيا جميعاً *** بلاريب عيال أبي حنيفة(رحمه الله)**

او څوک چې ترينه انكار كوي،هغه جاهل او متجاهل دی،ددی سلسلې يوكړۍ زمونږ محترم ورور ارشاد احمد «سراج» صاحب هم دی،چې ډير زحمت يې ايستلې دی مختصر،مگر دامام صاحب(رحمه الله)په ښكلي صفاتو يوه جامعه رساله مرتب كړی ده،الله تعالیٰ(جل جلاله)دی دمؤلف دا خدمت په خپل دربار كې قبول كړي او مزيد خدمت كولو توفيق دی ورته نصيب كړي.

**آمـــين**

**محمد اميرالرحمٰن «نعماني» غفرله الباري**

**خادم علوم القرآن والسنة بمدرسة أم العلوم جلال آباد-افغانســــتان**

## تقريظ

**شيخ القرآن والحديث مولانا ~~محمد~~ يوسف«عابد» شيرزاد غفرالله له**

**دالفلاح پوهنتون دشرعياتو پوهنځي استاد**

الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَالصَّلٰوة وَالسَّلَامُ عَلى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلَى آلِه و أَصْحابِهِ وَمَن اتبعهم بِاحْسانٍ إِلى يَوْمِ الدِّيْنِ.

**وبعد:** په يقيني ډول ويلې شو، چې دالله (جل جلاله) دكتاب او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو او احاديثو، خدمت او تشريح ديو مسلمان عالم عزت او وقار زياتوي، په دې هكله صحابه كرامو رضي الله عنهم او تابعين او د دين نورو وروستني ايمة الهدی دیادونې وړ دي.

امام ابو حنيفه(رحمه الله) يو د دوی د جملې څخه دی چې د دين داصلي دواړو مصادرو(د قرآن او حديث) څخه يې دالله تعالى(جل جلاله) په نصرت او خپلو مشائخو او استاذانو، په همکارۍ يو منظم قانون برابر کړی دی، چې په کې د دين ټولې برخې عقائد، عبادات، معاملات، جنايات وغيره شامل دي.

دامام ابو حنيفه(رحمه الله) دژوند په حالاتو او ترجمو کې ډيرې ليکنې شوي، په همدې جمله کې وروور ارشاد احمد هم زيار ايستلی دی او ښايسته معلومات يې راجمع کړي دي، دا ديو مذهبي تعصب په خاطر نه، ځکه چې متعصبين دين ته ډير لوی نقصان رسوي، بلکه دالله (جل جلاله) د رضا په خاطر چې دنيکانو

خلکو صفت دا سې بیانوي چې هغوئ وايي: ﴿ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ ﴾[1]

او ددی ليکنې څخه هم دا معلوميږي، څکه چې په دی کې د تابعينو مناقب او همدارنګه د نورو ائمة الهدى لکه امام مالک (رحمه الله)، امام شافعي (رحمه الله)، امام احمد بن حنبل (رحمه الله)، امام سفيان ثوري (رحمه الله)، يزيد بن هارون (رحمه الله) صفات او تراجم هم ذکر شوي دي او بل دا چې ټول معلومات په دی ليکنه کې په حوالې سره ذکر شوي دي.

زه د ليکوال لپاره د الله (جل جلاله) له دربار څخه د لوئ اجر غوښتنه کوم او الله (جل جلاله) دې نور توفيق هم ورکړي چې ښاسته معلومات را ټول او ښايسته ليکني وکړي.

والسلام على من اتبع الهدى

بنده محمد يوسف غفر الله له

---

[1] سُوْرَةُ الْحَشْر، آيت نمبر (١٠).

# تقريظ

## شيخ القرآن والحديث مولانا راز محمد «سراج» كامَوي حفظه الله

الحمْدُ لله الواحدِ القهّارِ ، العَزيزِ الغفّارِ ، مُكوِّرِ اللّيْلِ على النّهَارِ ، تذْكِرَةً لأولي القُلُوبِ والأبصَارِ ، وتَبْصرةً لِذَوي الألبَابِ والاعتِبَارِ ، الّذي أيقَظَ مِنْ خَلْقِهِ مَنِ اصطَفَاهُ فَزَهّدَهُمْ في هذهِ الدّارِ ، وشَغَلهُمْ بمُراقبَتِهِ وَإدَامَةِ الأفكارِ ، ومُلازَمَةِ الاتّعَاظِ والادّكَارِ ، ووَفّقَهُمْ للدّأبِ في طاعَتِهِ ، والتّأهُّبِ لِدَارِ القَرارِ ، والْحَذَرِ مِمّا يُسْخِطُهُ ويُوجِبُ دَارَ البَوَارِ ، والمُحافَظَةِ على ذلِكَ مَعَ تَغَايُرِ الأحْوَالِ والأطْوَارِ ،أحْمَدُهُ أبلَغَ حَمْدٍ وأزكَاهُ ، وَأشْمَلَهُ وأنْمَاهُ.

وأشْهَدُ أنْ لا إلَهَ إلا اللهُ البَرُّ الكَرِيمُ ، الرؤوفُ الرّحيمُ ، وأشهَدُ أنّ سَيّدَنا مُحمّداً عَبدُهُ ورَسُولُهُ ، وحبِيبُهُ وخليلُهُ ، الهَادِي إلى صِرَاطٍ مُستَقيمٍ ، والدّاعِي إلَى دِينٍ قَوِيمٍ ، صَلَوَاتُ اللهِ وسَلامُهُ عَليهِ ، وَعَلَى سَائِرِ النّبيّينَ ، وَآلِ كُلٍّ ، وسَائِرِ الصّالِحينَ.

أمابعد: فقد قال الله تعالى() ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ط اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ۝﴾[1] وقال الله تعالى: ﴿يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ۝﴾[2] وقال النبي صلى الله عليه وسلم ﴿ مَنْ يُرِدْ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ﴾[3] وقال النبي صلى الله عليه وسلم ﴿ خَيْرُ أُمَّتِي قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ﴾[4]

---

[1] سُوْرَةُ الزُّمَر. آيت نمبر (٩).

[2] سُوْرَةُ الْمُجَادِلَة. آيت نمبر (١١).

[3] صحيح البخاري(٧١).

[4] صحيح البخاري(٣٣٧٧)ومسند الصحابة في الكتب التسعة(٣٥.ج١٢٥ص).

وبعد:

مادغه رساله چې «إِرْشَادُ الدُّرَرِوَالْـمَرْجَانِ فِيْ مَنَاقِبِ الْإِمَامِ أَبِي حَنِيفَةَ النُّعْمَانِ» نوميږي، چې نن ستاسې دهريو ورور په لاس ده، په مكمل او صحيح ډول وليده، الحمد لله چې دخپل وس پورې يې ددغې رسالې حق پوره پوره اداء كړى، په هرشكل سره، هم يې ليكل ښكلي او هم يې عنوانونه ښكلي دي، يوه عجيبه خبره داده: چط هيڅ يو قول يې بې حوالې نه دى ذكر كړى، بلكې په دقيق ډول يې دهريو كتاب څخه اخذ كړى او د سند قوي كيدو لپاره يې دهغې كتاب عربي عبارت هم راخيستې، الله تبارك وتعالى دى ترې دغه سعيا او كوشش قبول كړي او دخپلې رضا سبب وګرځوي او الله تعالى دى دغه رسالې ته محبوبيت او مقبوليت نصيب كړي

**آمين**

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وآله وأصحابه أجمعين

**راز محمدسراج كاموي خادم علوم القرآن والحديث**

**بمسجد انس بن مالك (رضي الله عنه)**

**ننګرهار، كامه، فقيرآباد**

## لیکلړ

سریزه ........ ۱
اول فصل ........ ۴
د امام ابو حنیفه (رحمه الله) نسب ........ ۴
د امام ابو حنیفه (رحمه الله) د پیدا ئینت نیټه ........ ۵
دوهم فصل ........ ۶
د حنیف لفظ څېړنه ........ ۶
ده ته ولې ابو حنیفه وایي؟ ........ ۶
د حنیف معنیٰ د لغاتو په کتابونو کې ........ ۷
د حنیف معنی په تفاسیرو کې ........ ۸
د حنیف معنیٰ د احادیثو په شروحو کې ........ ۱۲
د حنیف د لفظ استعمال ........ ۱۷
دریم فصل ........ ۲۱
د امام ابو حنیفه (رحمه الله) پیدا ئینت او علمي ژوند ........ ۲۱
امام ابو حنیفه (رحمه الله) په کوم ځای کې پیدا شوی دی؟ ........ ۲۱
د امام ابو حنیفه (رحمه الله) علمي ژوند ........ ۲۱
د امام ابو حنیفه (رحمه الله) صورت او سیرت ........ ۳۰
د امام ابو حنیفه (رحمه الله) د خوشبوی استعمال ........ ۳۴
د امام ابو حنیفه (رحمه الله) د لباس قیمت ........ ۳۴

د امام ابو حنيفه (رحمه الله) سخي او تقوا ............ ۳۵
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) د مسئلې حل ............ ۴۰
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) لس خوبونه ............ ۴۱
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) د تدريس يوه واقعه ............ ۴۲
څلورم فصل ............ ۴۴
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) عبادت ............ ۴۴
يو څو مشهور واقعات يې دا دي ............ ۴۴
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په ماسخوتن اودس د سهار مونځ کول ............ ۴۴
امام ابو حنيفه (رحمه الله) په يو رکعت کې د قرآن ختم کول ............ ۴۶
امام ابو حنيفه (رحمه الله) سل ځله الله تعالی (جل جلاله) په خوب کې ليدلی ............ ۴۷
يو سوال او د هغې ځواب ............ ۴۸
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) عبادت په رمضان کې ............ ۵۱
هغه اشخاص چې د وتر په يو رکعت کې يې قرآن ختم کړی ............ ۵۲
پنځم فصل ............ ۵۹
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) سخي، عقلمندي او د الله تعالی (جل جلاله) څخه ويره ۵۹
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) اخلاق ............ ۵۹
هغه شاعر وايي ............ ۵۹
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) خرج په علماؤو ............ ۶۰
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) سخا او خرج په فقيرانو ............ ۶۱
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) د الله تعالی (جل جلاله) څخه ويره ............ ۶۱

د امام ابو حنيفه (رحمه الله) عقلمندي ........ ۶۴
شپږم فصل ........ ۶۵
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) فقه، د قضاء څخه انکار، د صحابو و (رضي الله عنهم) نه سماع او د هغې په اړه يو زيري ........ ۶۵
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) فقه او فقاهت ........ ۶۵
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) د قضاء څخه انکار او د هغې بندي کيدل ........ ۷۰
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په اړه يو زيری ........ ۷۱
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) د صحابه وو (رضي الله عنهم) نه سماع ........ ۷۲
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) تجارت ........ ۷۳
اووم فصل ........ ۷۴
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) ازمېښتونه او د هغې حوصله ........ ۷۴
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) لومړنی ازمېښت ........ ۷۴
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) دوهم ازمېښت ........ ۷۵
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) درېيم ازمېښت ........ ۷۹
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) څلورم ازمېښت ........ ۸۱
اتم فصل ........ ۸۳
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) استاذان او شاګردان ........ ۸۳
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) استاذان ........ ۸۳
د امام ابو حنيفه (رحمه الله) شاګردان ........ ۸۶

هغه خلک چې د امام ابوحنيفه (رحمه الله) نه يې فقه زده کړي ...... ۸۲
د امام ابوحنيفه (رحمه الله) شاګردان او د امام بخاري (رحمه الله) استاذان ...... ۸۷
د امام ابوحنيفه (رحمه الله) شاګردان او د صحيح الستة استاذان ...... ۸۸
نهم فصل ...... ۹۰
امام ابوحنيفه (رحمه الله) او علم الحديث ...... ۹۰
الف: د امام ابوحنيفه (رحمه الله) څخه نقل شوي احاديث ...... ۹۰
ب: د امام ابوحنيفه (رحمه الله) سند الحديث ...... ۹۲
ج: د امام ابوحنيفه (رحمه الله) په احاديثو کې ثقه توب ...... ۹۲
د: د امام ابوحنيفه (رحمه الله) د کم رواتو وجه ...... ۹۵
هـ: د امام ابوحنيفه (رحمه الله) په احاديثو کې احتياط ...... ۹۸
د امام ابوحنيفه (رحمه الله) جرح او تعديل ...... ۱۰۱
د امام ابوحنيفه (رحمه الله) د جرحې او تعديل يو څو مثالونه ...... ۱۰۱
د امام ابوحنيفه رحمه الله د ضعيف حديث په مقابل کې هم قياس پرېښودل ...... ۱۰۲
امام ابوحنيفه (رحمه الله) کوم وخت د قياس څخه کار اخيستلو ...... ۱۰۷
د امام ابوحنيفه (رحمه الله) محبت او خرچ په محدثينو ...... ۱۰۸
امام ابوحنيفه (رحمه الله) ته «سراج» امتي ويل ...... ۱۰۹
په امام ابوحنيفه (رحمه الله) باندې اعتراضونه ...... ۱۱۱
د امام ابوحنيفه (رحمه الله) ثقه والی ...... ۱۱۲
د امام ابوحنيفه (رحمه الله) يو څو لنډ نصيحتونه ...... ۱۱۴

لسم فصل...... ۱۲۱
د امام ابوحنیفه (رحمه الله) وفات...... ۱۲۱
د امام ابوحنیفه (رحمه الله) د وفات په اړه مختلف اقوال دي...... ۱۲۱
د امام ابوحنیفه (رحمه الله) د وفات نېټه...... ۱۲۲
امام ابوحنیفه (رحمه الله) ته غسل ورکوونکي...... ۱۲۲
د امام ابوحنیفه (رحمه الله) د غسل وروسته د حسن بن عمّاره وینا...... ۱۲۳
د امام ابوحنیفه (رحمه الله) د وفات خبر...... ۱۲۳
د امام ابوحنیفه (رحمه الله) د جنازې ورځ...... ۱۲۵
د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په باره یو آواز اوریدل...... ۱۲۶
د امام ابوحنیفه رحمه الله زیارت ته د امام شافعي رحمه الله ورتګ...... ۱۲۶
د امام ابوحنیفه (رحمه الله) یو څو صفات...... ۱۲۷
رباعي...... ۱۳۳
ماخذونه...... ۱۳۵

## سريزه

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَسَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا فَمَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

قال الله تعالی﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ ۝﴾[1]

وقال الله تعالی﴿يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۝﴾[2]

وقال النبي(صلی الله عليه وسلم) ﴿مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ﴾[3]

وقال النبي(صلی الله عليه وسلم) ﴿خَيْرُ أُمَّتِي قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ﴾[4]

**امابعد:**

لکه څنګه چې الله تبارک وتعالی علم، تفقه، عزت، اجتهاد، او تقوا هغه چاته ورکوي چې يې وغواړي، دا ديو چا په لاس نه دی غير د الله تعالی نه، که نه وي نو ډيرو جاهلانو، حاسدينو او متعصبينو به په هيڅا علم پيرزو نه

---

[1] سورت الزمر(۹).

[2] سورت المجادلة(۱۱).

[3] صحيح البخاري(۷۱، ۳۱۱۲، ۳۶۴۱، ۷۳۱۲، ۷۴۶۰).

[4] صحيح البخاري(۱ج۵۱۵ص)ومسلم(۲ج۳۰۹ص).

وو، خو دا هرڅه دالله تعالى په قدرت کې دي ځکه چې قدير دى امام ابو حنيفه(رحمه الله) هغه عالم، تقوه دار، امام، مجتهد، حيادار، مينه ناک، عبادت کوونکى، دالله تعالى نه ويريدونکې، سخي، بهادر، پرهيزګاراو يو ثقه عالم وو چې حيرانتيا ورته ده، ځکه النَضْرُبْنُ شُمَيْلٍ وايې«كَانَ النَّاسُ نِيَامًا عَنِ الْفِقْهِ حَتَّى أَيْقَظَهُمْ أَبُو حَنِيفَةَ بِمَا فَتَقَهُ »[1]

او أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ، وايې: «كَانَ النُّعْمَانُ بْنُ ثَابِتٍ أَفْقَهَ أَهْلِ زَمَانِهِ»[2]

نو ځکه امام شافعي(رحمه الله) د دې په مدحه کې فرمايې«النَّاسُ عِيَالٌ عَلَى أَبِي حَنِيفَةَ فِي الْفِقْهِ»[3]

يعنې خلک د امام ابو حنيفه(رحمه الله) اولاد دى په فقه کې، د امام شافعي(رحمه الله) په همدې قول بسنه کوو.

د امام ابو حنيفه(رحمه الله) په مناقبو کې په هره ژبه کې دومره کتابونه ليکلي چې سړى ورته حيران شي، همدغه مينه وه چې دوى اسلام مقدس دين ته ډير خدمت کړې اوزه يې هم مجبور کړم چې دغه رساله ترتيب او وليکم، چې

---

[1] مرقاة المفاتيح(۱ج۳۰ص).

[2] مناقب الامام ابي حنيفه(۱ج۲۹ص).

[3] المرقاة المفاتيح(۱ج۳۰ص)والخيرات الحسان للامام شهاب احمد بن حجر البيهقي الشافعي(ص۳۱)واحقاق الحق(۴ج۲۴۴ص)ومناقب الامام ابـي حنيفه وصاحبيه، شمس الدين الذهبي(۱ج۳۰ص)

ستاسې دګران وروړ په لاس ده، نوم مې ورته کېښود ﴿إِرْشَادُ الدُّرَرِ وَالْمَرْجَانِ فِيْ مَنَا قِبِ الْإِمَامِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ النُّعْمَانِ﴾.

زما د دغې رسالې دليکلو هدف يوازې دالله تعالى رضاء او دامام ابو حنيفه (رحمه الله) لنډه پېژندنه ده، اخرکې که په دغه رساله کې څه کمې يازياتې وي، نو دالله تعالى څخه راته ښنه او مغفرت وغواړی ځکه انسان ډېر کمزوری دی.

الله تعالى دې مونږ او تاسې ته په قرآن او حديث عمل رانصيب کړي

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

**ابو عبدالله**

**ارشاد احمد سراج کاموي**

**ننګرهار، جلال آباد، اتفاق جامع مسجد**

**پنجشنبه ۱۳۹٦/۴/۲۹**

# اول فصل

## دامام ابوحنيفه (رحمه الله) نسب

دامام ابوحنيفه (رحمه الله) د نسب په سلسله کې مختلف اقوال دي، خو کوم چې راجح او صحيح دي هغه دوه قوله دي

**اول قول:** د امام ابوحنيفه (رحمه الله) لمسی اسماعيل بن حماد بن ابي حنيفه (رحمه الله) وايي: دامام ابوحنيفه (رحمه الله) نوم نعمان د پلار نوم يې ثابت او د نيکه نوم يې هم نعمان وو، او د غور نيکه نوم يې المرزبان وو، او هغه د فارس په احرارو او آزادو کې وو، او قسم په الله تعالی چې کله هم په مونږ باندی غلامي تيره شوی نه ده، او نه زمونږ په نسب کې څوک د چا غلام پاتې شوی دی. (١)

**دوهم قول:** دده د بل لمسي عمر بن حماد بن ابي حنيفه (رحمه الله) څخه د خپل نيکه نسب داسې رانقل شوی دی.

دامام ابوحنيفه (رحمه الله) نوم نعمان د پلار نوم يې ثابت او د نيکه نوم يې زوطي دی او دزوطي پلار ماه نوميده، زوطي د افغانستان د موجوده دارالخلافې د کابل ښار او سيدونکی وو، او دا غلام د تيم الله بن بکر بن ثعلبه بن بکر بن وائل وو، بيا مسلمان شو او هغه بيا آزاد کړو، نو د دی وجې نه ديته زوطي

---

[1] مرقاة المفاتيح (١ج٧٨ص) چې لند عبارت يې دادی (ابنُ حَمَادِ بنِ أبِي حَنِيفَة (رحمه الله) - ذلکَ، وَقالَ: إنَ وَالِدَ ثابتٍ مِنْ أبْنَاءِ فارِسَ، وَأنّهُمْ أحْرَارٌ، وَاللهِ مَا وَقعَ عَلَيْنَا رِقّ قطّ) واحقاق الحق (۴ج١٠٢ص).

الفارسي التیمي ویلې شو، چې دا مولا د تیم الله د قبیلې نه وو، او ثابت پر اسلام باندې پیدا شوی وو. [1]

**دامام ابوحنیفه (رحمه الله) د پیدایښت نیټه**

امام ابوحنیفه (رحمه الله) په (۸۰هـ) کال کې پیدا شوی دی، لکه څنګه چې یې لمسي اسماعیل بن حماد فرمایي ﴿وُلِدَ جَدِّي سَنَةَ ثَمَانِينَ مِنَ الْهِجْرَةِ﴾ [2]
**ژباړه:** زما نیکه په (۸۰ هجري) کال کې پیدا شوی دی.

تم الفصل الاول بتوفیق الله تعالی

---

[1] مرقاة المفاتیح (۱ج ۲۹ص) الناشر دار الفکر بیروت لبنان مختصر عبارت یې دا دی (أَبُو حَنِيفَةَ النُّعْمَانُ بْنُ ثَابِتِ بْنِ زُوطَى بِضَمِّ الزَّايِ، وَفَتْحِ الطَّاءِ ابْنِ مَاهٍ مَوْلَى تَيْمِ اللهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ الْكُوفِيُّ أَنَّ ثَابِتًا وُلِدَ عَلَى الْإِسْلَامِ، وَزُوطَى كَانَ مَمْلُوكًا لِبَنِي تَيْمٍ فَأَعْتَقُوهُ فَصَارَ وَلَاؤُهُ لَهُمْ وفی مناقب الامام ابي حنیفه (قَالَ يَعْقُوبُ بْنُ شَيْبَةَ السَّدُوسِيُّ: أَبُو حَنِيفَةَ مَوْلَى لِبَنِي تَيْمِ اللهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ بْنِ بَكْرِ بْنِ وَائِلٍ وَقَالَ أَبُو خَازِمٍ عَبْدُ الْحَمِيدِ الْقَاضِي: سَأَلْتُ ابْنَ إِسْمَاعِيلَ بْنِ حَمَّادِ بْنِ أَبِي حَنِيفَةَ لِمَنْ وَلَاؤُكُمْ؟ فَقَالَ «سُبِيَ ثَابِتٌ أَبُو أَبِي حَنِيفَةَ مِنْ كَابُلَ، فَاشْتَرَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ بَنِي تَيْمِ اللهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ فَأَعْتَقَتْهُ» (ص. ۱۴، ۱۵).

[2] مرقاة المفاتیح (۱ج ۲۹ص) و عقود الجمان (ص، ۴۰).

## دوهم فصل

## دحنیف لفظ څېړنه

په دی فصل کې به دالله تعالی(ﷻ) په فضل دا ذکر کړو چې حنیف څه ته وايي؟او ولې امام ابوحنیفه(رحمه الله) ته ابوحنیفه وايي، همدارنګه ددی لفظ داستعمال ذکر دلغاتو په کتابونو کې، دتفسیر په کتابونو کې، داحادیثو په کتابونو کې او داسې نور...به انشاءالله په لنډول سره په دی فصل کې خلاصه کړم.

**ده ته ولې ابو حنیفه وايي؟**

**په دې کې یو څو اقوال دي:**

**اول قول:** داچې داهل عراقو په لغت کې حنیفه(دواة) یعني دسیاهۍ یا درنګ بوتل ته وايي او د(ابو)معنی ملازم دی نو معنی دا، چې وو امام ابوحنیفه(رحمه الله) ملازم دسیاهۍ بوتل سره، نتیجه داچې وونعمان ملازم دسیاهۍ سره، داځکه چې امام صاحب(رحمه الله) دعلمي وسائلوسره ډیر زیات تعلق لرلو، نو دهمدی وجهې په ابو حنیفه مشهور شوی دی. ([1])

**دوهم قول:** داچې دده دلور نوم حنیفه وو، معنی داچې پلار دحنیفه، یعنې دا دامام ابوحنیفه(رحمه الله) اسم کُنیه ده، لکن دا ډیرضعیف قول دی، ځکه چې دامام ابوحنیفه(رحمه الله) دحماد څخه ماسوی نور اولاد نه وو، په اتفاق دټولو

---

([1])عقود الجمان(ص، ۴۳)واحقاق الحق(۴ج۱۰۴ص).

اصحاب المناقب باندی.(۱) دنورو اقوالو لپاره ترجمة الامام ابي حنيفه(ص ۴۰)وګورئ.

**دحنيف معنیٰ دلغاتو په کتابونو کې**

﴿۱﴾په تاج العروس کې يې معنی دحنيف(کامل په اسلام). (۲)

﴿۲﴾په معجم اللغة العربية کې يې معنی(مائل ته وايي يعني خلک وايي چې فلانکې د شرنه خيرته مائل شو) او بله معنی يې دا کړی ده(متّبع لمذهب الإمام أبي حنيفة "كان حَنيفيّ المذهب"). (۳)

﴿۳﴾په لسان العرب کې يې معنی(مستقيم) ده. (۴)

﴿۴﴾په قاموس محيط کې دي: چې مراد ددی نه کامل الاسلام دی.(۵)

﴿۵﴾په تهذيب اللغة کې دي چې(څوک په دين ابراهيمي وي هغه حنيف دی.(۶)

---

(۱ )عقود الجمان(ص، ۴۳ )واحقاق الحق(۴ج۱۰۵ص).

(۲ )تاج العروس(۱ج۵۵ص).وفيه: الحُنَفاء جمع حنيف والمراد به الكامل الإسلام.

۳ معجم الغة العربية(۱ج۵۷۲ص) وفيه: حنَفَ عن يَحنِف، حَنْفًا، فهو حَنيف، والمفعول محنوف عنه صحيح الميل إلى الإسلام الثابت عليه. مستقيم منصرف عن الضلال متجه إلى الحقّ "(فأقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ) الدِّين الحنيف: المستقيم الذي لا عِوجَ فيه وهو الإسلام• حنَف الرَّجلُ عن الشيء: مال عنه "حنَف عن الشرّ إلى الخير- حنَف عن الطريق المستقيم".

۴ لسان العرب(۲۲ج۱۰۹ص).

۵ القاموس المحيط(۱ج۵۳ص).

۶ تهذيب اللغة(۵ج۷۱ص). وفيه: مَنْ كان على دين إبراهيمَ فهو حنيفٌ

**دحنيف معنى په تفا سيروكې**

﴿۱﴾ دحنيفه لفظ مؤنث دحنيف دى او معنى يې﴿المسلم المائل الى الدين الحنيف﴾ (١)

**ژباړه:** غاړه ايښودونكې او مايل دين حنيف ته

﴿۲﴾دابو طيب محمد صديق خان وايې﴿الحنيف المائل عن الأديان الباطلة إلى دين الحق﴾ (٢)

**ژباړه:** حنيف مائل دباطلو دينونو نه دين حق ته

﴿۳﴾ ځينې يې داسې معنى كوي﴿الحنف الإستقامة﴾ (٣)

**ژباړه:** يعنى داستقامت په معنى دى

﴿۴په تفسير ماتريدي كې معنى﴿قيل: الحنيف: المسلم وقيل: الحنيف: المائل إلى الحق والإسلام﴾ (٤)

**ژباړه:** ويلي شوي حنيف غاړه ايښودنكې او ويلې شوي چې حنيف مائل دحق او اسلام معنى وركوي

---

[1] احقاق الحق(۴ج۱۰۵ص).

[2] تفسير فتح البيان(۱ج۲۸۹ص).

([3])تفسير فتح البيان(۱ج۲۸۹ص)وتفسير قرطبي(۲ج۱۳۹ص).

([4])تفسير الماتريدي(۱ج۵۷۷ص).

﴿۵﴾ په تفسير روح المعاني کې يې معنى داسې ده: ﴿حَنِيفاً اي مستقيما او مائل عن الباطل إلى الحق﴾ (١)

ژباړه: حنيف مستقيم او مائل د باطل نه حق ته وايي.

﴿۶﴾ په تفسير قرطبي کې يې معنى داسې ده: ﴿"حَنِيفاً" مَائِلًا عَنِ الْأَدْيَانِ الْمَكْرُوهِ إِلَى الْحَقِّ دِينِ إِبْرَاهِيمَ﴾ (٢)

---

(١) تفسير روح المعاني(١ج٣٩١ص).

(٢) تفسير قرطبي(٢ج١٣٩ص) قالت أمُّ الأحْنَف

وَاللهِ لوْلا حَنَفٌ بِرِجْلِهِ... مَا كانَ فِي فِتْيَانِكُمْ مِنْ مِثْلِهِ

وَقَالَ الشَّاعِرُ:

إِذَا حَوَّلَ الظِّلُّ الْعَشِيَّ رَأَيْتَهُ... حَنِيفًا وَفِي قَرْنِ الضُّحَى يَتَنَصَّرُ

وفي تفسير ابن ابي خاتم(فأحَدُهَا:

١٢٩١ - حَدَّثَنَا أَبِي ثنا أَبُو صَالِحٍ- كَاتِبُ اللَّيْثِ- حَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: حَنِيفًا يَقُولُ: حَاجًّا. وَرُوِيَ عَنِ الْحَسَنِ، وَالضَّحَّاكِ، وَعَطِيَّةَ، وَالسُّدِّيِّ نَحْوُ ذَلِكَ. الْوَجْهُ الثَّانِي:

١٢٩٢ - حَدَّثَنَا أَبِي ثنا قَبِيصَةُ وَعِيسَى بْنُ جَعْفَرٍ قَالا: ثنا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ: حَنِيفًا قَالَ: مُتَّبِعًا. وَرُوِيَ عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ أَنَسٍ نَحْوُ ذَلِكَ. الْوَجْهُ الثَّالِثُ

١٢٩٣ - حَدَّثَنَا أَبِي ثنا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الْحَكَمِ ثنا عُثْمَانُ بْنُ صَالِحٍ ثنا ابْنُ لَهِيعَةَ عَنْ أَبِي صَخْرٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ: حَنِيفًا قَالَ: الْحَنِيفُ الْمُسْتَقِيمُ. قَالَ أَبُو صَخْرٍ: عَنْ عِيسَى بْنِ جَارِيَةَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ مِثْلَهُ. الْوَجْهُ الرَّابِعُ:

١٢٩٤ - حَدَّثَنَا الأَحْمَسِيُّ ثنا أَبُو يَحْيَى الْحِمَّانِيُّ عَنْ أَبِي قُتَيْبَةَ الْبَصْرِيِّ- هُوَ نُعَيْمُ بْنُ ثَابِتٍ- عَنْ أَبِي قِلابَةَ فِي قَوْلِهِ: حَنِيفًا قَالَ: الْحَنِيفُ الَّذِي يُؤْمِنُ بِالرُّسُلِ كُلِّهِمْ مِنْ أَوَّلِهِمْ إِلَى آخِرِهِمْ. الْوَجْهُ الْخَامِسُ:

ژباړه: حنيف مائل د ټولو اديانو (۱) مكروهه څخه حق دين ته وايي.

﴿۷﴾په تفسير ابن كثير كې يې معنى داسې ده: ﴿أي: مُستقيمًا﴾ (۲)

---

۱۲۹۵ - حَدَّثَنَا أَبِي ثنا النُّفَيْلِيُّ ثنا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ خُصَيْفٍ فِي قَوْلِهِ حَنِيفًا قَالَ الْحَنِيفُ الْمُخْلِصُ الْوَجْهُ السَّادِسُ

۱۲۹۶ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمَّارٍ ثنا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الدَّشْتَكِيُّ أنبأ أَبُو جَعْفَرٍ عَنِ الرَّبِيعِ عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ قَالَ الْحَنِيفُ الَّذِي يَسْتَقْبِلُ الْبَيْتَ بِصَلاتِهِ، وَيَرَى أَنَّ حَجَّهُ عَلَيْهِ إِنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلا. الْوَجْهُ السَّابِعُ

۱۲۹۷ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى ثنا الْعَبَّاسُ ثنا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ ثنا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ «۱» قَالَ الْحَنِيفِيَّةُ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلا اللَّهُ يَدْخُلُ فِيهَا تَحْرِيمُ الأُمَّهَاتِ وَالْبَنَاتِ وَالْخَالاتِ، وَالْعَمَّاتِ، وَمَا حَرَّمَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ، وَالْخِتَانُ وَكَانَتْ حَنِيفَةً فِي الشِّرْكِ

«۱»انظر تفسير عبد الرزاق ۱/ ۷۹تفسير ابي خاتم(۱ج۲۴۲ص)وابن كثير(۱ج۴۴۸ص)

[1] اديان جمع د دين ده او دينونو ته وايي.

[2] تفسير ابن كثير(۱ج۴۴۸ص) وَقَالَ خُصَيْفٌ عَنْ مُجَاهِدٍ: مُخْلِصًا. وَرَوَى عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَلْحَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: حَاجًّا. وَكَذَا رُوِيَ عَنِ الْحَسَنِ وَالضَّحَّاكِ وَعَطِيَّةَ، وَالسُّدِّيِّ.

وَقَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ: الْحَنِيفُ الَّذِي يَسْتَقْبِلُ الْبَيْتَ بِصَلَاتِهِ، وَيَرَى أَنَّ حَجَّهُ عَلَيْهِ إِنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا.

وَقَالَ مُجَاهِدٌ، وَالرَّبِيعُ بْنُ أَنَسٍ: حَنِيفًا، أَيْ: مُتَّبِعًا. وَقَالَ أَبُو قِلَابَةَ: الْحَنِيفُ الَّذِي يُؤْمِنُ بِالرُّسُلِ كُلِّهِمْ مِنْ أَوَّلِهِمْ إِلَى آخِرِهِمْ.

وَقَالَ قَتَادَةُ: الْحَنِيفِيَّةُ: شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ يَدْخُلُ فِيهَا تَحْرِيمُ الْأُمَّهَاتِ وَالْبَنَاتِ وَالْخَالَاتِ وَالْعَمَّاتِ وَمَا حَرَّمَ اللَّهُ، عَزَّ وَجَلَّ وَالْخِتَانُ.

[2] صفوة التفاسير(۱ج۸۵)وفيه: والحنفُ الميل وبه سمي الأحنف لميلٍ في إحدى قدميه قال الشاعر:

ولكـنا خُلقنا إذ خُلقنا حـنيفاً ديننا عن كل دين

صفوة التفاسير(۱ج۸۵ص)وكشاف(۱ج۱۹۴ص)وتفسير زمخشري(۱ج۱۳۸ص)

﴿٨﴾په صفوة التفاسير کې يې معنى داسې ده: ﴿الحنيف: المائل عن الدين الباطل إلى الدين الحق﴾ (١)

﴿٩﴾په نظم الدُرر کې يې معنى داسې ده: ﴿حنيفاً: أيليناً هشاً سهلاً قابلاً للاستقامة مائلاً مع داعي الحق﴾ (٢)

**ژباړه:** حنيف نرموالي، آسانوالي، استقامت، او داعي دحق ته وايي.

﴿١٠﴾ په تفسير سعدي کې يې معنى داسې ده: ﴿أي: مقبلا على الله، معرضا عما سواه، قائما بالتوحيد، تاركا للشرك والتنديد﴾ (٣)

**ژباړه:** اعراض کونکې دسواه دينونو او قائم په توحيد او ترک کونکې دشرک.

﴿١١﴾ په تفسير طبري کې يې معنى داسې ده: ﴿حج البيت﴾ (٤)

﴿١٢﴾په مفاتيح الغيب(تفسير کبير)کې يې معنى داسې ده: ﴿أَنَّ الْحَنِيفَ هُوَ الْمُسْتَقِيمُ ، أَنَّ الْحَنِيفَ الْمَائِلُ﴾ (٥)

---

[2] نظم الدرر(٢ج١٨٥ص).

[3] تفسير سعدي(١ج٢٧ص).

[4] تفسير طبري(٣ج١٠٤ص)وفيه: حدثني محمد بن عبادة الأسدي قال: حدثنا عبد الله بن موسى قال: أخبرنا فضيل، عن عطية في قوله "حنيفا" قال الحنيف الحاج
وابن أبي حاتم(٢ج٥٢ص) وتاريخ بغداد((٨ج٢٧ص).

[5] مفاتيح الغيب(٤ج٧١ص).

﴿۱۳﴾په محاسن التاويل كې يې معنى داسې ده: ﴿حَنِيفاً أي مستقيما أو مائلا عن الباطل إلى الحق﴾ ([1])

﴿۱۴﴾په تفسير كشاف كې يې معنى داسې ده: ﴿المائل عن كل دين باطل إلى دين الحق﴾([2])

﴿۱۵﴾تپه تفسير فتح القدير كې يې معنى داسې ده: ﴿الْحَنِيفُ: الْمُسْتَقِيمُ﴾([3]).

﴿۱۲﴾ په تفسير بيضاوي كې يې معنى داسې ده: ﴿حَنِيفاً مائلاً عن الباطل إلى الحق﴾([4])

﴿۱۷﴾په تفسير زاد المسير كې يې معنى داسې ده: ﴿أنه المائل إلى العبادة﴾([5])

**ژباړه:** مائل عبادت ته وايي.

---

[1] محاسن التاويل(۱ج۴۰۲ص)وفيه: فالحنيف المستقيم على إسلامه لله تعالى، المائل عن الشرك إلى دين الله سبحانه(۱ج۴۰۷ص).

[2] كشاف(۱ج۱۹۴ص).

[3] فتح القدير(۱ج۱۷۳ص)وفيه: وأخرج أيضا خُصَيْف قالَ: الْحَنِيفُ الْمُخْلِصُ وَأَخْرَجَ أَيْضًا عَنْ أَبِي قِلَابَةَ قَالَ: الْحَنِيفُ الَّذِي يُؤْمِنُ بِالرُّسُلِ كُلِّهِمْ مِنْ أَوَّلِهِمْ إِلَى آخِرِهِمْ وَأَخْرَجَ أَحْمَدُ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بُعِثْتُ بِالْحَنِيفِيَّةِ السَّمْحَةِ. وَأَخْرَجَ أَحْمَدُ أَيْضًا. وَالْبُخَارِيُّ فِي الْأَدَبِ الْمُفْرَدِ، وَابْنُ الْمُنْذِرِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَيُّ الْأَدْيَانِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ؟ قَالَ: الْحَنِيفِيَّةُ السَّمْحَةُ. وَأَخْرَجَ الْحَاكِمُ فِي تَارِيخِهِ، وَابْنُ عَسَاكِرَ مِنْ حَدِيثِ أَسْعَدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَالِكٍ الْخُزَاعِيِّ مَرْفُوعًا مِثْلَهُ

[4] تفسير البيضاوي(۱ج۱۰۸ص).

[5] تفسيرزاد المسير(۱ج۱۱۲ص).

﴿۱۸﴾په تفسيربحرالمحيط کې يې معنى داسې ده: ﴿الْحَنَفُ الاسْتِقَامَةُ﴾ ([1])

﴿۱۹﴾په بحرالعلوم سمرقندي کې معنى داسې ده: ﴿حنيفا، أي مخلصاً، وقال القتبي: حنيفاً أي مستقيماً﴾([2])

**ژباړه: مخلص او مستقيم ته وايي.**

﴿۲۰﴾په تفسير ابن کثير کې يې معنى داسې ده: ﴿حَنِيفاً أَيْ مُسْتَقِيمًا﴾([3])

﴿۲۱﴾په روح البيان کې يې معنى داسې ده: ﴿حَنِيفاً اى مائلا عن كل دين باطل الى دين الحق﴾([4])

﴿۲۲﴾په الموسوعة القرآنيه کې يې معنى داسې ده: ﴿حَنِيفاً أي مائلا عن الأديان المكروهة الى الحق﴾([5])

﴿۲۳﴾په تفسير مظهري کې يې معنى داسې ده: ﴿حَنِيفاً أصله من الحنف بمعنى الميل عن الطريق يعنى مائلا من الأديان كلها الى الإسلام منصوب على الحال من المضاف اى ملة مائلة من الباطل﴾([6])

---

[1] تفسير بحرالمحيط(۱ج۲۳۴ص)وفيه: وَسُمِّيَ الْأَحْنَفُ عَلَى سَبِيلِ التَّفَاؤُلِ، كَمَا سُمِّيَ اللَّدِيغُ سَلِيمًا. وَقَالَ الْقَفَّالُ: الْحَنَفُ لَقَبٌ لِمَنْ دَانَ بِالْإِسْلَامِ كَسَائِرِ أَلْقَابِ الدِّيَانَاتِ. وَقَالَ عُمَرُ: حَمِدْتُ اللَّهَ حِينَ هَدَى فُؤَادِي... إِلَى الإِسلامِ والدِينِ الحنيفي.

[2] بحرالعلوم سمرقندي(۱ج۹۲ص).

[3] تفسيرابن كثير(۱ج۳۲۱ص) وَقَالَ قَتَادَةُ: الْحَنِيفِيَّةُ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، يَدْخُلُ فِيهَا تَحْرِيمُ الْأُمَّهَاتِ وَالْبَنَاتِ وَالْخَالَاتِ وَالْعَمَّاتِ وَمَا حَرَّمَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَالْخِتَانُ.

[4] روح البيان(۱ج۲۴۱ص).

[5] الموسوعة القرآنية(۹ج۱۱۹ص).

[6] تفسير المظهري(۱ج۱۳۵ص).

﴿۲۴﴾ په تفسیر ابي سعود کې يې معنی داسې ده: ﴿حَنِيفاً: اي مائلاً عن الباطل إلى الحق﴾[1]

﴿۲۵﴾په تفسیر جلالین کې يې معنی داسې ده: ﴿مَائِلًا عَنْ الْأَدْيَان كُلّهَا إلَى الدِّين الْقَيِّم﴾[2]

﴿۲۶﴾په تفسیر الدرالمنثور کې دي[3]

﴿۲۷﴾ په تفسیر نسفي کې دي ﴿الحنيف المائل عن كل دين باطل إلى دين الحق﴾[4]

﴿۲۸﴾په تفسیر المیسر کې دي﴿الذي مال عن كل دين باطل إلى دين الحق﴾[5]

﴿۲۹﴾تپه ایسر التفاسیر کې دي﴿مستقيماً على دين الله موحداً فيه لا يشرك بالله شيئاً﴾[6]

﴿۳۰﴾په تفسیر زمخشري کې دي﴿الحنيف : المائل عن كل دين باطل إلى دين الحق﴾[7]

---

[1] تفسیر ابي سعود(اج۲۲اص).
[2] تفسیر جلالین(اج۲۸ص).
[3] تفسیر الدرالمنثور(اج۳۳۷ص)
[4] تفسیر نسفي(اج۱۳۳ص).
[5] تفسیر المیسر(اج۲۱ص).
[6] ایسر التفاسیر(اج۱۲۰ص).
[7] تفسیر زمخشري(اج۱۳۸ص).

﴿۳۱﴾په تفسير الماوردي کې دي[1]

﴿۳۲﴾په تفسير کبير کې دي﴿أن الحنيف هو المستقيم﴾[2]

﴿۳۳﴾په المنتخب کې يې معنى داسې ده: ﴿نقية طاهرة﴾[3]

ژباړه: سوچه او پاک ته وايي.

﴿۳۴﴾په الدر المصون کې يې معنى داسې ده: ﴿الاستقامةُ﴾[4]

﴿۳۵﴾په محاسن التاويل کې يې معنى داسې ده: ﴿حَنِيفاً أي مستقيما أو مائلا عن الباطل إلى الحق﴾[5]

---

[1] تفسير الماوردي(۱ج۹۷ص)وأما الحنيف ، ففيه أربعة تأويلات:
أحدها: أنه المخلص ، وهو قول السدي.
والثاني: أنه المتّبع ، وهو قول مجاهد .
والثالث: الحاج ، وهو قول ابن عباس ، والحسن.
والرابع: المستقيم.
وقال ابن عبدالسلام{ حَنِيفا } مخلصاً ، أو متبعاً ، أو حاجا ، أو مستقيماً ، أخذ الحنيف ، من الميل ، رجل أحنف: مالت كل واحدة من قدميه إلى الأخرى ، سمى به إبراهيم ، لأنه مال إلى الإسلام أو أخذ من الاستقامة ، وقيل للرجل أحنف تفاؤلاً بالاستقامة . وتطيراً من الميل . كالسليم للديغ ، والمفازة للمهلكة.

[2] تفسير كبير(۲ج۳۷۰ص).

[3] المنتخب(۱ج۲۹ص).

[4] الدر المصون(۲۲۳۷ص).

[5] محاسن التاويل(۱ج۴۰۲ص).

﴿۳۶﴾ په تفسير واضح کې يې معنى داسې ده: ﴿الحنيفة القائمة على الجادة بلا انحراف ولا نزاع﴾([1])

ژباړه: قائم ولاړ بغير د انحراف او جنګ نه

﴿۳۷﴾ په تسهيل فى علوم التنزيل کې دي ﴿شهادة﴾([2])

﴿۳۸﴾ په تفسير مراغي کې دي ﴿الحنيف: المائل﴾([3])

﴿۳۹﴾ په تفسير خازن کې دي ﴿الحنيف المائل عن الأديان كلها إلى دين الإسلام﴾([4])

﴿۴۰﴾ شيخ عبدالسلام وايې چې ﴿مستقيم دحق دين، او پرېخودونکې دباطل دين﴾([5])

(تلك الاربعون كاملة)

**دحنيف معنى داحاديثوپه شروحوکې**

(۱) په مرقات کې معنى ﴿حَنِيفٍ: أيْ: مَائِلِينَ عَنِ الْبَاطِلِ إِلَى الْحَقِّ﴾.([6])

ژباړه: مائل د باطل نه حق ته.

---

[1] تفسير الواضح(۱ج۷۷ص).

[2] تسيهيل فى علوم التنزيل(۱ج۹۹ص).

[3] تفسير مراغي(۱ج۲۲۳ص).

[4] تفسير خازن(۱ج۸۴ص).

[5] تفسير احسن الكلام(۱ج۲۲ص).

[6] مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح(۲ج۲۴۴۹ص).

(٢) په عمدة القاري کې يې معنی ﴿حنيف وهو المائل عن الضـلال إلى الهدايـة﴾ يعنې مائل د ضلالت نه هدايت ته.

### دحنيف دلفظ استعمال

د حنيف لفظ په کتابونو کې چې ځو مره راغلی هغه کتابونه دا دي:

- په قرآن کريم کې ﴿١٠﴾واری راغلې دی.
- په صحيح البخاري کې ﴿١٩﴾ واری.
- په صحيح المسلم کې ﴿١٧﴾ واری.
- په جامع الترمذي کې ﴿١٢﴾واری.
- په سنن أبي داود کې ﴿١٩﴾واری.
- په سنن ابن ماجه کې ﴿١٢﴾واری.
- په سنن النسائي کې ﴿١٣﴾واری.
- په سنن الدارقطني کې ﴿١٣﴾واری.
- په سنن الدارمي کې ﴿١١﴾واری.
- په سنن النسائي الکبری ﴿٢٩﴾واری.
- په صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان کې ﴿١٢﴾واری.

---

[١] عمدة القاري شرح صحيح البخاري(٢ج٢٧٧ص).

- په الموطاء امام مالک کې ﴿۳﴾واری.
- په صحيح ابن خزيمة کې﴿۱۰﴾واری.
- په شرح معاني الآثار کې ﴿۱۹﴾واری.
- په سنن البيهقي الكبرى کې﴿۵۵﴾واری.
- په شعب الإيمان کې﴿۱۲﴾واری.
- په مسند الإمام أحمد بن حنبل کې﴿۴۱﴾واری.
- په شرح السنة کې ﴿۱۲﴾واری.
- په مشکاة المصابيح کې﴿۲﴾واری.
- په عمدة القاري شرح صحيح البخاري کې﴿۲۴﴾واری.
- په فتح الباري شرح صحيح البخاري کې ﴿۵۴﴾واری.
- په تفسير فتح البيان کې﴿۲﴾واری.
- په فتحُ البيان في مقاصد القرآن کې﴿۸﴾واری.
- په تفسير طبري کې﴿۱۲﴾واری.
- په تفسير القرآن العظيم لابن أبي حاتم﴿۲﴾واری.
- په تفسيرابن كثير کې﴿۲۱﴾واری.
- په نظم الدرر في تناسب الآيات والسور کې﴿۵﴾واری.
- په تفسير الطبري(جامع البيان عن تأويل آي القرآن) کې ﴿۱۳﴾واری.

- په مفاتيح الغيب(التفسير الكبير) کې ﴿۴﴾واری.
- په الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل کې﴿۴﴾واری.
- په فتح القدير کې ﴿۱۴﴾واری.
- په زاد المسير في علم التفسير کې ﴿۲﴾واری.
- په التسهيل لعلوم التنزيل کې﴿۳﴾واری.
- په البحر المحيط في التفسير کې﴿۲﴾واری.
- په بحر العلوم(تفسير سمرقندي) کې﴿۳﴾واری.
- په غرائب القرآن ورغائب الفرقان کې﴿۵﴾واری.
- په التفسير الحديث کې ﴿۵﴾واری.
- په تفسير المراغي کې﴿۳﴾واری.
- په التفسير المظهري کې﴿۱۲﴾واری.
- په تفسير السراج المنير کې ﴿۳﴾واری.
- په تفسير الدر المنثور کې﴿۲۳﴾واری.
- په تفسير القرآن الحكيم(تفسير المنار) کې ﴿۳﴾واری.
- په تفسير أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن کې﴿۳﴾واری.
- په تفسير ابن تيمية کې﴿۱﴾واری.
- په تفسير روح المعاني -الألوسي کې﴿۸﴾واری.

دا چې ابوحنيفه ورته وايي ددې په باره کې علماء فرمايي چې نو ددی وجې څخه ورته وايي چې دا داسلام مقدس دين نه قربان، قايم ولاړ په حق،

مستقیم په اسلام، مخلص وو، مجاهد وو، سوچه پاک وو، استقامت والا وو، قایم ولاړ وو په دین وغیر.......... ، فَتَدَبَّرْ.

«والله اعلم»

تمّ الفصل الثاني بتوفيق الله تعالى

## دریم فصل

## دامام ابوحنیفه (رحمه الله) پیدایښت او علمي ژوند

### امام ابوحنیفه (رحمه الله) په کوم ځای کې پیداشوی دی؟

امام ابوحنیفه (رحمه الله) د راجح او صحیح روایت په بناء، دهغه وخت دعراق په دارالحکومت کوفې ښار کې، چې په دې وخت کې عبدالمالک بن مروان اموي خلیفه وو، او حجاج بن یوسف ثقفي دعراق والي وو، دې فاني نړۍ ته یې سترګې پرانستې.(1)

### دامام ابوحنیفه (رحمه الله) علمي ژوند

امام ابوحنیفه (رحمه الله) په کوفه کې دیوې دینداري، بډاې او سخي کورنۍ غېږه کې وروزل شو. د دوی د کورني ژوند له حالاتو نه داسې معلومیږي، چې دی دخپلې مور او مور او پلار یواځینې ځوی وو، پلاریې دبزازۍ دنده درلوده، او په هغه دوکان چې په کوفه کې یې درلود بزازي کوله، امام ابوحنیفه (رحمه الله) په کوچنې والي کې یې قرآن کریم حفظ کړ، اودعمر په دغه پړاوکې د درس حلقوته تللو، او دخپل پلار سره به نور په دوکان کې و، تر هغه چې دده او (شعبي) ترمنځ ملاقات وشو، او همدغه ملاقات دامام په ژوند کې دستر خیر پیلامه وه.

1 مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي(المتوفى: ٧٤٨هـ)(ج١ص٣).

ابو محمد الحارثي له امام ابو حنيفه (رحمه الله) څخه نقل کوي چې ويې فرمايل: يوه ورځ د شعبي له څنګه تېر شوم، زه يې ځانته وغوښتلم او ويې ويل چېرته ځې؟ ومې ويل د فلاني څنګ ته ځم، ويې ويل زما مطلب نه دی، په علماؤ کې له چا سره تګ راتګ لرې؟ زه د هغوئ تر څنګ ډېر لږ ورځم او يې ويل: داسې مه کوه اد علم حاصلولو او علماؤ سره ناستې ولاړې ته پام لرنه وکړه، ځکه زه ستا په وجود کې خاصه بيداري او تحرک وينم

امام ابو حنيفه (رحمه الله) وايي: چې د هغه جناب خبرې پر ما سخته اغيزه وکړه، او له هغې ورځې وروسته مې بازار ته تګ راتګ بند کړ، او د علم حصول ته مې ملا وتړله، په دی توګه الله تعالی د هغه د نصيحت له کبله ماته ډېره ګټه ورسوله[1]

۲-کله چې امام ابو حنيفه (رحمه الله) شپاړس کلن شو، پلار يې د الله جل جلاله کور، حج او مسجد النبوي (ﷺ) زيارت ته له ځان سره بوته، امام کردري (رحمه الله) په (مناقب الامام ابو حنيفه) چې د ده خپل تصنيف دی د امام ابو حنيفه رحمه الله له شاګرد د امام ابو يوسف رحمه الله څخه روايت کوي چې وايي: له امام ابو حنيفه (رحمه الله) نه مې واوريدل چې ويل يې: «وَحَجَجْتُ مَعَ أَبِي سَنَةَ سِتٍّ وَتِسْعِينَ، وَأَنَا ابْنُ سِتَّ عَشْرَةَ سَنَةً، فَلَمَّا دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ، وَرَأَيْتُ حَلَقَةً، فَقُلْتُ لِأَبِي: حَلَقَةُ مَنْ هَذِهِ؟ فَقَالَ: حَلَقَةُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَرْثِ بْنِ جَزْءٍ صَاحِبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ

[1] د امام ابو حنيفه دژوند پلوشې (ص، ۴)

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَدِمْتُ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «مَنْ تَفَقَّهَ فِي دِينِ اللَّهِ كَفَاهُ اللَّهُ مَهَمَّهُ وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ»([1]) .

**زباړه:** له خپل پلار سره مې په کال(۹۶)هجري قمري کې هغه وخت چې زه شپاړس کلن ووم، دحج فريضه سرته ورسوله، هلته مې وليدل چې خلک ديوه سړي شاوخوا ته راټول شوي دي، له پلارنه مې وپوښتل چې دا څوک دی؟ويې ويل: دا درسول الله صلی الله عليه وسلم له اصحابو رضي الله عنهم څخه دی، نوم يې عبدالله بن الحارث الزبيدي(ﷺ)دی، ومې ويل چې ورسره څه دي؟وويل: هغه حديثونه ورسره دي چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه يې اوريدلي دي، ومې ويل: چې ماورته نږدې کړه ! پلار مې ورانديې ولاړ او لاره يې ماته پرانستله تر هغه چې زه ورته نږدې شوم، او له هغه نه مې درسول الله صلی الله عليه وسلم دا حديث واوريد(«مَنْ تَفَقَّهَ فِي دِينِ اللَّهِ كَفَاهُ اللَّهُ مَهَمَّهُ وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ»

[1] مسند أبي حنيفة رواية الحصكفي المؤلف: أبو حنيفة النعمان بن ثابت بن زوطي بن ماه(المتوفى: ۱۵۰هـ) تحقيق: عبد الرحمن حسن محمود الناشر: الآداب - مصروحاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح(ص، ۱۱) المؤلف: أحمد بن محمد بن إسماعيل الطحطاوي الحنفي - توفي۱۲۳۱هـ المحقق: محمد عبد العزيز الخالدي الناشر: دار الكتب العلمية بيروت -لبنان الطبعة: الطبعة الأولى ۱۴۱۸هـ-۱۹۹۷م وتاريخ بغداد(۱۱ج۲۲۷ص)تاريخ بغداد أو مدينة السلام تأليف الامام الحافظ أبي بكر أحمد بن علي الخطيب البغدادي المتوفى ۴۶۳ دار الكتب العلمية بيروت–لبنان والجواهر المضية في طبقات الحنفية(ص، ۲۹) وشرح مسند أبي حنيفة(۱ج۵۸۵ص) المؤلف: علي بن(سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاري(المتوفى: ۱۰۱۴هـ) الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت - لبنان

ژباړه: څوک چې د الله (ﷻ) په دين کې فقاهت حاصل کړي الله (ﷻ) يې له هغه تشويشونو څخه ساتي چې دی خپل ځانته مشغولوي او له داسې ځای نه رزق ورکوي چې ګمان يې هم پرې نه کيږي

لکه څنګه چې الله (ﷻ) د تقوا دارو په باره کې فرمايي ﴿وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ۚ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمْرِهٖ ۚ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ۝﴾[1]

ژباړه: او روزي به ورکوي ده ته، د داسې ځای نه، چې دا به ګمان نه کوي، او چاچې ځان وسپاره په الله تعالی (ﷻ) باندې، نو هغه (الله ته) پوره دی ده لره، يقيناً الله تعالی (ﷻ) پوره کوونکې دی خپل کار لره، يقيناً جوړ کړې دی الله تعالی (ﷻ) د پاره د هرشي خاص انداز.

۳- هغه لومړنې علم چې امام ابوحنيفه (رحمه الله) ورته خاصه پاملرنه وکړه، د اصول الدين علم او د الحاد او ضلالت له خاوندانو سره مناقشه او بحث وه. امام ابوحنيفه (رحمه الله) له او ويشت (۲۷) ځلو څخه زيات بصرې ښار ته ولاړ او هلته يې د دين د دښمنانو او ګمراهانو سره بحث او مناقشه وکړه، او شبهات چې د اسلامي شريعت په ضد خپاره شوي وو، لرې کړل، او هغه تهمتونه چې ملحدينو او ګمراهانو د اسلام مقدس دين پورې تړلې وو لرې کړل.

[1] سورت الطلاق: ۳

یو ځل له جهم بن صفوان سره مناقشې ته کیناست، او هغه ته یې ماتې ورکړه، له ملحدینو سره یې مناقشه وکړه، هغوی یې د حق قبلولو او د اسلامي شریعت پر حقانیت باندې په اعتراف کولو اړ ویستل، لکه چې له خوارجو او معتزله وو سره یې مناظره وکړه او هغوي یې ملزمُ کړل، او شیعه افراطیانو سره یې مناظره وکړه او هغوي ته یې قناعت ورکړ.

امام ابوحنیفه(رحمه الله) په دې ډول علم الکلام او اصول الدین علوموته توجه وکړه، بې لارو او ګمراهانو سره په مناظره کولو سره د شهرت لوړې پوړۍ ته ورسید، ذهغه کسانو په صف کې ودرید چې د ګوتو په شمیر دي، هغه هم په داسې حال کې چې عمر یې له شلو کلو نه وو اووښتې، امام ابوحنیفه(رحمه الله) په د غه وخت کې د کوفې په جوماتو کې یوه تدریسي حلقه جوړه کړې وه، چې د نوموړي علومو(د اصول الدین، علم الکلام)زده کوونکې به یې شاوخوا ته تولیدل([1])

۴-د الله(جل جلاله) کړنه داسې وه چې له امام ابوحنیفه(رحمه الله)نه خلکو ته خیر کثیر او هر اړهیزه ګټه ورسیږي، هماغه وو چې د فقهي علومو ته یې مخه وکړه، لکه چې تول پوهیږي، فقهي علوم خپل نور له کتاب الله او نبوي سنتو څخه را اخلي، ځکه په فقه کې د قرآن کریم د ایاتونو دلالت او معانیو معرفت او مقاصد پراته دي، ځکه فقه د دین پوهیدلو په معنا ده او یو څوک هغه وخت

---

[1] د امام ابوحنیفه د ژوند پلوشې(ص، ۷)

د دين په معنا پوهيږي، چې د دين په اصولو، مقاصدو، حالاتو، دلالتونو او اشارو پوه شي.

له معاويه رضي الله عنه څخه روايت دې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ﴿مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ﴾[1]

ژباړه: چاته چې الله (ﷻ) خير وغواړي، هغه د دين عالم ګرځوي.

ډېر څله داسې کېږي چې د قرآن حافظ يو آيات لولي او يو محدث يو حديث لولي، مګر دواړه د نوموړي نصوصو په بشپړه معنا باندې نه پوهيږي، تر هغه چې يو تن فقيه راځي او د ذکرشوو نصوصو معنا او مفهوم څيړي او بحث پرې کوي، لکه چې روايت دی يوه ورځ امام ابوحنيفه رحمه الله د خپل شيخ (اعمش) ليدنې ته تللې وو، په دې وخت کې يو سړې راغې او له اعمش رحمه الله نه يې د يوې دينې مسئلې په اړه پوښتنه وکړه، اعمش رحمه الله امام ابوحنيفه رحمه الله ته وويل: ځواب ورکړه؟ امام ابوحنيفه رحمه الله ورته ځواب وويل، اعمش رحمه الله وپوښتل چې دا ځواب دی له څه شي له مخې ورکړ، امام ابوحنيفه رحمه الله ورته وويل: د هغه حديث له مخې چې تا ماته روايت کړ، اعمش رحمه الله وويل: همدغه درته کافي دی، هغه څه چې ما درته د يو کال په موده کې درزده کړي ته په يو ساعت کې نوروته ور زده

[1] صحيح البخاري (۱ج ۱۲۲ص) وصحيح مسلم (۱۷۱۹) وسنن ابن ماجه (۲۲۱) وصحيح ابن حبان (۸۹) ومسند الصحابة في الكتب التسعة (۲ج ۲۲۴ص) وسنن الترمذي (۲۶۴۵).

کوي اؤ دايي ورته وويل چې تاسې طبيبان يې او مونږ دوا پلورونکي(دوا خرڅوونکي) يو.

داچې امام ابوحنيفه له علم الکلام نه فقهي علوموته مخه کړی امام زفر رحمه الله ددی کار علت داسې بيانوي، له امام ابوحنيفه رحمه الله نه مې واوريدل، چې ويل يې: په علم الکلام کې مې دومره تجربه ترلاسه کړه چې په خپل وخت کې مې خپل مثال نه ليده او زمونږ حلقه دحماد بن سليمان د درس حلقې سره وه، يوه ورځ يې ښځه ماته راغله او ويې ويل: يو سړی غواړي خپلې ښځې ته په مسنونه طريقه طلاق ورکړي، څو طلاقه بايد ورکړي؟ ما هغه ښځې ته دستور ورکړ چې حماد رحمه الله ته لاړه شي، او دهغه نه دی پوښتنه وکړي، او بيا ماته راشي او له موضوع نه مې خبر کړي، هغه ښځه لاړه او له حماد نه يې پوښتنه وکړه، حماد ورته په ځواب کې وويل: ميړه يې په داسې حال کې چې ښځه له حيضه پاکه وي او ميړه يې ورسره جماع نه وي کړي، يو طلاق ورکوي او بيا هغه پرېږدي، له لومړي حيض نه وروسته دوه حيضه نور پرې تير شي، چې ټول درې حيضه کيږي او چې کله له دی درې حيضونه پاکه شوه او غسل يې وکړ، ميړه يې کولای شي چې نکاح ورسره وکړي، کله چې نوموړې ښځې له حماد نه دا ځواب واوريده، ماته راغله او زه يې له موضوع نه خبر کړم، ما وويل: زه نور علم ته ضرورت نه لرم، خپلې پنې مې واخيستلې او لاړم دحماد څنګ کې کيناستم او دهغه فقهي مسائلو ته مې توجه پيل کړه، دهغه ويناوې مې په يادو يادی او حفظ کړی، هر کله به يې چې مسائل بيانول. ټول به مې حفظ کړل، او چې کله به يې سبا رانه

پوښتنه وکړه مابه یاد کړي وو، او یو یو مسئله به مې ورته اورولـه او نـورو شاګردانو څخه به یې چې پوښتنه وکـړه، نـو هغـوئ بـه ورتـه غلط ځوابونـه ويل، بلآخره حماد وويل: دمجلس په صدر کې ماتـه مخامخ لـه ابو حنيفـه نـه بل څوک نشي کيناستلای، دنومورړي پيښې څخه وروستـه ، امـام ابو حنيفـه رحمه الله دخپل درس لپاره کاملاً ځان فارغ کړ، دی دعلم په زده کړه کې هغـه حد تـه ورسـيد چـې نـه يـوازې دخپـل ادب او قـوي ذهـن لـه مخـې لـه خپلـو همدرسانو نه مخکې شو، بلکې له‌هغه کسانو نه هم مخکې شو چې ددی نـه مخکـې وو، دامـام ابوحنيفـه رحمـه الله قـوي حافظـه داسـتاد داعتمـاد وړ وګرځيـده، او دايې د درس دحلقې پـه صـدر کې کيناوه، دده احتـرام او ادب داستاد پـه وړاندی دتعجب وړ او حيرانوونکې وو، ځکه کله به چې داستاد کورته تلو، نو ترهغه وختـه بـه د دروازې شاته ناست وو، چـې استاد بـه يـې دمانځه او يا کـوم ضـروري کـار لپـاره لـه کـوره ووت، نـو هغـه وخت بـه بيرتـه روان شو، اوکله به يې چې استاد ته ضرورت پيدا کيده، نو دا بـه حاضـر وو، د ډير ادب به يې خپلې پښې داستاد دکور خواته نه غځولې، او چې هرکله به يې لمونځ کاوه خپل استاد او دهغه مور او پلار ته به يـې دعـاء کولـه، پـه دی توګـه امـام ابو حنيفـه رحمـه الله اتلس(۱۸)کالـه دخپـل استاد پـه خدمت او مجلس کې تير کړل، او دهغـه دعلـم او ناسـتې نـه مستفيد شـو، تـر هغـې چې استاد يې وفات شو.

إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ

دحماد رحمه الله له وفات څخه وروسته د امام ابو حنیفه رحمه الله یاران پر دې متفق شول، چې هغه د استاد په ګدۍ کینوي، او تدریس ستره وظیفه او درونده مسؤلیت ورو سپاري

أبو شیخ بن حیان اصفحان محدثینو په طبقاتو کې له((عاتکه د حماد رحمه الله خور))نه روایت کوي چې ویلي یې دي: نعمان زمونږ کور ملازمت غوره کړی وو، زمونږ مالوچ به یې نداقي کول، زمونږ د ضرورت وړ سبزي او شیدې به یې له بازاره پیرل، لنډه دا چې زمونږ د کور کارونه به یې تول سرته رسول، او چې کله به څوک د کومې مسئلې د پوښتنې لپاره راته، نو ورته ویل به یې: ستا مسئله څه ده؟ نو هغه سړي به خپله مسئله بیان کړه، امام به ویل: ځواب یې داسې دی، او بیا به یې ویل: یوه شېبه صبر وکړه او بیا به حماد رحمه الله تلو، ورته ویل به یې: یو سړی راغلی داسې او داسې پوښتنې کوي او ما دا سې داسې ځوابونه ورکړي، تاسې څه وایې: حماد رحمه الله به ویل: مونږ ته یې د غسې حدیث روایت او زمونږ اصحابو داسې ویلي دي او ابراهیم دغسې ویلي دي، امام ابوحنیفه به ویل: زه له تاسې نه روایت وکړم؟حماد به ویل: هو !!او بیا به امام ابوحنیفه رحمه الله ویل: او په روایت کې به یې ویل چې حماد داسې ویلي دي: موفق(مکي)له محمد بن الحسن بن ابي شیبة نه روایت کړی دی، چې ویې ویل: له امام ابوحنیفه رحمه الله څخه مې واورید ل چې ویل به یې: له هغې ورځې نه چې حماد رحمه الله وفات شوی دی، داسې لمونځ مې نه په یادېږي چې له هغه وروسته مې حماد رحمه الله او خپل مور او پلار ته مې دعاء نه وي کړي او هغوئ ته مې د الله تعالی

څخه د بخښنې او مغفرت سوالونه نه ویې کړي، او زه هر هغه چاته چې ماترې څه زده کړي او یا مې چاته څه ښودلې وي، زه ورته د مغفرت او بخښنې غوښتنه کوم

همدارنګه له هغه نه روایت شوې دی چې ویې ویل: ما هیڅکله د حماد د کور په لورې پښې ونه غځولې، ځکه چې هغه ته مې احترام درلود او د هغه په تعظیم قایل وم، زما او د هغه د کور په منځ کې فاصله(۷) اووه کوڅې وې

**دامام ابوحنیفه(رحمه الله)صورت او سیرت**

﴿۱﴾امام ابو یوسف(رحمه الله) وایي چې امام ابو حنیفه(رحمه الله) په رجالو کې د درمیانه قد واله وو، نه ډیر اوږد او نه ډیر لنډوو، او په انسانانوو کې د ډیر ښایسته صورت خاوند وو، او په خبرو کې د ډیر زیات بلاغت او فصاحت خاوند وو، او په خپلو بیاناتو کې د ډیر زیات پوره کمال خاوند وو، او د ډیر خوږ اواز خاوند وو، او د خپل مقصد او مراد ډیرزیات او ښه وضاحت کونکې وو، او په مجلس کې د ډیر زیات وقار خاوند وو([1])

﴿۲﴾ایوب بن یوسف(رحمه الله) وایي: چې ما د نضربن محمد نه اوریدلي ویل به یې:(چې امام ابو حنیفه(رحمه الله)د ښایسته مخ خاوند وو)([2])

---

[1] احقاق الحق(۴ج۱۰۸ص).

[2] مناقب الامام ابي حنيفه وصاحبيه(۱ج۱۲ص)عبارت یې دادی: حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ سَهْلٍ التِّرْمِذِيُّ، ثنا الْقَاسِمُ بْنُ غَسَّانَ الْقَاضِي، ثنا أَبِي، أنا جَدِّي أَبُو غَسَّانَ أَيُّوبُ بْنُ يُوسُفَ، سَمِعَ النَّضْرَ بْنَ مُحَمَّدٍ، يَقُولُ: «كَانَ أَبُو حَنِيفَةَ جَمِيلَ الْوَجْهِ».

﴿٣﴾ابو نعیم فضل بن دکین(رحمه الله) وایي«كَانَ أَبُو حَنِيفَةَ حَسَنَ الْوَجْهِ وَاللِّحْيَةِ حَسَنَ الثِّيَابِ»([1])

**ژباړه:** امام ابوحنیفه(رحمه الله)د ښایسته مخ، ګیرې، او د ښایسته جامو خاوند وو.

﴿٤﴾شریک(رحمه الله)وایي«كَانَ أَبُو حَنِيفَةَ طَوِيلَ الصَّمْتِ دَائِمَ الْفِكْرِ، كَبِيرَ الْعَقْلِ، قَلِيلَ الْمُحَادَثَةِ لِلنَّاسِ»([2])

**ژباړه:** امام ابوحنیفه(رحمه الله)د لوی چپتیا، د همیشه فکر، د لوی عقل خاوند او د خلکو سره یې لږې خبرې کولې.

﴿٥﴾لوین(رحمه الله)وایي: چې ما اورېدلي د محمد بن جابر نه ویل به یې «كَانَ أَبُو حَنِيفَةَ قَلِيلَ الْكَلَامِ إِلَا بِمَا يُسْأَلُ عَنْهُ، قَلِيلَ الضَّحِكِ كَثِيرَ الْفِكْرِ»([3])

**ژباړه:** امام ابوحنیفه(رحمه الله)لږې خبرې کولې مګر کله چې به ترې پوښتنه وشوه، لږ خندیدونکې او ډیر فکر کونکې وو.

﴿٦﴾فضل بن دکین(رحمه الله) وایي: چې امام ابوحنیفه(رحمه الله) د ښاسته پښو او پیزار خاوند او ډیر زیات هیبت ناک وو.([4])

---

[1] مناقب الامام ابي حنيفه(١ج١٥ص).
[2] مناقب الامام ابي حنيفه(١ج١٧ص).
[3] مناقب الامام ابي حنيفه(١ج١٩ص).
[4] احقاق الحق(۴ج١٠٨ص).

﴿۷﴾عبد الله بن مبارک(رحمه الله)فرمايي«كَانَ أَبو حَنِيفَةَ حَسَنَ الْوَجْهِ وَاللِّحْيَةِ حَسَنَ الثِّيَابِ»([1])

ژباړه: چې امام ابو حنيفه(رحمه الله)دښایسته مخ، دښایسته ږیرې او دښایسته جامو او لباس خاوند وو.

﴿۸﴾عبد الله بن مبارک(رحمه الله)فرمايي«كَانَ أَبو حَنِيفَةَ حَسَنَ الْبَدَنِ وَحَسَنَ الْوَجْهِ وَحَسَنَ الثِّيَابِ»([2])

ژباړه: دښایسته بدن او شکل، دښایسته مخ، دښایسته لباس او جامو خاوند وو.

﴿۹﴾یزید بن هارون(رحمه الله)وایي «لَمْ أَرَ أَعْقَلَ، وَلا أَفْضَلَ، وَلا أَوْرَعَ مِنْ أَبِي حَنِيفَةَ»([3])

ژباړه: ما نه دی لیدلی ډیر عقلمند، نه ډیر افضل، او نه هوښیار دامام ابو حنیفه(رحمه الله)څخه

﴿۱۰﴾قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ(رحمه الله): كَانَ أَبو حَنِيفَةَ(رحمه الله) آيَةً فَقِيلَ لَهُ: فِي الْخَيْرِ أَمْ فِي الشَّرِّ؟ قَالَ: اسْكُتْ يَا هَذَا؟ فَإِنَّهُ يُقَالُ: إِنَّهُ آيَةٌ فِي الْخَيْرِ، وَغَايَةٌ فِي الشَّرِّ، ثُمَّ تَلَا: ﴿وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً...﴾(المؤمنون: ۵۰)([1])

---

[1] عقود الجمان(ص، ۴۴-۵۰).

[2] مناقب الامام ابي حنيفه(۱ج۱۵ص).

[3] مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(ص، ۴۲).

**ژباړه:** ابن مبارک(رحمه الله) وويل چې امام ابو حنيفه(رحمه الله) يوه نښه نښانه وه، يو چا وويل چې د خير او که د شر؟ نو چپ شو(خفګان نه) بيا يې وويل، يقيناً يوه د خير نښه نښانه وه او شر ختمونکې وو، او بيا يې د دغه مبارک آيات ولوستلو ﴿وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً.... ۝﴾[2]

**ژباړه:** او ګرځولي وو مونږ ځوئ د مريم او مور د هغه نښه

﴿۱۱﴾عَبْدُ الحَمِيدِ الحِمَّانِيُّ(رحمه الله) وايي«مَا رَأَيْتُ أَفْضَلَ مِنْ أَبِي حَنِيفَةَ(رحمه الله) دِينًا، وَوَرَعًا»[3]

**ژباړه:** ما د ابو حنيفه(رحمه الله) نه، په دين او هوښيارتيا کې افضل نه دی ليدلی

﴿۱۲﴾عبد الله ابن مبارک(رحمه الله) وايي«أَحْسَنَ النَّاسِ مَنْطِقًا »[4]

**ژباړه:** په خلکو کې ډير ښايسته خبرې کونکې وو.

---

[1] مرقاة الـمفاتيح(۱ج۳۰ص)وفي مناقب الامام ابي حنيفه(رحمه الله)فيه إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَبْدِ اللهِ المَرْوَزِيُّ الخَلالُ، سَمِعْتُ ابْنَ المُبَارَكِ، يَقُولُ «كَانَ أَبُو حَنِيفَةَ آيَةً. وَقَالَ حِبَّانُ بْنُ مُوسَى: سُئِلَ ابْنُ المُبَارَكِ ؛ أَمَالِكٌ أَفْقَهُ أَمْ أَبُو حَنِيفَةَ؟ ، فَقَالَ: أَبُو حَنِيفَةَ ؛

[2] سورت الـمؤمنون(۵۰).

[3] مناقب الامام ابي حنيفه(۱ج۴۲ص).

[4] مرقاة الـمفاتيح(۱ج۳۰ص).

## د امام ابوحنيفه (رحمه الله) دخوشبوئ استعمال

حماد بن ابي حنيفه(رحمهما الله)وايي چې امام ابو حنيفه(رحمه الله) به د زيات عطرو استعمال کولو او د خوشبوۍ په استعمال کې يې شهرت لرو. کله چې به کورته راتلو او يا به تلو مخکې د دينه چې چا به ليدلې وې، د ده خوشبوي به يې محسوس کوله، او د خوشبونه به پيژندل کيده يعني ﴿طَيِّبَ الرِّيحِ، يُعْرَفُ بِرِيحِ الطِّيبِ إِذَا أَقْبَلَ﴾[1]

## دامام ابوحنيفه (رحمه الله)د لباس قيمت

﴿۱﴾ ابو مطيع(رحمه الله)وايي چې امام ابوحنيفه(رحمه الله)باندې مې د جمعې مبارکې په ورځ يو ځادر او يو قميص وليدلو، چې د دواړو قيمت څلور سوه درهمه وو.[2]

﴿۲﴾قَالَ عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُغِيرَةِ الْكُوفِيُّ بِمِصْرَ: سَمِعْتُ أَبِي، يَقُولُ: " رَأَيْتُ شَيْخًا فِي مَسْجِدِ الْكُوفَةِ يُفْتِي النَّاسَ وَعَلَيْهِ قَلَنْسُوَةٌ طَوِيلَةٌ، فَقُلْتُ مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: أَبُو حَنِيفَةَ(رحمه الله) "[3]

**ژباړه:** علي ځوئ د عبدالرحمن ځوئ د محمد ځوئ د مغيره کوفي وايي چې ما د خپل پلار څخه واوريدل چې ويل به يې: ما وليدو شيخ په مسجد کوفه کې چې فتوه به يې ورکوله خلکوته، او په سر باندې يې اوږده خولۍ وه، نو ما وويل چې دا څوک دی؟هغه وويل ابو حنيفه(رحمه الله).

---

[1] مرقاة المفاتيح(۱ج۷۸ص).

[2] مرقاة المفاتيح(۱ج۷۸ص)واحقاق الحق(۴ج۹‌۱۰ص)وعقود الجمان(ص. ۲۴۱).

[3] مناقب الامام ابي حنيفه(۱ج۱۲ص).

**دامام ابوحنيفه (رحمه الله) سخي او تقوا**

﴿۱﴾ سخا خو يې معلومه ده، ځکه چې تجار وو. لکه څنګه چې سعيد بن منصور وايې چې د فضل بن عياض نه مې اوريدلي هغه به ويل، چې امام ابوحنيفه (رحمه الله) په سخا کې معروف او شهرت يې لرلو، هر څوک به چې ورته راغې يو څه به يې ورکول.[1]

[1] تاريخ بغداد (۱۳ج ۳۴۰ص) وفي مرقاة (۱ج ۳۰ص) كانَ أبُو حَنِيفَة (رحمه الله) قَدْ جَعَلَ عَلَى نَفْسِهِ أنْ لا يَحْلِفَ بِاللهِ فِي عَرْضِ كَلامِهِ إلا تَصَدَّقَ بِدِرْهَمٍ، فَحَلَفَ فَتَصَدَّقَ بِهِ، ثُمَّ جَعَلَ إنْ حَلَفَ أنْ يَتَصَدَّقَ بِدِينَارٍ، فَكَانَ إذَا حَلَفَ صَادِقًا فِي عَرْضِ كَلامِهِ تَصَدَّقَ بِدِينَارٍ، وَكَانَ إذَا أنْفَقَ عَلَى عِيَالِهِ نَفَقَةً تَصَدَّقَ بِمِثْلِهَا، وَكَانَ إذَا اكْتَسَى ثَوْبًا جَدِيدًا كَسَى بِقَدْرِ ثَمَنِهِ الشُّيُوخَ مِنَ العُلَمَاءِ، وَكَانَ إذَا وُضِعَ بَيْنَ يَدَيْهِ الطَّعَامُ أخَذَ مِنْهُ ضِعْفَ مَا يَأْكُلُهُ فَيَجْعَلُهُ عَلَى الخُبْزِ، ثُمَّ يُعْطِيهِ الفَقِيرَ، وَوَهَبَ لِمُعَلِّمِ ابْنِهِ حَمَّادٍ خَمْسَمِائَةِ دِرْهَمٍ لَمَّا خَتَمَ وَجَاءَتْهُ امْرَأةٌ تَشْتَرِي مِنْهُ ثَوْبَ خَزٍّ فَأخْرَجَ لَهَا ثَوْبًا فَقَالَتْ إنَّهَا ضَعِيفَةٌ، وَإنَّهَا أمَانَةٌ فَبِعْنِيهِ بِمَا يَقُومُ عَلَيْكَ، فَقَالَ خُذِيهِ بِأرْبَعَةِ دَرَاهِمَ، فَقَالَتْ لا تَسْخَرْ بِي، وَأنَا عَجُوزٌ كَبِيرَةٌ، فَقَالَ إنِّي اشْتَرَيْتُ ثَوْبَيْنِ فَبِعْتُ أحَدَهُمَا بِرَأسِ المَالِ إلا أرْبَعَةَ دَرَاهِمَ. فَبَقِيَ هَذَا بِأرْبَعَةِ دَرَاهِمَ وفي مناقب الامام ابي حنيفة (۱ج ۱۲ص) والحَلْوَانِيُّ، قُلْتُ لأبِي عَاصِمٍ النَّبِيلِ: أبُو حَنِيفَةَ أفْقَهُ أوْ سُفْيَانُ؟ فَقَالَ: أبُو حَنِيفَةَ (رحمه الله). حُسَيْنٌ الجُعْفِيُّ. سَمِعْتُ زَائِدَةَ بْنَ قُدَامَةَ، يَقُولُ «النُّعْمَانُ بْنُ ثَابِتٍ فَقِيهُ البَدَنِ لَمْ يَعْدُ مَا أدْرَكَ عَلَيْهِ أهْلُ الكُوفَةِ» قَالَ: قَالَ ابْنُ المُبَارَكِ (رحمه الله): إنْ كَانَ الاحْتِيَاجُ إلَى الرَّأيِ فَهُوَ أسَدُّهُمْ رَأيًا، وَعَنِ ابْنِ المُبَارَكِ. قَالَ: لَوْلا أنَّ اللهَ قَدْ أدْرَكَنِي بِأبِي حَنِيفَةَ (رحمه الله) وَسُفْيَانَ (رحمه الله) لَكُنْتُ بِدْعِيًّا. إسْحَاقُ بْنُ بُهْلُولٍ، سَمِعْتُ ابْنَ عُيَيْنَةَ، يَقُولُ: «مَا مَقَلَتْ عَيْنِي مِثْلَ أبِي حَنِيفَةَ (رحمه الله)» إسْحَاقُ بْنُ بُهْلُولٍ. سَمِعْتُ ابْنَ عُيَيْنَةَ، يَقُولُ «مَا مَقَلَتْ عَيْنِي مِثْلَ أبِي حَنِيفَةَ (رحمه الله)».

﴿۲﴾مشهور محدث يزيد بن هارون(رحمه الله) وايي چې ما د زر شيوخ وليدل او احاديث مې ترينه وليکل ليکن دامام ابوحنيفه(رحمه الله) نه مې لوئ فقيه. لوئ پرهيزګار او لوئ عالم ونه ليدلو.(١)

﴿۳﴾خطيب بغدادي(رحمه الله) په ﴿تاريخ بغداد﴾ کې او موافق الخوارزمي(رحمه الله) په ﴿مناقب ابي حنيفه﴾کې اوشيخ عبدالفتاح ابوغده(رحمه الله) په﴿دعلم تلاش﴾ نومي کتاب کې چې تقريظ پرې شيخ القرآن والحديث ابوزاهد محمد سرفراز خان صفدر صاحب(رحمه الله) کړی، په هغې کې دي، قاضي ابويوسف يعقوب بن ابراهيم الکوفي البغدادي(رحمه الله) د امام ابوحنيفه(رحمه الله) شاګرد ولادت(۱۱۳هـ)وفات(۱۸۲هـ)په حالاتو کې ليکي دي، چې امام ابويوسف(رحمه الله) فرمايلي دي چې ما به حديث او دفقه علم حاصلولو او زه ډير زيات غريب وم، يوه ورځ زه دامام ابوحنيفه(رحمه الله) په مجلس کې ناست وم، او زما پلار راغي او زه دپلار سره بيرته لاړم، زما پلار ما ته وويل، ځويه ادامام ابوحنيفه(رحمه الله) سره ځان مه يوشان کوه، ځکه چې دامام ابوحنيفه(رحمه الله)سره درزق فکر نيشته، او ته درزق محتاجه يې، ما دپلار حکم ومنلو، او نور علم حاصلول مې پريښودل، امام ابوحنيفه(رحمه الله) چې زه ډيرې ورځې د مجلس نه غير حاضر وليدم. نو

---

(١) تذکرة الحافظ(١ج١٩٥ص) وقال يَحْيَى بْنُ أَبِي طَالِبٍ، سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ عَاصِمٍ، يَقُولُ: «لَوْ وُزِنَ عِلْمُ أَبِي حَنِيفَةَ(رحمه الله) بِعِلْمِ أَهْلِ زَمَانِهِ لَرَجَحَ» مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه المؤلف: شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايْماز الذهبي(المتوفى: ٧٤٨هـ)(١ج٣٢ص).

زما په باره کې يې پوښتنه وکړه، نو ما بيا د هغه مجلس ته راتلل شروع کړل، دغير حاضرۍ نه وروسته چې کله بيا د هغه مجلس ته حاضر شوم، نو هغه زمانه پوښتنه وکړه چې ته ولې زما په مجلس کې نه حاضريدې؟ما ورته وويل: چې درزق تلاش او پلار حکم منلو له امله، زه د هغه په مجلس کې کيناستم او چې کله ټول خلک لاړل، نو هغه ماته يوه تهيلۍ (کڅوړه) راکړه او ويې فرمايل: چې په دې باندې خپل کار وکړه، ما په تهيلۍ کې وکتل په هغې کې سل(۱۰۰) درهمه وو، هغې ماته دا هم وويل چې درس ته په پابندۍ سره راځه، چې کله دا ختمې شوې نو ما ته بيا وو ايه، ما په پابندۍ سره راتلل شروع کړل، څو ورځې وروسته هغه ماته يوه بله تهيلۍ راکړه، او ماته به يې دغه شان هروخت تهيلۍ راکولې، تردې پورې چې د هغې نه فارغ شوم او زه مالدار شوم، زه د هغه مجلس کې(۱۷يا ۲۹) کاله ووم، او زه خپل حاجته پورې هلته وسيدم، الله تعالی(ﷻ) په ما باندې د هغه په برکت او ښه نيت په وجه باندې دعلم او مال هغه دروازې خلاصې کړې، کومې چې الله تعالی(ﷻ) خلاصوي، الله تعالی(ﷻ) دې زما د طرف نه ښه بدله ورکړي، او الله تعالی(ﷻ) دې، د هغه مغفرت وکړي. ([1])

﴿۴﴾خطيب بغدادي(رحمه الله) په﴿تاريخ بغداد﴾ کې او شيخ ابوغده(رحمه الله) په ﴿علم تلاش﴾کې نقل کړي دي چې د امام ابو يوسف(رحمه الله) پلار وفات شو او

---

[1] دعلم تلاش(ص، ۲۰۳)مصنف شيخ عبدالفتاح ابوغده(رحمه الله)پښتو مترجم ابونويد ناشرسعيديه کتب خانه صدف پلازه محله جنگي پشاور.

امام ابویوسف(رحمه الله)ماشوم پاتې شو، دهغه مور ته دا خوښ نه وو چې هغه دامام ابوحنیفه(رحمه الله)په مجلس کې حاضر شي، حسن ابي بکر دا سې بیاز کړی، او حسن محمد النقاش وئیلي دي، چې ماته محمد بن عبدالرحمن السامي وئیلي دي، هغه ته بهراةخبر ورکړی دی چې ماته علي الجعد ویلي دي، چې ماته یعقوب بن ابراهیم ابویوسف القاضي(رحمه الله) وئیلي دي، چې زما پلار ابراهیم بن حبیب(رحمه الله)وفات شو، او زه وړوکې دمور په غیږ کې پاتې شوم، زما مور زه دهوبي ته حواله کړم، چې زه دهغه خدمت وکړم، نو ما دوهوبي پرېښودو او امام ابوحنیفه(رحمه الله)درس ته لاړم، او هلته به مې دهغه درس اورېدلو، زما مور به ماپسې هلته راغله او زه به یې دلاس نه ونیولم او بیرته به یې دوهوبي ته بوتلم، امام ابوحنیفه(رحمه الله)دا خبره زما دحاضرۍ او شوق په وجه محسوس کړه، کله چې زما بار بار راتښتیدل او دمور راتلل دحد نه زیات شول، زما مور امام ابوحنیفه(رحمه الله)ته وویل: چې ذدی ماشوم دخرابولو ذمه وار ته یې؟دا یتیم ماشوم دی، دده هیڅ نیشته، زه وړۍ وشتلو سره دا ساتم، زه غواړم چې دا کم ازکم(لږترلږه) یودانق(د درهم شپږمه حصه)خو وګټي، چې هغه یې په خپل ځان باندی خرچ او مصرف کړي، امام ابوحنیفه(رحمه الله)هغه ته وویل: که دا چیرته دغه شان علم حاصل کړي لکه څنګه چې ورسره مینه لري، نو دا به د روغني پستې سره فالوده خوري، زما مور دهغه ځای نه بیرته روانه شوه او ورته یې وویل: چې ته بوډا شوې یې، ستا دماغ خراب دي، امام ابویوسف(رحمه الله)وایې: چې زه به دامام ابوحنیفه(رحمه الله)مجلس ته ضرور تلم او هغه به له ماسره

کومک او مرسته کوله، او زما چې به څه ضرورت وو، هغه به زما ضرورت پوره کولو، او هیڅ حاجت یې زما پرې نه خودو، بیا امام ابویوسف وایې: چې الله تعالی (ﷻ) ما ته د علم په وجه باندې ډېره فائده راورسوله، او زه یې دومره اوچت کړم چې ما ته یې د قضاء منصب راپه برخه کړه او زما ناسته پاسته د هارون الرشید سره شوه، او زما خوراک هم ورسره شروع شو، یوه ورځ هارون الرشید ته فالوده راوړې شوه، هارون الرشید وویل: ابویعقوبه خوره[1] دا زمونږ د پاره هم هره ورځ نه تیارېږي، امام ابویوسف (رحمه الله) وایې چې زه په خندا شوم، هغوی زما د خندا باره کې پوښتنه وکړه، نو ما وئیل چې الله تعالی (ﷻ) دې د امیرالمؤمنین عمر زیات کړي، څه خبره نیشته، نو هغه وویل چې ما ته به ضرور وایې، ما هغه ته پوره واقعه بیان کړه، کومه چې پر ما باندې تېره شوې وه، او امام ابوحنیفه (رحمه الله) ویلي وو چې دا به د روغني پستې سره پالوده خوري، نو هارون الرشید ډېر حیران شو، او ویې ویل: چې په الله تعالی (ﷻ) مې دې قسم وي، هر انسان لره علم وچتوي، او دین خلکو ته د دنیا او آخرت فائدې ورکوي، او بیا یې د امام ابوحنیفه (رحمه الله) د مغفرت د پاره دعاء وکړه، او دا یې وویل، چې هغه د عقل په سترګو باندې هغه څه وینې کوم چې د سر په سترګو باندې نشې لیدل کیدای.

---

[1] ابویعقوب د امام ابویوسف (رحمه الله) اسم کُنیه وه

علامه کوثري(رحمه الله) وايي: چې دامام ابويوسف(رحمه الله) د پلار واله واقعه صحيح ده، او د مور واله واقعه يې غلطه ده، ځکه چې دا دې په سند کې مشهور دروغجن(کذاب) حسن بن زياد النقاش دی، چې هغه په دروغو مشهور وو.[1]

دامام ابوحنيفه رحمه الله د تقوا، سخا، زُهد، شجاعت، اخلاق او عبادت او نور.. دا په تفصيل سره په عقود الجمان(۱۴۷څخه تر۲۵۲) پورې کتلې شئ.

**دامام ابوحنيفه(رحمه الله) د مسئلې حل**

امام ابوحنيفه(رحمه الله) به په هره مسئله کې سوچ او فکر کولو، لکه څنګه چې سعيد بن منصور(رحمه الله) وايي چې د فضيل بن عياض(رحمه الله) نه مې اوريدلي، هغه به ويل: چې امام ابوحنيفه(رحمه الله) ته به چې کله يوه مسئله د حلال او د حرام راغله، نو ډير زيات ښه، او په حقه سره جواب ورکوونکې وو، او جواب به يې د صحيح حديث څخه وو، او که نه به وو، بيا به يې د قول د صحابو، تابيعينو پيروي کوله، او که دا به هم نه وو، نو بيا به يې قياس کولو ښه خوندور قياس، او د بادشاهانو د تحفو څخه تښتيدونکې انسان وو.[2]

---

[1] دعلم تلاش(ص، ۲۰۴).

[2] تاريخ بغداد(۱۳ج۳۴۰ص)وتبيض الصحيفه لحافظ جلال الدين السيوطي(ص، ۱۲۳)وفی مناقب ابي حنيفه(۱ج۳۲ص) قال: نُعَيمُ بنُ حَمَّاد. سَمِعتُ أَبا عِصمَةَ وَهُوَ نُوحُ الجَامِعُ قالَ: سَمِعتُ أَبا حَنِيفَةَ، يَقُولُ: «مَا جَاءَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَعَلَى الرَّأسِ وَالعَينِ، وَمَا جَاءَ عَنِ

**دامام ابو حنیفه(رحمه الله) لس خویونه**

یو ځل معافي بن عمران الموصلي په خپله حلقه کې، درس ته ناست وو ، او د تعلیم او تعلم خبرې یې کولې، په دی دوران کې یې وویل، چې په امام ابو حنیفه(رحمه الله) کې لس داسې خویونه دي، که دهغې نه یوه خبره هم په چاکې وي ، نو هغه به دخپلې قبیلې رئیس او سردار وي.

﴿۱﴾پرهیز ګاري

﴿۲﴾رښتیا ویل

﴿۳﴾عفت(پاک دامني)

﴿۴﴾د خلکو په هر حالت کې خاطر کول

﴿۵﴾رښتونې محبت کول

﴿۶﴾په نفع مندو خبرو توجه کول

﴿۷﴾رښتوني خوبونه بیانول

﴿۸﴾صحیح او درستې خبرې کول

---

الصَّحَابَةِ اخْتَرْنَا، وَمَا كَانَ مِنْ غَيْرِ ذَلِكَ فَهُمْ رِجَالٌ وَنَحْنُ رِجَالٌ جَمَاعَةٌ، قالوا: قَالَ ابْنُ مَعِينٍ سَمِعْتُ عُبَيْدَ بْنَ أَبِي قُرَّةَ، سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ الضُّرَيْسِ، يَقُولُ: شَهِدْتُ الثَّوْرِيَّ وَأَتَاهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: مَا تَنْقِمُ عَلَى أَبِي حَنِيفَةَ قَالَ: وَمَالَهُ؟ قَالَ: سَمِعْتُهُ يَقُولُ: «آخُذُ بِكِتَابِ اللهِ، فَمَا لَمْ أَجِدْ فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللهِ وَالآثَارِ الصِّحَاحِ عَنْهُ الَّتِي فَشَتْ فِي أَيْدِي الثِّقَاتِ عَنِ الثِّقَاتِ، فَإِنْ لَمْ أَجِدْ، فَبِقَوْلِ أَصْحَابِهِ آخُذُ بِقَوْلِ مَنْ شِئْتُ، وَأَمَّا إِذَا انْتَهَى الأَمْرُ إِلَى إِبْرَاهِيمَ، وَالشَّعْبِيِّ، وَالْحَسَنِ، وَعَطَاءٍ، فَأَجْتَهِدُ كَمَا اجْتَهَدُوا» ، فَسَكَتَ سُفْيَانُ طَوِيلًا ، ثُمَّ قَالَ كَلِمَاتٍ مَا بَقِيَ أَحَدٌ فِي الْمَجْلِسِ إِلا كَتَبَهَا: نَسْمَعُ الشَّدِيدَ مِنَ الْحَدِيثِ فَنَخَافُهُ، وَنَسْمَعُ اللَّيِّنَ فَنَرْجُوهُ وَلا نُحَاسِبُ الأَحْيَاءَ، وَلا نَقْضِي عَلَى الأَمْوَاتِ نُسَلِّمُ مَا سَمِعْنَا وَنَكِلُ مَا لَمْ نَعْلَمْهُ إِلَى عَالِمِهِ، وَنَتَّهِمُ رَأْيَنَا لِرَأْيِهِمْ

﴿۹﴾هر وخت خاموش او سیدل.

﴿۱۰﴾د عاجزاو فقیرو خلکو مدد او مرسته کول.[۱]

**دامام ابوحنیفه (رحمه الله) دتدریس یوه واقعه**

دا یوه مشهوره واقعه ده، د مسعر بن کدام نه خطیب ابو محمد الحارثي او ابو عبد الله بن خسرو، یو روایت نقل کړې چې زه دامام ابوحنیفه (رحمه الله) دلیدلو او کتلو لپاره دهغوئ جومات ته لاړم، ما وکتل چې امام ابوحنیفه (رحمه الله) د سحر د لمونځ کولو نه وروسته خلکو ته د دین د تعلیم په ورکولو کې مشغول وو او د تعلیم په دې شغل کې تر ماسپخین پورې په یو مخ لګیا وو، بیا د لمانځه لپاره مجلس رخصت شو، او لمانځه نه پس تر مازیګره پورې، او مازیګرنه تر ماښامه پورې، او ماښام نه تر ماسخوتنه پورې، د درس دا مشغوله دغسې جاري روانه وه.

د تعلیم او تدریس دغې ګران او پرله پسې خدمت ته په لیدو ګوته په خوله شوم. امام ابوحنیفه (رحمه الله) دماسخوتن د مانځه وروسته کور ته لاړو، نو زه دې فکر واخیستم چې هر کله امام ابوحنیفه (رحمه الله) د تعلیم او تدریس په کار کې داسې مشغول دی، نو د کتابونو کتلو، اونفلي عباداتو او ثوابي کارونو ته به دا څنګه وزګاریږي، زه لا په دې فکر کې وم چې ګورم امام ابوحنیفه (رحمه الله) پاکې او صافې جامې اغوستي، عطر یې لګولي دي، چې جومات ته راننوتلو، اوښه دروند، سنګین، په کراره او استقامت سره په مسجد کې په مانځه باندې شروع شو، تردې پورې چې سبا راوختلو،

[۱] عقود الجمان لشیخ محمد بن یوسف الصالحي الدمشقي الشافعي(ص، ۲۳۸)والخیرات الحسان(ص، ۱۴۲)

دتولې شپې دعبادت نه چې فارغ شو، کورته لاړو، څه وخت وروسته بيا جومات ته راغې، جامې يې بدلې کړې وې، دسحر مونځ يې ادا کړو، نو بيا دنورو وختونو په شان يې هم هماغه تعليم او تدريس ته ملا وتړله، چې تر ماسخوتنه پورې دغسې مشغول وو، ما په زړه کې وويل چې پرون تولـه ورځ يې بې آرامه، اوبيګاه تولـه شپه يې شب ګيره کړې ده، نو نن شپې تـه به خامخا آرام او خوب کوي، ولې بله شپه يې هم هغه څه او کړل، څه چې يې په اوله شپه کړي وو، تر دې چې دريمه شپه شوه، بيا ما دهغې نندارا وکړه، لکه چې مې دوه شپې مخکې کړې وه، ددې نه پس ما په زړه کې دا فيصله اوکړه، چې تر څو پورې چې زه ژوندې يم، او امام ابوحنيفه(رحمه الله) ژوندې وي نو دده ملګرتيا، خدمت او مجلس به چيرته پرې نږدم.

عرض دا چې دامام ابو حنيفه(رحمه الله)تر مرګه د پاتې کيدو پخه اراده مې وکړه، او په جومات کې استوګن شوم، په دې دومره موده کې ما چيرته امام ابوحنيفه(رحمه الله) بغيرد قيام اليل(دشپې لمونځ)نه بغير نه دى ليدلې، البته دماسپخين نه وړاندې به يې څه ساعت سترګې پټولې، او په عامو حالاتو کې يې همدغه پاخه عادتونه وو، دابن معاذ نه روايت دى، وايې چې مسعر بن کدام(رحمه الله) ډير بختور بنده دالله تعالى(جل جلاله) وو، چې دامام ابوحنيفه(رحمه الله) په مسجد کې يې په داسې حالت کې ساه ورکړه چې الله تعالى(جل جلاله) ته يې سرتيټ کړى په سجده پروت وو.(١)

تم الفصل الثالث بتوفيق الله تعالى

---

١ تبيض الصحيفه(ص، ١٢٥)وحدايق الحنفيه(ص، ٢٢)واحقاق الحق(۴ج١١١ص).

# څلورم فصل

## دامام ابوحنيفه (رحمه الله) عبادت

دامام ابوحنيفه (رحمه الله) دعبادت په اړه ډېر واقعات دي ، چې په دې مختصره رساله کې بيانول ناشوني دي، خو صرف لږه اشاره کول غواړم، هغه هم چې راجح، مثبت اوصحيح وي دالله تعالی په توفيق يې بيانوم

**يو څومشهور واقعات يې دادي:**

**دامام ابوحنيفه (رحمه الله) په ماسخوتن اودس دسهار مونځ کول**

اسد بن عمر (رحمه الله) فرمايي: چې امام ابوحنيفه رحمه الله دالله جل جلاله ددی قول ﴿وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا﴾[1]

**ژباړه:** او دا هغه خلک دي چې شپه روڼه وي(خوب نه کوي)لپاره د رب خپل، سجده کوونکې او ولاړ.

ددې آيات مطابق امام ابوحنيفه (رحمه الله) تر(څلويښتو کالو دماسخوتن په اودس دسهار مونځ کړې دی.[2] ) او په بل روايت کې داسې دي:

﴿۱﴾ عن أسَدِ بنِ عَمْرٍو، قَالَ: «صَلَّى أَبُو حَنِيفَةَ فِيمَا صَلاةَ الْفَجْرِ بِوُضُوءِ الْعِشَاءِ أَرْبَعِينَ سَنَةً»[1]

---

[1] سورت الفرقان(۲۴)نمبر آيات

[2] تاريخ بغداد(۱۳ج۳۵۴ص)ومفتاح السعادة(۲ج۷۸ص)ووفيات الاعيان لابن خلکان(۵ج۴۱۳ص)واحقاق الحق(۴ج۱۱۱ص)

**ژباړه:** اسد بن عمرو (رحمه الله) وايي چې امام ابو حنيفه (رحمه الله) څلويښت کاله د سهار مونځ د ماسخوتن په اودس کړی

﴿۲﴾قَالَ يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ الزَّاهِدُ:(كَانَ أَبُو حَنِيفَةَ لَا يَنَامُ فِي اللَّيْلِ)([2])

**ژباړه:** يحيى بن ايوب زاهد وايي: چې امام ابو حنيفه (رحمه الله) به د شپې نه ويده کيدو.

﴿۳﴾قَالَ زُفَرُ(رحمه الله): «كَانَ يُحْيِي اللَّيْلَ كُلَّهُ»([3])

**ژباړه:** امام زُفر (رحمه الله) وايي چې امام ابو حنيفه (رحمه الله) به ټوله شپه ژوندی کوله، يعنې خوب به يې نه کولو.

﴿ ۴﴾قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ(رحمه الله): «مَا قَدِمَ مَكَّةَ فِي وَقْتِنَا رَجُلٌ أَكْثَرُ صَلَاةً مِنْهُ»([4])

**ژباړه:** ابن عُيينه (رحمه الله) وايي: چې ما نه دی ليدلی په خپل وخت، په مکه کې ډير عبادت کوونکې د امام ابو حنيفه (رحمه الله) نه

---

[1] وَرَوَى الخَطِيبُ فِي تَارِيخِهِ مِنْ جِهَةِ أَسَدِ بْنِ عَمْرٍو ومناقب الامام ابي حنيفه(۱ج ۲۳ص)

[2] مرقاة المفاتيح(۱ج ۳۰ص)وفی مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(۱ج ۲۴ص) عَنِ ابْنِ المُبَارَكِ، قَالَ «مَكَثَ أَبُو حَنِيفَةَ مُدَّةً يُصَلِّي الخَمْسَ بِوُضُوءٍ وَاحِدٍ»

[3] مرقاة المفاتيح(۱ج ۳۰ص).

[4] مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح المؤلف علي بن(سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاري(المتوفى: ۱۰۱۴هـ) الناشر: دار الفكر، بيروت-لبنانلطبعة الأولى، ۱۴۲۲هـ-۲۰۰۲معدد الأجزاء ۹(۱ج ۳۰ص).

[4] مرقاة المفاتيح(۱ج ۳۰ص) دار الفكر، بيروت، لبنان الطبعة الأولى، ۱۴۲۲هـ-۲۰۰۲م عدد الأجزاء ۹.

﴿۵﴾ وَقَالَ أَبُو عَاصِمٍ: «كَانَ يُسَمَّى الْوَتِدَ لِكَثْرَةِ صَلَاتِهِ»[۱]

**ژباړه:** ابو عاصم وايي: چې د امام ابوحنيفه (رحمه الله) د ډير عبادت او لمونځ له وجې نوم كيښودل شوې او مسمه شوې په ميخ سره وو، ځكه ډير مضبوط او كلك به د الله تعالى عبادت ته ودريدلو.

**امام ابوحنيفه (رحمه الله) په يو ركعت كې دقرآن ختم كول**

﴿۱﴾ قَالَ مِسْعَرُ بْنُ كِدَامٍ: «رَأَيْتُ أَبَا حَنِيفَةَ قَرَأَ الْقُرْآنَ فِي رَكْعَةٍ»[۲]

---

[۱] تاريخ بغداد (۱۳ج ۳۵۴ص) ومفتاح السعادة المؤلف: السيد العلامة المجتهد علي بن محمد بن يحيى العجري (۲ج ۷۸ص) وفيات الاعيان لابن خلكان (۵ج ۴۱۳ص) واحقاق الحق (۴ج ۱۱۱ص).

[۲] مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح المؤلف: علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا القاري (المتوفى: ۱۰۱۴هـ) دار الفكر، بيروت-لبنان الطبعة الأولى، ۱۴۲۲هـ-۲۰۰۲م عدد الأجزاء: ۹ (۱ج ۳۰ص) ددى سند دادى: أَخْبَرَنِي بِهَذَا الْمُسْلِمُ بْنُ عَلَّانَ إِجَازَةً، أَنَا أَبُو الْيَمَنِ الْكِنْدِيُّ، أَنَا أَبُو مَنْصُورٍ الشَّيْبَانِيُّ، أَنْبَأَنَا أَبُو بَكْرٍ الْخَطِيبُ، أَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُحْسِنِ، أَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ يَعْقُوبَ الْكَاغِدِيُّ، ثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْحَارِثِيُّ بِبُخَارَى، أَنْبَأَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْحُسَيْنِ الْبَلْخِيُّ، ثَنَا حَمْدُ بْنُ قُرَيْشٍ، سَمِعْتُ أَسَدَ بْنَ عَمْرٍو فَذَكَرَهُ، وَقَالَ مِسْعَرُ بْنُ كِدَامٍ: «رَأَيْتُ أَبَا حَنِيفَةَ (رحمه الله) قَرَأَ الْقُرْآنَ فِي رَكْعَةٍ» مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه المؤلف: شمس الدين الذهبي (المتوفى: ۷۴۸هـ) (۱ج ۲۴ص) وتاريخ بغداد (۱۳ج ۳۵۴ص) وواخبار ابي حنيفه اصحابه (ص، ۵۲) ومفتاح السعادة (۲ج ۷۸ص) وذيل الجواهر (۲ج ۴۹۳ص) وفيات الاعيان لابن خلكان (۵ج ۴۱۳ص) وفى مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه (۱ج ۲۲ص) قَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ رُسْتُمَ الْمَرْوَزِيُّ: سَمِعْتُ خَارِجَةَ بْنَ مُصْعَبٍ، يَقُولُ: "خَتَمَ الْقُرْآنَ فِي رَكْعَةٍ أَرْبَعَةٌ مِنَ الأَئِمَّةِ: عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ، وَتَمِيمٌ الدَّارِيُّ، وَسَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ، وَأَبُو حَنِيفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ".

**ژباړه:** مسعر بن کدام (رحمه الله) وايي: چې امام ابو حنيفه (رحمه الله) به د شپې په يو رکعت کې قرآن مجيد ختمولو.

﴿۲﴾په مرقاة کې دي: چې امام ابو حنيفه (رحمه الله) به «يَقْرَأُ الْقُرآنَ فِي رَكْعَةٍ»[1]

**ژباړه:** په يو رکعت کې به يې قرآن لوستلو.

﴿۳﴾قَالَ زُفَرُ (رحمه الله) «كَانَ يُحْيِي اللَّيْلَ كُلَّهُ بِرَكْعَةٍ يَقْرَأُ فِيهَا الْقُرآنَ»[2]

**ژباړه:** امام زفر (رحمه الله) وايي چې امام ابو حنيفه (رحمه الله) به ټوله شپه ژوندی کوله، او په يو رکعت کې به يې د قرآن ختم کولو.

**امام ابوحنيفه (رحمه الله) سل ځله الله تعالی (جل جلاله) په خوب کې ليدلی**

امام ابو حنيفه (رحمه الله) فرمايي: چې ما الله رب العزت (جل جلاله) يو د سل (۹۹) ځلې وليدو، بيا مې د ځان سره دا فيصله وکړه، که مې په سلم (۱۰۰) ځلې په خوب کې وليدلو، نو زه به ترينه خامخا دا سوال کوم، چې دا مخلوق

---

[1] مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح (ا ج، ۳ ص).

[2] مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح (ا ج، ۳ ص) وَقَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: إِنَّهُ صَلَّى الْخَمْسَ بِوُضُوءٍ وَاحِدٍ خَمْسًا وَأَرْبَعِينَ سَنَةً، وَكَانَ يَجْمَعُ الْقُرْآنَ فِي رَكْعَتَيْنِ وَقَالَ زَائِدَةُ: صَلَّيْتُ مَعَهُ فِي مَسْجِدِهِ الْعِشَاءَ، وَخَرَجَ النَّاسُ، وَلَمْ يَعْلَمْ أَنِّي فِي الْمَسْجِدِ فَأَرَدْتُ أَنْ أَسْأَلَهُ مَسْأَلَةً، فَقَامَ وَافْتَتَحَ الصَّلَاةَ فَقَرَأَ حَتَّى بَلَغَ هَذِهِ الْآيَةَ ﴿فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ ۝٢٧﴾ (الطور: ۲۷) وَهُوَ يَبْكِي. وَيَقُولُ: اللَّهُمَّ مُنَّ عَلَيْنَا وَقِنَا عَذَابَ السَّمُومِ يَا رَحِيمُ. فَلَمْ يَزَلْ يُرَدِّدُهَا حَتَّى أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ لِلصُّبْحِ، وَأَنَا أَنْتَظِرُهُ. وفی مرقات (ا ج، ۳ ص) قَالَ الْقَاسِمُ بْنُ مَعْنٍ: قَامَ أَبُو حَنِيفَةَ لَيْلَةً بِهَذِهِ الْآيَةِ ﴿بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ ۝٤٦﴾ (القمر: ۴۶) يُرَدِّدُهَا، وَيَبْكِي، وَيَتَضَرَّعُ.

به ستا دعذاب څخه په ورځ دقیامت کې په څه باندې بچ شي، نو بیا مې په سلم ځل باندې ولیدلو، نو سوال مې ترینه وکړو چې ﴿یَارَبّ عزجلالک وَجَل ثَنَاءُکَ وَتقدست اسْماءُکَ﴾ په څه به دا مخلوق ستا دعذابه په ورځ دقیامت بچ شي، الله سبحانه وتعالی وفرمایل: هرڅوک چې سهر او ماښام لاندې کلمات ووایي: ﴿سُبْحَان الله الْاَبَدُالْاَبَد، سبْحَانَ الله وَاحِدُ الْاَحَد، سُبحان الله الْفَرد الصُّمد، سُبحان الله رافع السَّماء بِغَيْرِعَمَد، سُبحان الله مَنْ بَسْط الْارض عَلى مَاءِ جَمَد، سُبحان الله مَنْ قَسم الرِّزق وَلَمْ يَنْسَ احداً، سُبحان من خَلَق الْارض فَاحصاهم عَدد، سُبحان الله مَن لَم يَتخذ زَوجة وَلاَ وَلَداً، سُبحان الله الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَد، وَلَمْ يَكن لَه كُفواً اَحَد﴾[1]

**یوسوال او دهغې ځواب**

**سوال:** الله تعالی (ﷻ) په خوب کې لیدل ممکن دي که نه؟

**ځواب:** په آخرت کې د الله تعالی (ﷻ) لیدل خو خامخا ممکن دي، چې ددی نه صرف ظالمان خلک انکار کوي، او هرچې په خوب کې د الله تعالی (ﷻ) لیدل دي، ددی په باره کې ډېر دلایل دي چې یو څه ترې دا دي:

﴿۱﴾ عبدالرحمن بن عائش نه روایت دی دا فرمایي: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وا وریدل چې فرمایل یې: ﴿ رَأَيْتُ رَبِّي فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ قَالَ فِيمَ

---

[1] عقود الجمان (ص، ۲۸۹) و واحقاق الحق (۴ج ۱۱۹ص) و فتاوی الدین الخالص (۳ج ۸ص) مختصراً.

يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الأَعْلَى...﴾[1] ما خپل رب په ډير ښايسته صورت کې وليدو، ويلې ملاء اعلى په څه کې بحث او مباحثه کوي؟(تر اخره پورې)[2].

﴿۲﴾ دابى بن كعب رضي الله عنهٔ ښځه ام الطفيل رضي الله عنها فرمايې: ما درسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل، چې فرمايل يې: ما په خوب کې خپل رب ديو رُعبناک ښايسته ځوان په شکل، په شين لباس کې وليده، چې سرو زرو پيزار يې اچولې وو، دهغه په مخ د سرو زرو پتنګان وو[3]

هيثمي(رحمه الله)وايې: چې دا منکرحديث دی، او الباني(رحمه الله)ورته په تخريج السنة لابن ابي عاصم رقم(۴۷۱)کې صحيح ويلې، امام بيهقي(رحمه الله)فرمايې: چې دا دخوب واقعه وه، په کنزالعمال(رقم۱۱۵۲)کې د ابوزرعه(رحمه الله)نه نقل دي: چې دا صحيح حديث دی.

﴿۳﴾محمد بن سيرين(رحمه الله)فرمايې ﴿چاچې خپل رب په خوب کې وليده، جنت ته به ځي﴾[4]

﴿۴﴾ نبراس کې ورسره دا هم دي ﴿او دغم نه به خلاصيږي﴾.

---

[1] سنن دارمي(۲ج۵۱ص)حديث نمبر(۲۲۰۴) باب فِى رُؤْيَةِ الرَّبِّ تَعَالى فِى النَّوْم واحمد۱ج۲۹۰ص)ومشكاة(۱ج۷۰ص).

[2] كمافي الفتاوى الدين الخالص(۳ج۸ص).

[3] الطبراني، مجمع الزوائد(۷ج۱۷۹ص)والبيهقي في اسماء والصفات(ص. ۴۴۷).

[4] سنن دارمي(۲ج۵۱ص).

﴿۵﴾امام احمد (رحمه الله) فرمايي﴿ما الله تعالى(جل جلاله) په خوب کې وليده، او پوښتنه مې ترې وکړه چې د ټولو نه بهترين عبادت کوم يو دی، وی فرمايل: د قرآن تلاوت﴾.[1]

﴿۶﴾همدارنګه امام ابو حنيفه(رحمه الله) سل ځله الله تعالى( جل جلاله ) په خوب کې ليدلي وو.[2]

﴿۷﴾په کنز العمال کې درې احاديث موجود دي(۱ج۲۲۸ص).

ددی احاديثو په باره کې ملاعلی قاري(رحمه الله) او مبارکپوري(رحمه الله) فرمايي: ﴿وَعَلَى هَذَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ إِشْكَالٌ إِذِ الرَّائِي قَدْ يَرَى غَيْرَ الْمُتَشَكِّلِ مُتَشَكِّلًا، وَالْمُتَشَكِّلَ بِغَيْرِ شَكْلِهِ﴾[3]

**ژباړه:** په دی کې هيڅ اشکال نيشته، ځکه په خوب کې ليدونکې کله غير متشکل شي متشکلويني، او کله متشکل شي د خپل اصلي شکل نه سيوا په بل شکل ويني.

په شرح عقائد(ص، ۲۰) کې دي، او هرچې په خوب کې ليدل دي، نو دا خود ډيرو سلفو نه نقل دي او دا يو قسم د زړه مشاهده ده نه د سترګو.

---

[1] حاشيه شرح العقائد(ص، ۲۰).

[2] عقود الجمان(ص، ۲۸۹)واحقاق الحق(۴ج۱۱۹ص)وحاشيه شرح العقائد(ص، ۲۰).

[3] المرقاة(۲ج۲۰۹ص)والمرعاة(۲ج۲۲۸ص).

﴿۸﴾ تحمزة القاري (رحمه الله) نه نقل دي: چې هغه په خوب کې د الله تعالی (جل جلاله) مخامخ قرآن لوستلې وو.

﴿۹﴾ تابن حجر (رحمه الله) فرمايي: د تعبير عالمانو د الله عزوجل (جل جلاله) په خوب کې ليدل جائز ګڼلي دي ، برابره خبره ده که ليدونکې نبي اکرم صلی الله عليه وسلم وي، او که د هغوی نه علاوه بل څوک وي، بيا يې د امام غزالي (رحمه الله) نه نقل کړي دي: چې هغه هم په خوب کې د الله تعالی (جل جلاله) د ليدلو قائل دی.[1]

**دامام ابوحنيفه (رحمه الله) عبادت په رمضان کې**

﴿۱﴾ وَعَنْ يَحْيَى بْنِ نَصْرٍ، قَالَ: «رُبَّمَا خَتَمَ أَبُو حَنِيفَةَ الْقُرْآنَ فِي رَمَضَانَ سِتِّينَ مَرَّةً».[2]

**ژباړه:** يحيى بن نصر (رحمه الله) وايي: چې د امام ابوحنيفه (رحمه الله) دا عادت وو چې د روژې په مياشت کې به يې د قرآن مجيد شپيته (۶۰) ختمونه کول.

---

[1] کتاب الرؤيا والاحلام (ص. ۸۷) ومرقات (۹ج۲۵ص) ونظر فتاوى الدين الخالص (۳ج۸ص).

[2] مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه المؤلف: شمس الدين الذهبي (المتوفى: ۷۴۸هـ) (۱ج۲۳ص) مُحَمَّدُ بْنُ سَمَاعَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْحَسَنِ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مَعْنٍ، "أَنَّ أَبَا حَنِيفَةَ قَامَ لَيْلَةً يُرَدِّدُ قَوْلَهُ تَعَالَى ﴿بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ ۝۴۶﴾ (القمر: ۴۶)، وَيَبْكِي وَيَتَضَرَّعُ إِلَى الصَّبَاحِ" وعقود الجمان لشيخ محمد بن يوسف الصالحي الدمشقي الشافعي (ص، ۱۷۸)

﴿۲﴾امام ابوحنيفه(رحمه الله) اوه زره(۷۰۰۰) واري ختم کړې دی، په هغه ځاي باندې چې هلته دفن کړې شو، او کله به یې چې د شپې قرآن مجيد لوستلو، نو ددې ژړا اوريدل کيده، تر دې پورې چې د ګاونډيانو ترحم او زړه سواندې به پرې راغلی.([1])

## هغه اشخاص چې د وتروپه يو رکعت کې يې قرآن ختم کړی

﴿۱﴾عثمان بن عفان(رضي الله عنه)([2]) به دوترو په يو رکعت کې قرآن ختمولو.([1])

---

[1] مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح(ا ج۳۰ص)عبارت يــي دا دی(وَقَالَ أَسَدُ بْنُ عَمْرٍو: صَلَّى أَبُو حَنِيفَةَ صَلَاةَ الْفَجْرِ بِوُضُوءِ الْعِشَاءِ أَرْبَعِينَ سَنَةً، وَكَانَ عَامَّةَ اللَّيْلِ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ فِي رَكْعَةٍ، وَكَانَ يُسْمَعُ بُكَاؤُهُ حَتَّى يَرْحَمَ عَلَيْهِ جِيرَانُهُ وَحُفِظَ عَلَيْهِ أَنَّهُ خَتَمَ الْقُرْآنَ فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ سَبْعَةَ آلَافِ خَتْمَةٍ )وفی مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(ا ج۲۱ص): وَرَوَى يَحْيَى الْحِمَّانِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ قَالَ: «صَحِبْتُ أَبَا حَنِيفَةَ سِتَّةَ أَشْهُرٍ، فَمَا رَأَيْتُهُ صَلَّى الْغَدَاةَ إِلَّا بِوُضُوءِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ، وَكَانَ يَخْتِمُ الْقُرْآنَ كُلَّ لَيْلَةٍ عِنْدَ السَّحَرِ»وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الْجَوْهَرِيُّ ثنا الْمُثَنَّى بْنُ رَجَاءٍ، عَنْ أُمِّ حُمَيْدٍ خَاصَّةِ وَلَدِ أَبِي حَنِيفَةَ، قَالَتْ: قَالَتْ أُمُّ وَلَدِ أَبِي حَنِيفَةَ: «مَا تَوَسَّطَ أَبُو حَنِيفَةَ فِرَاشًا بِلَيْلٍ مُنْذُ عَرَفْتُهُ، وَإِنَّمَا كَانَ نَوْمُهُ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ فِي الصَّيْفِ وَبِاللَّيْلِ فِي مَسْجِدِهِ أَوَّلَ اللَّيْلِ فِي الشِّتَاءِ»وَعَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمُقْرِئِ، قَالَ: «لَوْ رَأَيْتَ أَبَا حَنِيفَةَ يُصَلِّي، عَلِمْتَ أَنَّ الصَّلَاةَ مِنْ هَمِّهِ.

[2] هو عثمان بن عفان بن أبي العاص بن أمية بن عبد شمس بن عبد مناف، فهو قرشي أموي يجتمع هو والنبي صلى الله عليه وسلم في عبد مناف، وهو ثالث الخلفاء الراشدين، ولد بالطائف بعد الفيل بست سنين على الصحيح(سنة ۵۷۲ م) وأمه أروى بنت كريز بن ربيعة بن حبيب بن عبد شمس بن عبد مناف، وأم أروى البيضاء بنت عبد المطلب عمة الرسول صلى الله عليه وسلم ويقال لعثمان - رضي الله عنه -(ذو النورين) لأنه تزوج رقية، وأم كلثوم، ابنتيّ النبي صلى الله عليه وسلم ولا يعرف أحد تزوج بنتيّ نبي غيره....

دعثمان بن عفان رضي الله عنه دسيرت لپاره دغه كتابونه كتلې شي:

(۱) تاريخ الأمم والملوك (۲ج ۵۸۹ص).

(۲) ابن الأثير (۲ج ۴۷۵ص).

(۳) الأخبار الطوال (ص، ۱۳۹).

(۴) الاستيعاب (۱۷۷۸).

(۵) أسد الغابة (۳ج ۵۸۴ص).

(۶) الإنباء في تاريخ الخلفاء (ص، ۴۳).

(۷) الإصابة ترجمة (۴ج ۴۵۲ص).

(۸) البدء والتاريخ (۲ج ۱۹۲ص).

(۹) تاريخ الإسلام (۳ج ۱۷۷ص).

(۱۰) تاريخ الخلفاء لابن زيد (ص، ۲۴).

(۱۱) تاريخ خليفة بن خياط (ص، ۱۳۱).

(۱۲) تاريخ مختصر الدول (ص، ۱۰۳).

(۱۳) تاريخ اليعقوبي (ص، ۱۲۲).

(۱۴) تاريخ الخلفاء للسيوطي (ص، ۱۱۸).

(۱۵) تذكرة الحفاظ (۱ج ۸ص).

(۱۶) تقريب التهذيب (۲ج ۴۲ص).

(۱۷) التنبيه والإشراف (ص، ۱۹۱).

(۱۸) تهذيب الأسماء واللغات (۱ج ۱۲۳ص).

(۱۹) تهذيب التهذيب (۷ج ۱۱۲ص).

(۲۰) الجرح والتعديل (ص، ۱۵۲).

(۲۱) طبقات الفقهاء (ص ۴۰).

(۲۲) طبقات ابن سعد (۳ج ۵۳ص).

(۲۳) العقد الفريد (۴ج ۳۱۰ص).

(۲۴) الفخري (ص ۹۷).

﴿۲﴾تمیم الداري(ﷺ)(۲)به په یوه شپه کې قرآن ختم کړ

---

(۲۵) الکنی والأسماء(ج۱/ص۸).
(۲۶) مآثر الأناقة(ا ج۹۳ص).
(۲۷) المحبّر(ص۱۴).
(۲۸) المحن(ص، ۲۳).
(۲۹) مروج الذهب(ا ج۱۴۳ص).
(۳۰) المعارف(ص، ۱۹۱).
(۳۱) المغني(ص. ۲۸۲).
(۳۲) نهایة الأرب(۱۹ج۲۰۲ص).
(۳۳) تاریخ الإسلام السیاسي والدیني والثقافي والاجتماعي. حسن إبراهیم حسن(ج۱/ص۲۵۲).
[۱] ترمذي(۲ج۱۱۸ص)وطبقات ابن سعد(۲ج۵۲ص)وشرح معاني الاثار(۱ج۳۴۲ص)واحقاق الحق(۴ج۱۱۳ص).
(۲) دتمیم الداري رضي الله عنه دسیرت لپاره دغه کتابونه کتلې شې:
(۱)طبقات ابن سعد(۷ج۴۰۸ص).
(۲)التاریخ الکبیر(۲۰۱۲).
(۳)الجرح والتعدیل(۱۷۵۴).
(۴) أسد الغابة(۱ج۲۵۲ص).
(۵) الإصابة(۱ج۸۸۷ص).
(۷)الإصابة في تمییز الصحابة(۱ج۴۰۸ص).
(۸) البدء والتاریخ(۲ج۱۹۲ص).
(۹) تاریخ الإسلام(۳ج۱۷۷ص).
(۱۰) تاریخ الخلفاء لابن زید(ص، ۲۴).
(۱۱) تاریخ خلیفة بن خیاط(ص، ۱۳۱).
(۱۲) تاریخ مختصر الدول(ص، ۱۰۳).

﴿۳﴾عبد الله بن زبير (رضي الله عنه) به هم په يوه شپه کې ختم کولو. (۲)

(۱۳)تاريخ اليعقوبي(ص، ۱۲۲).
(۱۴) تاريخ الخلفاء للسيوطي(ص، ۱۱۸).
(۱۵) تذكرة الحفاظ(۱ج۸ص).
(۱۲) تقريب التهذيب(۲ج۴۲ص).
(۱۷) التنبيه والإشراف(ص، ۱۹۱).
(۱۸) تهذيب الأسماء واللغات(۱ج۱۲۳ص).
(۱۹) تهذيب التهذيب(۷ج۱۱۲ص).
(۲۰) الجرح والتعديل(ص، ۱۵۲).
(۲۱) طبقات الفقهاء(ص۴۰).
(۲۲) طبقات ابن سعد(۳ج۵۳ص).
(۲۳) العقد الفريد(۴ج۳۱۰ص).
(۲۴) الفخري(ص۹۷).
(۲۵) الكنى والأسماء(ج۱/ص۸).

تميم الداري رضي الله عنه، وقيل إنما نسب إلى دارين لأنه كان عطارا، وهو موضع الطيب، وهذا هو الصحيح - قالوا: وهو مولى عمرو بن علقمة الكناني، وهو من أبناء فارس الذين بعثهم كسرى بالسفن إلى اليمن حين طرد الحبشة عنها، وكان يخضب بالحناء، وكان قاضي الجماعة بمكة، وهو من الطبقة الثانية من التابعين. وكان شيخا كبيرا. أبيض الرأس واللحية طويلا جسيما أسمر أشهل العينين، يغير شيبته بالحناء أو بالصفرة. وكان حسن السكينة، ولد بمكة سنة خمس وأربعين، ومات بها سنة عشرين ومائة قالَ الوَاقديُّ: لَيْسَ لِلنَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَطِيْعَةٌ سوى: حبرى، وبيت عينون، أَقْطَعَهُمَا تَمِيْماً وَأَخَاهُ نُعَيْماً.

قَالَ قَتَادَةُ: {وَمَنْ عِنْدَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ} [الرَّعْدُ: ۴۳] قَالَ: سَلْمَانُ. وَابْنُ سلام. وتميم الداري.سير الاعلام(۴ج۷۵ص)

[1] طحاوي(۱ج۲۰۵ص)وتهذيب(۱ج۵۱۱ص)ومعاني الاثار(۱ج۳۴۸ص).
[2] احقاق الحق(۴ج۱۱۳ص)وطحاوي(۱ج۲۰۵ص).

﴿۴﴾سعيد بن جبير(رحمه الله) به هم په يوه شپه کې قرآن ختمولو.[1]

﴿۵﴾امام ابوحنيفه(رحمه الله) به يوشپيته(۶۱)واري قرآن په روژه کې ختمولو، ديرش ځله د شپې او ديرش ځله د ورځې اويو ځل په تراويحو کې.[2]

﴿۶﴾امام شافعي(رحمه الله)به په روژه کې شپېته(۶۰)واري قرآن ختمولو.[3] همدارنګه امام شافعي(رحمه الله)يوځل په رمضان کې اويا(۷۰)واري د قرآن ختم کړی.[4]

﴿۷﴾امام وکيع بن جراح(رحمه الله)به په يوه شپه کې قرآن ختم کاوه.[5]

﴿۸﴾دجرح او تعديل امام يحيى قطان(رحمه الله )به په(۲۴) ساعتونو کې قرآن ختمولو.[6]

﴿۹﴾امام بخاري(رحمه الله)به په رمضان کې هره ورځ يوځل قرآن ختم کاوه، او دغه ختم به يې د روژه ماتي پرمهال وو، او داسې به يې ويل، چې له هر ختم څخه وروسته دعاء قبليږي.[1]

---

[1] تذكرة الحفاظ(۱ج۷۲ص).

[2] سيراعلام النبلا(۲ج۴۰۰ص)وفتاوی قاضي خان(۱ج۱۴۵ص)مراقي الفلاح(ص. ۱۵۸)وفی مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(۱ج۲۲ص) عَنْ يَحْيَى بْنِ نَصْرٍ، قَالَ: «رُبَّمَا خَتَمَ أَبُو حَنِيفَةَ الْقُرْآنَ فِي رَمَضَانَ سِتِّينَ مَرَّةً».

[3] تذكرة الحافظ(۱ج۳۲۹)واحقاق الحق(۴ج۱۱۳ص).

[4] مفتاح الجنة السيوطي(ص. ۲۹).

[5] تاريخ بغدادار الكتب العلمية – بيروت عدد الأجزاء: ۲۴(۱۳ج۴۷۰ص)

[6] تهذيب الاسماء واللغات للعلامة أبی زكريا محيى الدين بن شرف النووی المتوفيی(۲۷۶ هـ)(۲ج۱۵۴ص).

﴿۱۰﴾امام شعبه(رحمه الله) به صيام الدهر وو.[2]

﴿۱۱﴾امام بخاري(رحمه الله) به صيام الدهر وو.[3]

﴿۱۲﴾امام وكيع(رحمه الله) به صيام الدهر وو.[4]

**يادونه:** په احاديثو كې چې دصيام الدهرڅخه منع راغلې ده، دهغې څخه هغه روژه مراد ده چې په منهيه وو كې هم ونيول شي.[5]

﴿۱۳﴾امام زين العابدين علي بن حسين(رحمه الله)[6] به په يوه شپه او يوه ورځ كې زر ركعته نفل كول.[7]

﴿۱۴﴾امام ميمون(رحمه الله) متوفى(۱۱۷هـ)به كله په يوه شپه او ورځ كې زر ركعته نفل كول، يوځلي په اولسو ورځو كې اولس زره ركعته مونځ كړې وو.[8]

﴿۱۵﴾امام مرة بن سرحبيل(رحمه الله) متوفى(۵۴هـ)به هره ورځ زر ركعته مونځ كولو.[9]

---

[1] فتح الباري(اج۱۴۱ص)وارشاد الساري أحمد بن محمد بن أبى بكر بن عبد الملك القسطلاني القتيبي المصري، أبو العباس، شهاب الدين(المتوفى: ۹۲۳هـ) المطبعة الكبرى الأميرية، مصرلطبعة السابعة،(۱۳۲۳هـ)عدد الأجزاء: ۱۰(ص، ۳۷).

[2] تحفة الاخوذي(ص، ۲۲۲).

[3] ميزان الكبرى(اج۵۰ص).

[4] تاريخ بغداد(۱۳ج۴۷۰ص)واحقاق الحق(۴ج۱۱۳ص).

[5] نووي شرح مسلم(۳۲۵ص)وفتح الباري(۵ج۱۲۲ص)وانظر احقاق الحق(۴ج۱۱۲ص).

[6] وفات يې په كال(۹۴هـ) احقاق الحق(۴ج۱۱۱ص).

[7] تهذيب التهذيب(۷ج۳۰۲ص)وتذكرة الحافظ(اج۷۱ص).

[8] تهذيب التهذيب(۱۰ج۳۹۲ص)وانظر احقاق الحق(۴ج۱۱۱ص).

[9] البداية والنهاية(۸ج۸۰ص).

﴿۱۶﴾علي بن عبدالله بن عباس (رحمه الله) متوفی (۱۱۷هـ) روزانه زر رکعته مونځ کولو.[1]

﴿۱۷﴾عمیر بن هاني (رحمه الله) متوفی (۱۱۰هـ) به هره ورځ زر رکعته مونځ کولو.[2]

﴿۱۸﴾مشهور محدث امام یزید بن هارون (رحمه الله) متوفی (۲۰۲هـ) د ځلوېښتو کالو څخه زیات د ماسخوتن پر اودس باندې د سهار مونځ کړی.[3]

﴿۱۹﴾امام سفیان بن عُیینه (رحمه الله) وایي چې الله تعالی دې په امام ابوحنیفه (رحمه الله) باندې رحم وکړي، چې ډېر زیات مونځ ګذاره انسان وو، زمونږ په وخت کې مکې مکرمې ته د امام ابوحنیفه (رحمه الله) نه بل زیات مونځ کونکي څوک نه دی لیدلی.[4]

﴿۲۰﴾امام شافعي (رحمه الله) به په رمضان کې شپېته (۶۰) واري قرآنکریم ختمولو.[5]

تلك عشرون كاملة

تمّ الفصل الأول بتوفيق الله تعالى

---

[1] تهذیب التهذیب (۷ج ۳۵۸ص).
[2] تهذیب التهذیب (۸ج ۱۰۱ص) وفیض الباري (۴ج ۱۹۸ص).
[3] تذکرة الحافظ (۱ج ۲۹۲ص) وتاریخ بغداد (۴ج ۳۳۷ص) وانظر احقاق الحق (۴ج ۱۱۲ص).
[4] مرقات (۱ج ۷۹ص).
[5] تذکرة الحافظ (۱ج ۳۲۹ص).

## پنځم فصل

## دامام ابوحنیفه(رحمه الله)سخی، عقلمندي او دالله تعالی(جل جلاله)خخه ویره

### دامام ابوحنیفه(رحمه الله)اخلاق

امام ابوحنیفه(رحمه الله)ته الله تعالی(جل جلاله)بې مثاله اخلاق ورکړي وو امام ابوحنیفه(رحمه الله)د خلکو سره په تړولنه کې ډېر دصبر او استقامت څخه کار اخیسته، اګر چې چا به ورسره ظلم او زیاتې هم وکړ، خاص دالله درضا لپاره به یې معاف کولو. دامام ابوحنیفه(رحمه الله)داخلاقو او خلکو سره دښه سلوک په باره کې ډېر اقوال راغلي، خو زه دیو شاعر په یو ابیاتو باندی بسنه کوم، چې دځان په باره کې یې ویلي دي،

**هغه شاعر وایې:**

أرْعَـــى الجارَ. ولوْ جارَ
وأبــذُلُ الوِصالَ. لَمنْ صـال
وأحتَمِلُ الخَليطَ. ولـوْ أبْدى التّخليطَ
وأودّ الحَميمَ. ولـو جرّعَني الحَميمَ
وأفضّلُ الشّفيقَ. على الشّـقيقِ
وأفــي للعَشيرِ. وإنْ لمْ يُكافِئْ بالعَشيرِ
وأستَقِلّ الــجَزيلَ. للــنّزيــلِ
وأغمُرُ الزّلَ. بالجملِ[1]

---

[1] مقامات الحريري(اج٩ص )ودرس مقامات(ص، ١٩١).

**ژباړه:** چې زه د خپل ګاونډي لحاظ ساتم اګر چې هغه ظلم کوي، او زه هغه سړي ته هم دوصال(محبت)ورکوم، کوم چې پرما باندی حمله کوي، ملګرى برداشت کوم، اګر چې هغه ګړ بړ ظاهر وي، زه د دوست سره محبت ساتم. اګر چې هغه په ما باندې ګرمې او به ګوټ ګوټ څښي، زه دوست ته په سکه ورور باندی ترجيح ورکوم، ما سره ژوند تيرونکي ته پوره حق ورکوم، اګر چې هغه لسمه حصه هم نه اداءکوي، لويه او غټه هديه هم د ميلمه لپاره کمه ګڼم، زه ملګري لره په ښايسته تحفې سره پټوم

نوڅکه يې خپل شاګرد امام ابويوسف(رحمه الله)وايې: چې خلکو به ويل چې امام ابوحنيفه(رحمه الله) الله تعالى ښايسته کړې دی په خپل علم، عمل، سخا، خرچ او اخلاقو قرآنيو سره.([1])

**دامام ابو حنيفه(رحمه الله)خرچ په علماؤو**

علامه مسعر(رحمه الله) وايې: چې د امام ابوحنيفه(رحمه الله)دا عادت وو، چې کله به يې يو شې داهل او عيال لپاره اخيستو، نو همدومره خرچ به يې په شيوخ العلماؤ باندې هم کولو، او همدارنګه فعل به يې په جامو کې هم کولو، او کله به يې چې خپل اهل او عيال ته دبهرنه د راغلو وچو ميوو، يا تازه فروټو اخيستلو اراده وکړه، نو اول به يې دا شيوخ العلماؤو ته واخيستل، بيا به يې خپل اهل وعيال ته واخيستل.([2])

---

[1] عقود الجمان لشيخ محمد يوسف شافعي(ص، ۱۹۴)ومناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه شمس الدين الذهبي(۱ج۲۵ص)قالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الهَرَوِيُّ: سَمِعْتُ يَزِيدَ بْنَ هَارُونَ، يَقُولُ: «مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَحْلَمَ مِنْ أَبِي حَنِيفَةَ».

[2] كمافى احقاق الحق(۴ج۱۱۴ص).

**دامام ابوحنيفه (رحمه الله) سخا او خرچ په فقيرانو**

امام ابو حنيفه (رحمه الله) په فقيرانو باندې ډېر خرچه کوونکې وو، پخپله يې تجارت کولو، خپل شاګرد يې امام ابويوسف (رحمه الله) وايې: چې خلکو به ويل چې امام ابو حنيفه (رحمه الله) الله تعالى ښايسته کړې دی په خپل علم، عمل، سخا، خرچ او اخلاقو قرآنيو سره.([1])

**دامام ابوحنيفه (رحمه الله) دالله تعالى (جل جلاله) څخه ويره**

﴿۱﴾يحيى بن معين (رحمه الله) وايې: چې دخپل استاد يحيى بن سعيد القطان (رحمه الله) نه مې اوريدلي، چې هغه به ويل، قسم په الله تعالى چې مونږ د امام ابو حنيفه (رحمه الله) سره ناسته او مجلس کړی دی، او مونږ دهغه نه اوريدنه او دهغه شاګردي کړې ده، قسم په الله چې کله به مې ورته وکتل، ما به دهغه په مخ مبارک کې پيژندل چې واقعي دا دالله عز وجل (جل جلاله) نه زيات ويريږي.([2])

﴿۲﴾موفق د مسعر بن کدام نه روايت کړی دی، چې ويې ويل: زه له ابو حنيفه (رحمه الله) سره روان وم، چې ناڅاپه امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نا خبرۍ کې ديوه ماشوم پښه دپښې لاندې کړه، هغه ماشوم امام ابو حنيفه (رحمه الله) ته

[1] عقود الجمان لشيخ محمد يوسف شافعي(ص، ۱۹۴)مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه شمس الدين الذهبي(۱ج۲۵ص)قَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْهَرَوِيُّ سَمِعْتُ يَزِيدَ بْنَ هَارُونَ، يَقُولُ: «مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَحْلَمَ مِنْ أَبِي حَنِيفَةَ.

[2] عقود الجمان(ص، ۱۸۴).

وویل: ای شیخه ! د قیامت د ورځې د قصاص نه ویرېږې؟ د دی خبرې په اورېدو سره په امام ابوحنیفه (رحمه الله) بې هوشي راغله او په ځمکه ولوېده اوزه ورته ودرېدم ! تر هغه چې په هوش راغلی، ورته مې وویل، ابوحنیفه ! د دی ماشوم په خبرې ستا په زړه باندی اغېزه وکړه؟ ویې ویل: ویرېږم چې دا خبره ورته الهام شوې وي !!!!

موفق له ابن مبارک (رحمه الله) نه روایت کوي چې ویل یې: سفیان ثوري ته مې وویل: امام ابوحنیفه (رحمه الله) له غیبت نه څومره لرې دی؟ هغې وویل چې هیڅ مې د امام ابوحنیفه (رحمه الله) څخه وا نهورېدل چې د خپلو دښمنانو غیبت یې کړی وي او دا یې هم وویل چې هر کله به دی امام ابوحنیفه (رحمه الله) لیده نو دژړا نښې به یې په سترګو کې ښکاره کېدلې.[1]

﴿۳﴾ یزید بن هارون (رحمه الله) وایې چې زه د ډیرو خلکو سره مخ شوم لکن ما هیڅوک د امام ابوحنیفه (رحمه الله) نه زیات عاقل، هوښیار او زیات ویریدونکې د الله تعالی څخه و نه لیدلو.[2]

﴿۴﴾ قال الْحَسَنُ بْنُ صَالِحِ بْنِ حُيَيٍّ: «كَانَ أَبُو حَنِيفَةَ شَدِيدَ الْخَوْفِ لِلَّهِ»

---

[1] د امام ابوحنیفه (رحمه الله) دژوند پلوشې (ص. ۴۰).

[2] عقود الجان (ص، ۲۰۱). نوځکه ویل کیږي: أَبُو مُسْلِمٍ الكجِّيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدٍ الكاتِبِ، عَنِ الخُرَيْبِيِّ. أنهُ قالَ: «يَجِبُ عَلى أَهْلِ الإِسْلامِ أنْ يَدْعُوا اللهَ لأَبِي حَنِيفَةَ (رحمه الله) فِي صَلَاتِهِمْ» ويَحْيَى بْنُ أَبِي طَالِبٍ، سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ عَاصِمٍ، يَقُولُ: «لَوْ وُزِنَ عِلْمُ أَبِي حَنِيفَةَ (رحمه الله) بِعِلْمِ أَهْلِ زَمَانِهِ لَرَجَحَ» وطَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ النَّخَعِيُّ. سَمِعْتُ حَفْصَ بْنَ غِيَاثٍ. يَقُولُ: «كَلامُ أَبِي حَنِيفَةَ (رحمه الله) أَدَقُّ مِنَ الشَّعْرِ لا يَعِيبُهُ إِلا جَاهِلٌ» مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه (١ج ٣٢ص).

**ژباړه:** حسن بن صالح بن حُيي وايې چې امام ابوحنيفه (رحمه الله) ډېر سخت او زيات د الله تعالى څخه ويريدونكې وو.(١)

﴿۵﴾په هدايه كې يو عبارت دى چې﴿وَيَجُوزُ بَيْعُ الْخُبْزِ بِالْحِنْطَةِ وَالدَّقِيقِ مُتَفَاضِلًا لِأَنَّ الْخُبْزَ صَارَ عَدَدِيًّا أَوْ مَوْزُونًا فَخَرَجَ مِنْ أَنْ يَكُونَ مَكِيلًا مِنْ كُلِّ وَجْهٍ وَالْحِنْطَةُ مَكِيلَةٌ وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ – رَحِمَهُ اللَّهُ – أَنَّهُ لَا خَيْرَ فِيهِ، وَالْفَتْوَى عَلَى الْأَوَّلِ﴾(٢)

**ژباړه:** فرمايې او ډوډۍ د غنمو او وړو په عوض متفاضلاً خرڅول جائز دي، ځكه چې ډوډۍ يا عددي ده او يا وزني ده، نو ډوډۍ من كل وجهٍ د كيلي كيدلو نه خالي ده، او غنم كيلي شې دى او د امام ابوحنيفه (رحمه الله) نه روايت دى چې په دى كې هيڅ خير نشته او فتوه په اول قول ده،(٣) او س وګوره چې امام ابوحنيفه (رحمه الله) د الله (جل جلاله) نه څومره ويريدونكې وو، اګر چې فتوه پرې ورکړى شوې ده خو امام ابوحنيفه (رحمه الله) بيا هم د الله (جل جلاله) نه ويرېږي او وايې چې خير پکې نشته

---

١ مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه (١ج١٨ص).

٢ الهداية في شرح بداية المبتدي (٣ج٧٥ص) والبناية شرح الهداية (٨ج٢٩٢ص) والعناية شرح الهداية (٧ج٣٧ص) والجوهرة النيرة (١ج٢١٥ص).

٣ اشرف الهداية (٥ج٣٧٥ص).

**دامام ابوحنیفه (رحمه الله) عقلمندي**

﴿۱﴾عبد الله ابن مبارک (رحمه الله) وایي: چې ما یو سړی هم د امام ابوحنیفه (رحمه الله) نه زیات عاقل نه دی لیدلی.(۱)

﴿۲﴾علي بن عاصم (رحمه الله) وایي ، که د امام ابو حنیفه (رحمه الله) عقل زمونږ د زماني د عقلونو سره وتللې شي، نو د امام صاحب عقل به پرې راجح او زیات وزن داروي.(۲) او دغه شان یو روایت دبکر بن خنیس نه هم دی.(۳)

تمّ الفصل الخامس بتوفيق الله تعالى

---

۱ عقود الجمان(ص، ۲۰۱).

۲ عربي عبارت دا دی: عن يحيى بن أبي طالب، سَمعتُ عليّ بن عاصم، يقولُ: «لو وُزِنَ عِلمُ أبي حَنيفة(رحمه الله) بِعلم أهلِ زَمَانِه لرَجحَ» مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(ا ج۳۲ص).

۳ عقود الجمان(ص، ۲۰۲).

## شپږم فصل

## دامام ابوحنيفه (رحمه الله) فقه، دقضاءڅخه انکار، دصحابوو (رضي الله عنهم) نه سماع اودهغې په اړه يوزيرې

دغه عنوانونه به انشاء الله په ترتيب سره، په لنډ ډول ذکر کړم.

**دامام ابو حنيفه (رحمه الله) فقه او فقاهت**

﴿١﴾شداد بن حکيم وايي: چې ما دامام ابوحنيفه (رحمه الله) نه زيات فقيه نه دی ليدلی.([1])

﴿٢﴾قَالَ حِبَّانُ بْنُ مُوسَى: سُئِلَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: "أَمَالِكٌ أَفْقَهُ أَمْ أَبُو حَنِيفَةَ؟"، فَقَالَ: أَبُو حَنِيفَةَ".([2])

**ژباړه:** حبان بن موسى (رحمه الله) وايې: چې د ابن مبارک (رحمه الله) نه پوښتنه وشوه چې امام مالک (رحمه الله) ښه پوهيدو که امام ابوحنيفه؟ نو هغه وويل: امام ابوحنيفه (رحمه الله).

﴿٣﴾قَالَ زَيْدُ بْنُ هَارُونَ: «أَفْقَهُ مَنْ رَأَيْتُ أَبُو حَنِيفَةَ»([3])

---

[1] عقود الجمان (ص، ١٢٠).

[2] مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه لشمس الدين الذهبي (١ج٣٢ص).

[3] مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه (١ج٣٠ص) قال يَحْيَى بْنُ أَكْثَمَ. عَنْ جَرِيرٍ. قَالَ: قَالَ لِي مُغِيرَةُ: «جَالِسْ أَبَا حَنِيفَةَ (رحمه الله) تَفْقَهْ، فَإِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَوْ كَانَ حَيًّا لَجَالَسَهُ».

ژباړه: زيد بن هارون(رحمه الله) وايي چې ما د امام ابو حنيفه(رحمه الله) نه زيات فقيه نه دى ليدلى.

﴿۴﴾الحَلْوَانِيُّ، قُلْتُ لأَبِي عَاصِمٍ النَّبِيلِ: «أَبُو حَنِيفَةَ أَفْقَهُ أَوْ سُفْيَانَ؟ فَقَالَ: أَبُو حَنِيفَةَ»([1])

---

[1] مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(ج١ ص٣٠) وفيه:
په دى كې د امام ابو حنيفه د فقه په اره داسې بيان شوي دي په لغة عربي کې:
قال: سَعِيدَ بْنَ أَبِي عَرُوبَة، يَقُولُ: «كَانَ أَبُو حَنِيفَة(رحمه الله) عَالِمَ العِرَاقِ».
قال: زَيْدُ بْنُ هَارُونَ: (أَفْقَهُ مَنْ رَأَيْتُ أَبُو حَنِيفَة(رحمه الله)).
قال عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُوسَى، سَمِعْتُ مِسْعَرًا، يَقُولُ: «رَحِمَ اللهُ أَبَا حَنِيفَة(رحمه الله) إِنْ كَانَ لَفَقِيهًا عَالِمًا».
قال يَحْيَى بْنُ أَكْثَمَ، عَنْ جَرِيرٍ، قَالَ: قَالَ لِي مُغِيرَةُ: «جَالِسْ أَبَا حَنِيفَة(رحمه الله) تَفْقَهْ، فَإِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَوْ كَانَ حَيًّا لَجَالَسَهُ».
قال حُسَيْنٌ الجُعْفِيُّ، سَمِعْتُ زَائِدَةَ بْنَ قُدَامَةَ، يَقُولُ: «النُّعْمَانُ بْنُ ثَابِتٍ(رحمه الله) فَقِيهُ البَدَنِ لَمْ يَعْدُ مَا أَدْرَكَ عَلَيْهِ أَهْلُ الكُوفَةِ».
قال: ابْنَ المُبَارَكِ، يَقُولُ: «كَانَ أَبُو حَنِيفَة(رحمه الله) آيَةً».
قال: مَكِّيَّ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: «كَانَ أَبُو حَنِيفَة(رحمه الله) أَعْلَمَ أَهْلِ زَمَانِهِ».
قال: الخُرَيْبِيُّ: «مَا يَقَعُ فِي أَبِي حَنِيفَة(رحمه الله) إِلا جَاهِلٌ أَوْ حَاسِدٌ».
قال: حِبَّانُ بْنُ مُوسَى: سُئِلَ ابْنُ المُبَارَكِ(رحمه الله): «أَمَالِكٌ(رحمه الله) أَفْقَهُ أَمْ أَبُو حَنِيفَة(رحمه الله)؟»، فَقَالَ: أَبُو حَنِيفَة(رحمه الله)».
قال: يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ القَطَّانِ، يَقُولُ: «لا نَكْذِبُ اللهَ مَا سَمِعْنَا أَحْسَنَ مِنْ رَأْيِ أَبِي حَنِيفَة(رحمه الله)، وَقَدْ أَخَذْنَا بِأَكْثَرِ أَقْوَالِهِ».
قال: سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّازِقِ، سَمِعْتُ ابْنَ المُبَارَكِ، يَقُولُ: «إِنْ كَانَ أَحَدٌ يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَقُولَ بِرَأْيِهِ، فَأَبُو حَنِيفَة(رحمه الله)».
قال: زَيْدُ بْنُ هَارُونَ مَا رَأَيْتُ أَعْلَمَ مِنْ أَبِي حَنِيفَة(رحمه الله) فِي زَمَانِهِ.
قال: إِسْحَاقُ بْنُ بُهْلُولٍ، سَمِعْتُ ابْنَ عُيَيْنَةَ، يَقُولُ: «مَا مَقَلَتْ عَيْنِي مِثْلَ أَبِي حَنِيفَة(رحمه الله)».

قال أحمدُ بنُ الصبّاحِ، سمعتُ الشافعيَّ، يقولُ قيلَ لمالكٍ: هل رأيتَ أبا حنيفةَ(رحمه الله)؟ قال: «نعم، رأيتُ رجلًا لو كلّمك في هذه السارية أن يجعلها ذهبًا لقام بحجّته».

قال أحمدُ بنُ محمدِ بنِ مُغَلّس: ثنا محمدُ بنُ مقاتلٍ. سمعتُ ابنَ المباركِ. يقولُ «إن كان الأثرُ قد عُرِفَ واحتيجَ إلى الرأيِ، فرأيُ مالكٍ وسفيانَ، وأبي حنيفةَ، وأبو حنيفةَ(رحمه الله) أحسنُهم وأدقُّهم فطنةً وأغوصُهم على الفقهِ وهو أفقهُ الثلاثةِ».

قال حسينُ الجعفيُّ، سمعتُ زائدةَ بنَ قدامةَ، يقولُ «النعمانُ بنُ ثابتٍ(رحمه الله) فقيهُ البدنِ لم يعدُ ما أدرك عليه أهلُ الكوفةِ»

قال بشرُ الحافي، سمعتُ عبدَ اللهِ بنَ داودَ الخُرَيبيَّ، يقولُ «إذا أردتَ الآثارَ، فسفيانَ الثوريَّ، وإذا أردتَ تلك الدقائقَ فأبو حنيفةَ(رحمه الله)».

قال روحُ بنُ عبادةَ، قال كنتُ عند ابنِ جُريجٍ، فقيلَ له ماتَ أبو حنيفةَ(رحمه الله)، فقال «رحمه اللهُ، لقد ذهب معه علمٌ كثيرٌ».

قال قال أبو داودَ السجستانيُّ «رحمَ اللهُ مالكًا كان إمامًا، رحمَ اللهُ أبا حنيفةَ(رحمه الله) كان إمامًا».

قال أبو يحيى بنُ أبي ميسرةَ، ثنا خلادُ بنُ يحيى، قال قال مسعرُ بنُ كدامٍ «طلبتُ مع أبي حنيفةَ(رحمه الله) الحديثَ، فغلبنا وأخذنا في الزهدِ، فبرعَ علينا وطلبنا معه الفقهَ، فجاء منه ما ترونَ».

قال عليُّ بنُ الحسنِ بنِ شقيقٍ، حدّثني إسحاقُ بنُ الحسنِ الكوفيُّ، قال جاء رجلٌ إلى سوقِ الخزّازينَ بالكوفةِ يسألُ عن دكانِ أبي حنيفةَ الفقيهِ، فقال له أبو حنيفةَ(رحمه الله): «ليس هو بفقيهٍ هو مفتٍ متكلّفٌ».

قال النضرُ بنُ شميلٍ كان الناسُ نيامًا عن الفقهِ حتى أيقظهم أبو حنيفةَ(رحمه الله) بما فتقه، وبيّنه

قال الشافعيُّ(رحمه الله): من أراد أن يتبحّرَ في الفقهِ فليلزم أبا حنيفةَ(رحمه الله) وأصحابَه

قال جعفرُ بنُ الربيعِ أقمتُ على أبي حنيفةَ(رحمه الله) خمسَ سنينَ فما رأيتُ أطولَ صمتًا منه، فإذا سُئِلَ عن شيءٍ في الفقهِ سال كالوادي وانظر مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح(١ج٠٣ص)ومناقب الامام ابي حنيفه(١ج٠٣ص).

ژباړه: حلواني وايي چې ما ابي عاصم ته وويل، چې امام ابوحنيفه (رحمه الله) ډير فقيه دی که امام ابوسفيان (رحمه الله)؟ نو هغه ويل: امام ابوحنيفه (رحمه الله).

﴿۵﴾نضربن شميل وايي: چې خلک دفقه نه غافل او ويده وو، تر دی چې امام ابوحنيفه (رحمه الله) راويښ او رابيدار کړل، هغه څه چې را خلاصه کړي يې دي، دقرآن او سنت نه.[۱]

﴿۶﴾قال الشَّافِعِيُّ، يَقُولُ: «النَّاسُ عِيَالٌ عَلَى أَبِي حَنِيفَةَ فِي الْفِقْهِ»[۲]

ژباړه: امام شافعي (رحمه الله) ويلي: چې خلک دامام ابوحنيفه (رحمه الله) اولاد دی په فقه کې.

﴿۷﴾د سفيان ثوري (رحمه الله) وررور وفات شوی وو، ډير خلک يې تعزيت ته جمع شوي وو، په دغه وخت کې امام ابوحنيفه (رحمه الله) سره د ملګرو راغلی، نو سفيان ثوري ورته راوچت شو او مخې ته ورته راغلو، ډير اکرام يې وکړو، او بيا يې په خپل ځاي باندی کينولو، او خپله ورته مخې ته کيناستلو، کله چې خلک لاړل، خپل ملګرو سفيان ثوري ته وويل، چې ډير نا آشنا کار دی وکړ، هغه ورته وويل چې ځکه ورته ودريدم چې په علم کې لوئ کمال لري، که دعلم دوجې ورته نه وی ولاړ نو دعمر د وجې به ورته

---

[۱] مرقاة المفاتيح(ا ج۷۹ص).
[۲] مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(ا ج۳۰ص).

ودريدم، أوكه دا هم نه وې نو دفقه دوجې به ورته ودريدم، او كه دا هم نه وې نو دزياتې تقوا دوجې به ورته ودريدم([1])

﴿٨﴾ قال: مَكِّيِّ بنِ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: ﴿كَانَ أَبُو حَنِيفَةَ (رحمه الله) أَعْلَمَ أَهْلِ زَمَانِهِ﴾([2]).

**ژباړه:** مكي بن ابراهيم وايي: چې زمونږ په زمانه كې ډير پوهيدونكې امام ابوحنيفه(رحمه الله) وو.

﴿٩﴾ قَالَ: زَيْدُ بْنُ هَارُونَ: ﴿مَا رَأَيْتُ أَعْلَمَ مِنْ أَبِي حَنِيفَةَ (رحمه الله) فِي زَمَانِهِ﴾([3]).

**ژباړه:** زيد بن هارون وايي: چې ما په خپله زمانه كې د امام ابوحنيفه(رحمه الله) نه ډير پوهيدونكې نه دى ليدلى.

داسې نور ډير اقوال ددى د فقاهت په باره كې راغلي دي، خو په همدې بسنه كوم.

[1] مرقات(١ج٧٩ص) عبارت يې دا دى(مَاتَ أَخُو سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ فَاجْتَمَعَ إِلَيْهِ النَّاسُ لِعَزَائِهِ. فَجَاءَ أَبُو حَنِيفَةَ فَقَامَ إِلَيْهِ سُفْيَانُ، وَأَكْرَمَهُ، وَأَقْعَدَهُ فِي مَكَانِهِ وَقَعَدَ بَيْنَ يَدَيْهِ، وَلَمَّا تَفَرَّقَ النَّاسُ قَالَ أَصْحَابُ سُفْيَانَ رَأَيْنَاكَ فَعَلْتَ شَيْئًا عَجِيبًا ا قَالَ: هَذَا رَجُلٌ مِنَ الْعِلْمِ بِمَكَانٍ. فَإِنْ لَمْ أَقُمْ لِعِلْمِهِ قُمْتُ لِسِنِّهِ، وَإِنْ لَمْ أَقُمْ لِسِنِّهِ قُمْتُ لِفِقْهِهِ، وَإِنْ لَمْ أَقُمْ لِفِقْهِهِ قُمْتُ لِوَرَعِهِ).

[2] مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(ص. ٣٢) لشمس الدين الذهبي.

[3] مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(ص، ٣٠) لشمس الدين الذهبي.

**د امام ابوحنيفه(رحمه الله)دقضاء څخه انکار او دهغې بندي کېدل**

ابو جعفر منصور امام ابو حنيفه(رحمه الله)د کوفې څخه بغداد ته راوغوښت او غوښتنه يې ترې د قضاء وکړه، چې ته به قاضي القضات جوړ شې. او دټول اسلامي ښارونو قاضيان به ستا دلاس لاندې وي، نو امام ابو حنيفه(رحمه الله) دغه خبره ونه منله، او په ډېرو علتونو يې عذر وړاندې کړ، نو منصور باچا قسم وکړ چې که زما خبر ونه منې نو خامخا به يې په زندان کې اچوم، بيا امام ابو حنيفه(رحمه الله) انکار وکړ نو منصور باچا وويل چې بندي يې کړې بيا يې بندي کړ، استاذې اوجرګې به يې ورپسې ليږل چې قضاء وکړي، بيا امام ابو حنيفه(رحمه الله) انکار وکړ، بيا منصور امر وکړ چې دا دې بندي شي، او هره ورځ دې په دورو ووهل شي، نو لس لس دورې ورکړې شوې، او په بازارونو کې يې ورپسې ماشومان کړ او چغې يې ورپسې ووهلې کله چې دغه وهل دوامداره شو، نو امام ابو حنيفه رحمه الله په سلګو سلګو وژړل او درب نه يې دعا ګانې وغوښتلې، ددې نه پنځه ورځې وروسته بيا وفات شو، او دده نه دقضاء غوښتنه درې وارې شوې ده چې دا په تفصيلي ډول دمناقبو په کتابونو کې کتلې شي.[1]

---

[1] نعمة المنان(ص، ۱۰۲)وعقود الجمان(ص، ۲۸۳)وفی مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(اج۲۵ص) قالَ عَلِيُّ بْنُ مَعْبَدِ بْنِ شَدَّادٍ: ثنا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو الرَّقِّيُّ. قالَ: "ضَرَبَ ابْنُ هُبَيْرَةَ أبا حَنِيفَةَ على أنْ يَلِيَ القَضَاءَ، فأبى، فقالَ النّاسُ: اسْتَتَابَهُ". وَذُكِرَ أبُو حَنِيفَةَ عِنْدَ ابْنِ المُبَارَكِ، فقالَ: مَاذَا يُقالُ فِي رَجُلٍ عُرِضَتْ عَلَيْهِ الدُّنْيَا وَالأمْوالُ. فَنَبَذَهَا. وَضُرِبَ بِالسِّيَاطِ فَصَبَرَ عَلَيْهَا، وَلَمْ يَدْخُلْ فِيمَا كَانَ غَيْرُهُ يَسْتَدْعِيهِ؟ امُحَمَّدُ بْنُ شُجَاعٍ الثَّلْجِيُّ: حَدَّثَنِي حِبَّانُ رَجُلٌ مِنْ

**داامام ابوحنیفه (رحمه الله) په اړه یو زیری**

امام ابوحنیفه (رحمه الله) لمړنې هغه کس دی چې تدوین یې د علم فقه وکړ. او په بابونو باندې یې مرتب کړه، لکه. اول طهارت، دویم صلاة، دریم صوم.....او بیا به یې ختمول په میراث باندې وو، او اول واضع یې بیا امام مالک (رحمه الله) دی، چې د موطاء په ترتیب کې یې د دی اتباع وکړه، او مشهور محدث اسرائیل (رحمه الله) متوفی(۱۲۲هـ) وایې: چې د امام ابوحنیفه (رحمه الله) هغه احادیث چې په فقه کې به یې تری استنباط

---

أصْحَابِ أَبِي حَنِيفَةَ، قَالَ: قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ حِينَ ضُرِبَ لِيَلِيَ الْقَضَاءَ «مَا أَصَابَنِي فِي ضَرْبِي شَيْءٌ أَشَدَّ عَلَيَّ مِنْ غَمِّ وَالِدَتِي. وَكَانَ بِهَا بَرًّا» يَعْقُوبُ بْنُ شَيْبَةَ. ثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ الْمُبَارَكِ. نَا بِشْرُ بْنُ الْوَلِيدِ . قَالَ: «أَشْخَصَ الْمَنْصُورُ أَبَا حَنِيفَةَ، فَأَرَادَهُ عَلَى أَنْ يُوَلِّيَهُ، فَأَبَى فَحَلَفَ عَلَيْهِ لَيَفْعَلَنَّ وَحَلَفَ أَبُو حَنِيفَةَ أَنْ لَا يَفْعَلَ. فَقَالَ الرَّبِيعُ الْحَاجِبُ أَلَا تَرَى أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ يَحْلِفُ؟ ! قَالَ: أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى كَفَّارَةِ أَيْمَانِهِ أَقْدَرُ مِنِّي، فَأَبَى أَنْ يَلِيَ، فَأَمَرَ بِهِ إِلَى السِّجْنِ، فَمَاتَ فِيهِ وفی مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح(ج۱ص۳۰) عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، وَوَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ، وَخَلَائِقُ لَا يُحْصَوْنَ وَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ، وَكَانَ يَزِيدُ بْنُ هُبَيْرَةَ وَالِيًا عَلَى الْعِرَاقِ لِبَنِي أُمَيَّةَ فَكَلَّمَهُ فِي أَنْ يَلِيَ لَهُ قَضَاءَ الْكُوفَةِ ؛ فَأَبَى عَلَيْهِ ؛ فَضَرَبَهُ مِائَةَ سَوْطٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ عَشَرَةَ أَسْوَاطٍ، وَهُوَ مُصَمِّمٌ عَلَى الِامْتِنَاعِ، فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ مِنْهُ خَلَّى سَبِيلَهُ وَكَانَ الْإِمَامُ أَحْمَدُ إِذَا ذَكَرَ ضَرْبَهُ عَلَى الْقَضَاءِ، وَامْتِنَاعَهُ مِنْهُ بَكَى، وَتَرَحَّمَ عَلَيْهِ. قُلْتُ وَكَأَنَّهُ اقْتَدَى بِهِ فِي تَحَمُّلِ ضَرْبِهِ فِي مَسْأَلَةِ خَلْقِ الْقُرْآنِ وَاسْتَدْعَاهُ الْمَنْصُورُ أَبُو جَعْفَرٍ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ مِنَ الْكُوفَةِ إِلَى بَغْدَادَ لِيُوَلِّيَهُ الْقَضَاءَ فَأَبَى. فَحَلَفَ عَلَيْهِ لَيَفْعَلَنَّ. فَحَلَفَ أَبُو حَنِيفَةَ أَنَّهُ لَا يَفْعَلُ، وَتَكَرَّرَ هَذَا مِنْهُمَا ؛ فَقَالَ الرَّبِيعُ الْحَاجِبُ أَلَا تَرَى أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ يَحْلِفُ؟ قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى كَفَّارَةِ أَيْمَانِهِ أَقْدَرُ مِنِّي عَلَى كَفَّارَةِ أَيْمَانِي ؛ فَأَمَرَ بِهِ إِلَى السِّجْنِ فِي الْوَقْتِ وَفِي رِوَايَةٍ دَعَاهُ أَبُو جَعْفَرٍ إِلَى الْقَضَاءِ فَأَبَى فَحَبَسَهُ، ثُمَّ دَعَا بِهِ فَقَالَ: أَتَرْغَبُ عَمَّا نَحْنُ فِيهِ؟ فَقَالَ: أَصْلَحَ اللهُ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ؛ لَا أَصْلُحُ لِلْقَضَاءِ ؛ فَقَالَ لَهُ كَذَبْتَ. ثُمَّ عَرَضَ عَلَيْهِ فَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ قَدْ حَكَمَ عَلَيَّ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ أَنْ لَا أَصْلُحَ لِلْقَضَاءِ.

کولو، ښه په اعلا طریقه ورته یاد وو، او په فقهي مسائلو کې ښه پوهیدونکې وو.([1])

نو ددی وجې نه امام عبدالله بن داؤد متوفی(۲۱۳هـ) وایي﴿یَجِبُ عَلَى أَهْلِ الإِسْلَامِ أَنْ يَدْعُوا اللّٰهَ لأَبِي حَنِيفَةَ فِي صَلَاتِهِمْ، قال وذكر حفظه عليهم السنن والفقه﴾([2])

**ژباړه:** پر مسلمانانو واجب ده چې امام ابو حنیفه(رحمه الله) ته په مانځه کې دعاء وکړي، اوداذکر یې هم وکړو چې امام ابو حنیفه(رحمه الله) د مسلمانانو لپاره حدیث او فقه محفوظ کړل.

**د امام ابوحنیفه(رحمه الله) د صحابه وو(رضي الله عنهم) نه سماع**

شیخ محمد شافعي په تبییض الصحیفه نومي کتاب کې(۲۱-۲۹ص) پورې دغه نومونه راخیستي دي او امام سیوطي(رحمه الله) په عقود الجمان کې(۵۰-۷۱ص) پورې ذکر کړي، چې هغه دادي.

1. انس بن مالک(رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) وفات یې(۹۳هـ).
2. عمرو بن حریث(رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) وفات یې(۸۵هـ).
3. عبدالله بن ابي اوفی(رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) وفات یې(۸۷هـ).
4. ابوطفیل عامر بن واثلة(رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) وفات یې(۱۰۲هـ).
5. سائب بن یزید(رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) وفات یې( ۹۹هـ).
6. عبدالله بن بسر(رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) وفات یې(۹۲هـ).
7. محمود بن ربیع(رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) وفات یې(۹۹هـ).

---

[1] تاریخ بغداد(۱۳ج۳۳۹ص).

[2] البدایة والنهایة(۱ج۱۰۷ص) وتاریخ بغداد(۱۳ج۳۴۲ص) واحقاق الحق(۴ج۱۴۹ص).

## دامام ابوحنيفه (رحمه الله) تجارت

عمر بن ابي حنيفه رحمهم الله وايې چې امام ابوحنيفه رحمه الله دوريښمو تاجر وو، او دوكان يې په سراى دعمرو بن حريث كې وو .[1] او امام ابوحنيفه(رحمه الله) په تجارت كې دغه صفات ګټلي وو.

﴿۱﴾غني زړه واله وو، او دچانه يې طمعه نه كوله

﴿۲﴾دامانت خاوند وو، تردې چې دعظيم الامانت صفت وركړى شوى وو، يعني لوئ امانت واله.[2]

﴿۳﴾ډير ديندار او رښتيا ويونكې وو.[3]

تم الفصل الخامس بتوفيق الله تعالى

---

[1] سيراعلام النبلاء شمس الدين الذهبي و(۲ج۵۲٦ص) وتهذيب التهذيب(۱۰ج۴۴۹ص).

[2] مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(۱ج۴۱ص) وفيه: قالَ أبُو نُعَيْم: «كانَ أبُو حَنِيفَةَ حَسَنَ الدِّينِ، عَظِيمَ الأمَانَةِ».

[3] احقاق الحق(۴ج۱۱۸ص). په احاديثو كې هم د رښتنيني تاجر يادونه شوې(۱) عَنْ أبِي سَعِيدٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ(التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الأمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ) ترمذي(۱۱۳۰) وسنن دارقطني(۲۸۱۳) سنن دارمي(۲۵۳۸) ومسند الصحابة(۲۱ج۴۷۱ص).
(۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قالَ: قالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الأمِينُ الْمُسْلِمُ مَعَ الشُّهَدَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». وَقَالَ الْفَضْلُ: «مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» سنن دارقطني(۲۸۱۲).

## اووم فصل

## دامام ابوحنیفه (رحمه الله) ازمېښتونه اودهغې حوصله

کله چې سړی دځلورګونو امامانو ستونزو او هغه مشکلاتو ته وګوري چې دوی داسلام مقدس دین دخورولو لپاره تیر کړي، نو سړی حیران پاتې کیږي، ځکه چې دوی داسلام مقدس دین خپریدل غوښتل اوهمدغه یې یواځینی هیله هم وه، خو ددی مبارک دین په خاطر په دوی باندی ډیر تکالیف، ستونزې او مشکلات راغلل خو دوی یواځې او یواځې دیو ښنوونکي الله څخه مدد غوښتلی دی، اګرچې ډیرتعذیب شول، تردی چې ځیني ددی شګنجیو اوسختیو په نتیجه کې په شهادت ورسیدل، او ځینې مرګ ته نږدی شول، چې له هغوی څخه یو امام ابوحنیفه (رحمه الله) دی، چې ډیرتکالیف یې وګالل، دهغې ابتلاګانو او تکلیفونو یوه برخه به یې زه دلته ذکر کړم.

### دامام ابوحنیفه (رحمه الله) لومړنی ازمېښت

دغه ازمېښت په کال (۱۲۷هـ، ق) کې هغه وخت راپیښ شو، چې مروان بن محمد اموي خلیفه وو، او خوارجو دضحاک بن قیس شیباني په قیادت سره دکوفې ښار اشغال کړ، هغه په دی ډول وو، چې ضحاک او هغه ډله چې ورسره وه امام ابوحنیفه (رحمه الله) ته لاړل، او له هغه نه یې وغوښتل چې توبه وکړي! امام ابوحنیفه (رحمه الله) وویل: دڅه نه توبه وکړم؟ ضحاک بیا وویل: توبه وباسه! امام ابوحنیفه (رحمه الله) وویل: له څه نه توبه وباسم؟ هغه وویل: له

دی نه چې د علي او معاویه رضي الله عنهما په منځ کې په حکمیت باندې راضي يې !امام ابوحنیفه(رحمه الله)وویل: ایا په دی اړه له ما سره مناظره کوئ؟ویې ویل: هو !امام ابوحنیفه(رحمه الله)وویل: کله چې سره اختلاف وکړو ، نو څوک به حکم وټاکو . چې زمونږ په برخه کې فیصله وکړي؟ویې ویل فلان: ایا راضي یې چې هماغه فلانی زما او ستا په منځ کې حکمت ته کیني؟ویې ویل: هو !امام ابوحنیفه(رحمه الله) وویل: اوس ته پخپله په حکمت راضي شوې، نو په دې ډول ضحاک پرشو او لاړ.

فقیه محدث ملا علي قاري(رحمه الله) وایې: دا چې په ځینو روایاتو کې دامام ابوحنیفه(رحمه الله)څخه د دوو ځلو لپاره د توبې غوښتنه شوې بل څه نه دي، مګر دا چې د خوارجو له پلوه ترې استتابت شوې، البته خوارج هغه کسان دي، چې علي رضي الله عنه او د صحابه کرامو رضي الله عنهم مشران یې تکفیر کړل او له هغوی سره وجنګیدل.[1]

**دامام ابوحنیفه(رحمه الله)دوهم ازمېښت**

په هغه وخت کې د خوارجو په دور کې د خوارجو یو وفد امام ابوحنیفه(رحمه الله)ته ولاړ، د دوی په لاسونو کې له تیکو نه وتلي توري وې، نو دوی امام ابوحنیفه(رحمه الله)ته وویل: د مسجد په دروازه کې د دوی جنازې دي یوه جنازه د هغه سړي ده، چې شراب یې څښلې او د هغه په اثر مړ شوی،

[1] دامام ابوحنیفه(رحمه الله)دژوند پلوشې(ص، ۱۳۲).

اوبله جنازه دهغې دښځې ده، چې زنا یې کړې ده اوحامله شوې ده. خو چې کله په خپلې حامله کېدو مطئنه شوې ځان یې وژلې اددې باره کې څه نظر لرې؟

امام ابوحنیفه(رحمه الله)وفرمایل: هغوئ له کوم أمت څخه وو؟ایا هغوئ له یهودو له ملت څخه وو، هغوئ وویل: نه! امام ابوحنیفه(رحمه الله)وویل: له مجوسو څخه وو؟ هغوی وویل: نه ! نو بیا امام ابوحنیفه(رحمه الله)وویل: نو هغوی له کوم ملت څخه وو، هغوی وویل: له هغه ملت څخه چې شهادت ورکوي له الله تعالی جل جلاله پرته بل الله نشته او محمد صلی الله علیه وسلم دالله تعالی رسول، بنده او استازی دی! امام ابوحنیفه(رحمه الله) وویل: ددې شهادت په اړه ماته معلومات راکړئ، چې د ایمان ثلث دی یا دهغه ربع اوخمس(ځلورمه او پنځمه برخه)هغوی وویل: ایمان ثلث، ربع او خمس نه لري اهغه وویل: ووایې چې شهادت دایمان څومه برخه ده؟هغوی وویل: ټول ایمان اویې ویل: نو دهغوکسانو په اړه چې په خپله دهغوی په ایمان قانع شوئ، او همدارنګه اقرار مو وکړ. له مانه څه پوښتنه کوئ؟هغوی وویل: داخبره پرېږده امونږ ته دا ووایه چې دوی جنتیان دي که دوزخیان؟امام ابوحنیفه(رحمه الله) وویل: زه د دوی په اړه هغه خبره کوم چې ابراهیم علیه السلام دهغو خلکو په اړه چې دهغوی جرم له دوی نه ډیر ګران اوسخت وو ویلي دي:

﴿فَمَنْ تَبِعَنِيْ فَاِنَّهٗ مِنِّيْ ۚ وَ مَنْ عَصَانِيْ فَاِنَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾(1)

**ژباړه:** څوک چې زما په کړنلاره لاړ، هغه زما دي او څوک چې زما پرخلاف کړنلاره غوره کړي، نو یقیني ډول ته بښونکی مهربان یې.

او بله خبره کوم چې عیسی علیه السلام دهغو کسانو په اړه چې له دې دوو تنو څخه ډیر مجرم وو، وویل:

﴿اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۚ وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ﴾(2).

**ژباړه:** اوس که ته هغوی ته سزا ورکړې، نو هغوی ستا بنده ګان دي او که بښنه ورته وکړی، نو ته برلاسې دحکمت خاوند یې.

او دهغو دوو تنو په اړه دنوح علیه السلام قول، چې قوم یې ورته وویل:

﴿قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لَكَ وَ اتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ۝ قَالَ وَ مَا عِلْمِيْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ اِنْ حِسَابُهُمْ اِلَّا عَلٰى رَبِّيْ لَوْ تَشْعُرُوْنَ ۝ وَ مَآ اَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝﴾(3)

**ژباړه:** هغوی وویل: ایا مونږ تا ومنو، په داسې حال کې چې ستا پیروي ډیرو رذیلو خلکو غوره کړې ده، نوح علیه السلام وویل: زه څه پوهیږم، چې دهغو عمل څنګه دی، دهغو حساب خو زما درب په ذمه دی، کاشکې تاسې له یو څه تصویر نه کار واخلئ، زما دا کار نه دی، چې څوک ایمان راوړي زه هغوی وشړم.

---

(1) سُوْرَةُ اِبْرٰهِيْم، آیت نمبر (۳۶).

(2) سُوْرَةُ الْمَآئِدَة، آیت نمبر (۱۱۸).

(3) سُوْرَةُ الشُّعَرَآء، آیت نمبر (۱۱۴).

او همدارنګه د نوح علیه السلام بله وینا تکرار وم چې ویې ویل:

﴿ وَلَآ اَقُوۡلُ لَكُمۡ عِنۡدِىۡ خَزَآٮِٕنُ اللّٰهِ وَلَاۤ اَعۡلَمُ الۡغَيۡبَ وَلَاۤ اَقُوۡلُ اِنِّىۡ مَلَكٌ وَّلَاۤ اَقُوۡلُ لِلَّذِيۡنَ تَزۡدَرِىۡۤ اَعۡيُنُكُمۡ لَنۡ يُّؤۡتِيَهُمُ اللّٰهُ خَيۡرًا ؕ اَللّٰهُ اَعۡلَمُ بِمَا فِىۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ ۖۚ اِنِّىۡۤ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيۡنَ ۝﴾[1]

**ژباړه:** او نه وایم زه تاسو ته چې ما سره اختیار د خزانو د الله تعالی دی، او نه پوهېږم زه په غیب باندې او نه وایم چې زه مالک یم. او نه وایم په باره د هغه کسانو کې چې سپک یې ګڼلي ستر ګې ستاسو هیچیرې، به ورنه کړي. الله تعالی دوی ته څه خیر، الله تعالی ښه پوهیږي، او په هغه څه چې په زړونو د دوی کې دي، یقیناً څه به په دغه وخت کې خامخا د ظالمانو نه یم(نعوذ بالله).

کله چې خوارجو دا خبرې واورېدلې، نو سلاح یې په ځمکه کېښوده او ولاړل، که چیرې امام ابوحنیفه(رحمه الله) د خبرو په لومړیو شیبو کې دا ځواب ورکاوه، چې هغه دواړه مؤمنان دي انو خوارجو بیا امام ابوحنیفه(رحمه الله) واژه، ځکه هغوی د کبیره ګناه مرتکب کافر ګڼي.

---

[1] سورۃ هود، آیت نمبر(۳۱)

**دامام ابوحنيفه (رحمه الله) دربیم ازمېښت**

دا ازمېښت په (۱۳۰هـ، ق) کال کې پيښ شو. هغه وخت امام ابوحنيفه (رحمه الله) پنځوس کلنۍ ته رسيدلې و او دحکومت واګې نوې دبني اميه کورنۍ ته رسيدلې وې، چې په هغه وخت کې دکوفې امير عمرو بن هبيره وو.

**موفق (رحمه الله) ليکي:** ابن هبيره دبني اميه په وخت کې دکوفې والي وو، دهغه په دوران کې عراق دفتنو د راپورته کيدو مرکز وګرځيد، هغه دعراق علماء او فقهاء دخپل دربار د دروازې په مخ کې راټول کړل، دعلماؤ په منځ کې ابن ابي ليلى، ابن شبرمه او داؤد بن ابي هند هم ول، ددغو علماؤ هريو تن ديو ماموريت په رأس کې رسماً وګمارل شو او يو تن يې دامام ابوحنيفه (رحمه الله) پسې وليږه، او غوښتل يې چې (مهر) امام ابوحنيفه (رحمه الله) ته وسپاري، داسې چې هيڅ حکم دامام ابوحنيفه (رحمه الله) دموافقې پرته صادر نه شي، او امام ابوحنيفه (رحمه الله) له رضا نه پرته هيڅ خيز دی له بيت المال څخه نه ايستل کيږي، مګر امام ابوحنيفه (رحمه الله) ددې څخه انکار وکړ. او ابن هبيره سوګند ياد کړ چې د ردولو وروسته به امام ابوحنيفه (رحمه الله) تر وهلو او ټکولو لاندې نيول کيږي، نوموړي فقهاؤ امام ابوحنيفه (رحمه الله) ته وويل: مونږ تا ته په الله تعالى باندې سوګند درکوو، چې ځان پخپله په هلاکت کې مه غورځوه، مونږ ستا ورونه يو، او ټول دا ښه نه ګڼو چې دغه حکومتي مسئوليتونه ومنو، مګر بله چاره نه لرو. امام ابوحنيفه (رحمه الله) وويل: که چيرې له مانه وغواړي، چې ددې جومات دروازې ورته

پرانیزم، نو دا کار به ونه کړم، داخو لا لرې خبره ده، چې ما ته ووایې چې دفلانکي سرې دمرګ حکم صادر کړه، او زه ورته لبیک ووایم، په الله تعالی سوګند یادوم چې زه به هیڅ کله دا کار ونه کړم. ابن ابي لیلی وویل: هغه پرېږدئ!

نظر یې صائب دی، او د نورو نظر غلط. بیا پولیس راغلل او امام ابوحنیفه(رحمه الله) یې ونیو او بندي یې کړ، او پر له پسې ترڅو ورځو یې تر وهلو ټکولو لاندې ونیو، څو ورځې وروسته پولیس ابن هبیره ته ولاړ، او ورته یې وویل: چې دا سړی به د ډیرو وهلو په نتیجه کې له منځه لاړ شي، ابن هبیره وویل: چې ورته ووایه چې دا وظیفه ومنه اتر څو مونږ په خپل سوګند کې حانث نه شو، کله چې دا خبره امام ابوحنیفه(رحمه الله) ته ورسیده. نو په خواب کې یې وویل: په الله سوګند یادوم، چې که چیرې دوی له مانه وغواړي، چې دجمات دروازې ورته پرانیزم، زه به دا کار ونه کړم، دبل ځل لپاره پولیس بیا ابن هبیره ته ولاړ، تر څو امام ابوحنیفه(رحمه الله) په اړه خبر تری واخلي، ابن هبیره وویل: چې دا محبوس کوم دوست نه لري، چې له مانه وغواړي او دغه موضوع ورته تاخیر کړم؟کله چې امام ابوحنیفه(رحمه الله) له دی موضوع نه خبر کړای شو. نو ویې ویل: چې ما پرېږدئ څو له خپلو دوستانو سره مشوره وکړم، او بیا په دې اړه تصمیم ونیسم، ابن هبیره امر وکړ، چې خلاص یې کړئ، کله چې خلاص شو، پر آس یې ټپنه واړوله، او په تیښته مکې ته ولاړ، او هلته دعباسیانو تر راتګه پورې پاتې شو، او ابوجعفر منصور په دوران کې کوفې ته ولاړ، ددی په دې ازمېښت کې په سر او هر اندام باندې دې لس لس قمچینې ووهل شو. لس ورځې چې مجموعاً په لسو ورځو کې سلو قمچینو ته ورسید، هغه رحمه الله په دې ټوله موده

کې صابر وو، او هیڅ شکایت یې نه کاوه، تر هغه چې دوهلو او ټکولو اثار یې په مخ را بر سیره شو، هغه له دې پلوه سخت غمګین شو، چې مور یې هغه وګوري او خفه به شي، همدارنګه هم وشو، مور یې ولیده او ډیره خفه شوه، او ویې ویل: هغه علم چې دې حال ته رسولې یې، ښه داده چې پرېږدې! هغه دخپلې مور په ځواب کې وویل: دعلم نه مې که دا پلان غوره کړی وایې، چې د دنیا ناز او نعمت تر لاسه کړم، نو اوس به دې هدف ته رسیدلې ووم، مګر ما وغوښته چې خپل پالونکي الله ته دا وښایم، چې ما علم حاصل کړی او ځان مې هلاکت ته نه دې غورځولی.

**دامام ابو حنیفه (رحمه الله) خلورم ازمېښت**

امام ابوحنیفه (رحمه الله) داسې عادت درلود، چې هیڅکله به دحق وینا څخه نه ایساریده، همیشه به یې حق وینا کوله، امام ابوحنیفه (رحمه الله) به دکوفې په قاضیانو انتقاد کاوه او دهغوی ځینو فیصلو غلطي به یې بیانوله، چې دهغه دا کار به قاضیانو حسد او کینه دده په نسبت پاروله، او هغوی به یې دده په نسبت بدګمانه کول، او کله کله به دغو قاضیانو امیرانو ته دهغه شکایت کاوه، لکه چې روایت شوی: دکوفې قاضي ابن ابي لیلی له هغه نه شکایت وکړ او دهمدغه شکایت په اثر امیر حکم وکړ، چې امام ابوحنیفه (رحمه الله) دې تر یوې مودې پورې فتوه نه ورکوي، سر بیره پر دې امام ابوحنیفه (رحمه الله) د ډیرو خلکو له پلوه دحسد مورد ګرځیده او ډیرو به یا دجهل او ناداني له مخې، او یا دحسد په بناء امام ابوحنیفه (رحمه الله) پسې خبرې کولې او دامام ابوحنیفه (رحمه الله) په اړه یې ښه نظر نه درلود، مثلاً خطیب بغدادي (رحمه الله) په خپل تاریخ کې روایت کوي، چې ابوالعباس طوسي دامام ابوحنیفه (رحمه الله) په اړه بد نظر درلود، او امام ابوحنیفه (رحمه الله)

هم په دې باندې ښه پوهېده، یوه ورځ امام ابوحنیفه(رحمه الله) په داسې حال کې د ابوجعفر منصور دربار ته حاضر شو، چې هلته نور ډېر خلک هم ناست ول.
کله چې د طوسي نظر پرې ولګېده، ویې ویل: چې نن ابوحنیفه وژنم، بیا ورته راغې او ویې ویل: چې ای ابوحنیفه! خلیفه مونږ ته د داسې یوه سړي د وژلو حکم کوي، چې جرم یې مونږ ته نه دی ثابت شوی، ایا مونږ ته جائز دي چې دا کار وکړو؟ امام ابوحنیفه(رحمه الله) په ځواب کې ورته وویل: ای ابوالعباس! ایا امیرالمؤمنین په حق باندې امر کوي یا په باطل؟ ویې ویل: په حق باندې! نو امام ابوحنیفه(رحمه الله) ورته وویل: حق چې هر چیرې دی نافذ یې کړه! او د هغه په اړه له چانه پوښتنه مه کوه! بیا امام ابوحنیفه(رحمه الله) هغه چا ته چې په څنګ کې یې ناست وو، وویل: دې غوښتل چې ما وتړي، مګر ما هغه وتړه!
شاید دا ټول علتونه یعني د امام ابوحنیفه رحمه الله حقه وینا، د حاسدو او جاهلو خلکو حسادت او په قاضیانو باندې د هغه انتقاد ابوجعفر منصور یې دې ته وهڅاوه، چې د قضاء منصب ورته وړاندې کړي که یې ومني انو د هغه دا کار په دې کې دی، چې دولت تاییدوي او دولت تایید باندې د دې جوګه کوي، چې تقویه شي، او د احترام وړ وګرځي، او بل دا چې د علماؤ ممتازه ډله د خلافت سلطه ومني، او له فرمانونو څخه به یې اطاعت وکړي، او که دا دنده یې ونه منله، نو د وژلو به یې ښه بهانه پیدا شي.

تمّ الفصل السابع بتوفیق الله تعالیٰ

## اتم فصل

## دامام ابوحنيفه (رحمه الله) استاذان او شاګردان

### دامام ابوحنيفه (رحمه الله) استاذان

**په دی کې څو اقوال دي:**

﴿۱﴾ د دی د استادانو شمير څلور زره (۴۰۰۰) دی. [1]

﴿۲﴾ بعض وايي: چې دا څلور زره (۴۰۰۰) استاذان يې صرف تابعين دي. [2]

﴿۳﴾ په عقود الجمان کې بيا په نمبر سره دری سوه دوه ويشت (۳۲۲) ذکر کړي دي. [3]

﴿۴﴾ په تذکرة الحافظ او سير اعلام کې هم يادونه شوې ده. [4]

﴿۵﴾ امام جلال الدين سيوطي اتيا (۸۰) ذکر کړي. [5]

﴿۶﴾ په اسماء الرجال کې پنځوس (۵۰) ذکر شوي دي. [6]

---

[1] تبيض الصحيفه للامام السيوطي (ص. ۷۱) و عقود الجمان (ص. ۲۲).

[2] تبيض الصحيفه (ص، ۷۰).

[3] عقود الجمان (ص. ۲۲).

[4] تذکرة الحافظ (۱ج ۲۰۷ص) و سير اعلام (۷ج ۲۳۳ص).

[5] تبيض الصحيفه (۷۰-۸۲ص).

[6] تهذيب الکمال فی اسماء الرجال (۱۳ج ۲۹-۴۱۸).

﴿۷﴾بعضې وايي، چې امام ابو حنيفه(رحمه الله) پنځه پنځوس(۵۵) ځله د بيت الله حج ته تللې وو. نو په دې پنځه پنځوس(۵۵) کلونو په موده کې چې(۱۹۸۰۰)ورځې کيږي. نو امام ابو حنيفه(رحمه الله) د څلور زره استادانو سره ملاقات وکړ، د چا نه ډير، د چانه کم، دچانه يو حديث او د چانه يوه مسئله ولې نه وي زده يې کړه.

﴿۸﴾امام ابو حفص کبير(رحمه الله)له هغه څخه وروسته چې د امام له شيوخو او استادانو شمير يادوي، وايي: ځينې علماء په دې برخه کې يو﴿جلدي﴾ تصنيفونه لري. او هغه چې د الفباء تورو په ترتيب مرتب کړي دي، د﴿قلائد عقود العقيان﴾مؤلف وايي: له دغه شمير نه له ماجراجو، جاهل او حاسد نه پرته بل څوک نه منکريږي([1])

**يوشاعرد خپلو گناهونو په اړه وايي:**

استغفرُ اللهَ منْ ذُنوب
افرَطْتُ فيهِنّ واعتَدَيْتُ
فلَيتَني كُنتُ قبل هذا
نَسْياً ولَمْ اجْنِ ما جنَيْتُ
فالَموتُ للمُجْرمين خيرٌ
من المَساعي التي سعَيْتُ
يا رَبِّ عفواً فانْتَ أهلٌ

---

[1] د امام ابو حنيفه(رحمه الله)د ژوند پلوشې(ص، ۱۲).

للعَفْوِ عنّي وإنْ عصَيْتُ[1]

**ژباړه:** زه د الله تعالی (ﷻ) نه د هغه ګناهونو مغفرت غواړم، چې په کومو کې له مانه زياتې شوی، او ما د حد نه تجاوز کړی دی، کاش چې زه د هغه جرم نه مخکې مخکې نيست نابود شوې وې، او هغه جرمونه مې نه وی کړي کوم چې له مانه شوي دي، ځکه د مجرمانو د پاره د دغه حرکتونو په مقابله کې مرګ بهتر دی کوم چې ما کړي دي، ای ځما ربه اما ته معافي وکړی، زه اګرچې ګنهګاريم، ليکن ته د معافی قبلولو لائق او اهل يې. نو هر انسان چې حسد او کينه کوي نو د هغې لپاره مرګ بهتر دی د ژوند څخه

**يوشاعروايي:**

فالـــموْتُ خيرٌ للفتى

منْ عـــيشِهِ عيْشَ البَهيمَه

**ژباړه:** يو ځوان لپاره مرګ بهتر دی، د داسې ژوند نه، چې هغه ژوند، ژوند د حيواناتو په شان وي

[1] درس مقامات(ص، ۱۸)تاليف، ابن الحسن عباسي(حفظه الله)ناشر، مکتبة رحمانية محله جنګې پشاور.

**دامام ابوحنیفه (رحمه الله) شاګردان**

**په دی کې هم علماء متفق نه دي:**

﴿۱﴾تهذیب الکمال کې اویا(۷۰)بنودل شوي

﴿۲﴾په عقود الجمان کې نهه سوه شل(۹۲۰)یاد شوي.([1])

﴿۳﴾ملا علي قاري(رحمه الله) په مناقب الامام ابي حنیفه کې یوسلو پنځوس (۱۵۰) ذکر کړي

﴿۴﴾علامه کردري(رحمه الله) اوسوه اتیا(۷۸۰)ذکر کړي

**هغه خلک چې دامام ابوحنیفه (رحمه الله)نه یې فقه زده کړی**

هغه خلک چې دامام ابوحنیفه(رحمه الله)نه یې فقه زده کړی، هغه ددی ځای اوسیدونکي وو: مکه، مدینه، دمشق، بصره، مصل جزیره، رقه، رملة، مصر، یمن، یمامه، بحرین، بغداد، اهوزن، کرمان، اصفهان، حلوان، همدان، نهاوند، الری، قومس، دامغان، طبرستان، جرجان، مرو، بخاری سمرقند، هرات، خوارزم، سجستان، مدائن، کسر، ترمذ، بلخ او داسې نور.([2])

[1] عقوالجمان(۸۱ص۱۳۳ص).

[2] عقود الجمان(ص، ۸۲)واحقاق الحق(۴ج۱۲۴ص).

**دامام ابوحنیفه(رحمه الله) شاګردان او دامام بخاري(رحمه الله) استاذان**

هغه چې د امام ابوحنیفه(رحمه الله) د مجلس غړي او شاګردان دي او د امام بخاري(رحمه الله) استاذان دي، هغه دا دي،

﴿۱﴾فضیل بن عیاض داد(امام شافعي(رحمه الله) ، امام بخاري(رحمه الله) ، امام مسلم(رحمه الله)) شیخ دی

﴿۲﴾وکیع بن جراح(رحمه الله)د(امام شافعي(رحمه الله) )استاد دی

﴿۳﴾یحیی بن اکثم(رحمه الله)شیخ(البخاري(رحمه الله)).

﴿۴﴾ یحیی بن صالح(رحمه الله) دامام مالک(رحمه الله) او امام محمد(رحمه الله) هم شاګرد دی او د امام بخاري(رحمه الله)استاذ دی

﴿۵﴾یوسف بن بهلول

﴿۶﴾داؤد بن رشید.

﴿۷﴾مکي بن ابراهیم البلخي شیخ البخاري

**دامام ابوحنيفه (رحمه الله) شاګردان او دصحيح الستة استاذان**

﴿۸﴾جرير بن عبد الحميد (رحمه الله) ﴿دامام بخاري (رحمه الله)، دامام مسلم (رحمه الله). دامام ترمذي (رحمه الله)، دامام ابوداؤد (رحمه الله)، دامام ابن ماجة (رحمه الله)، دامام نسائی (رحمه الله)﴾ شيخ دی.

﴿۹﴾عبدالله بن داؤد (رحمه الله) ﴿دامام بخاري (رحمه الله)، دامام مسلم (رحمه الله)، دامام ترمذي (رحمه الله)، دامام ابوداؤد (رحمه الله)، دامام ابن ماجة (رحمه الله)، دامام نسائی (رحمه الله)﴾ شيخ.

﴿۱۰﴾ابراهيم بن طهمان (رحمه الله) ﴿دامام بخاري (رحمه الله)، دامام مسلم (رحمه الله)، دامام ترمذي (رحمه الله)، دامام ابوداؤد (رحمه الله)، دامام ابن ماجة (رحمه الله)، دامام نسائی (رحمه الله)﴾ شيخ.

﴿۱۱﴾زهير بن معاوية (رحمه الله) ﴿دامام بخاري (رحمه الله)، دامام مسلم (رحمه الله)، دامام ترمذي (رحمه الله)، دامام ابوداؤد (رحمه الله)، دامام ابن ماجة (رحمه الله)، دامام نسائی (رحمه الله)﴾ شيخ.

﴿۱۲﴾محمد بن فضيل (رحمه الله) ﴿دامام بخاري (رحمه الله)، دامام مسلم (رحمه الله)، دامام ترمذي (رحمه الله)، دامام ابوداؤد (رحمه الله)، دامام ابن ماجة (رحمه الله)، دامام نسائی (رحمه الله)﴾ شيخ.

﴿۱۳﴾مغیرة بن مقسم(رحمه الله)﴿د امام بخاري(رحمه الله)، د امام مسلم(رحمه الله)، د امام ترمذي(رحمه الله)، د امام ابوداؤد(رحمه الله)، د امام ابن ماجة(رحمه الله)، د امام نسائی(رحمه الله)﴾ شیخ.

﴿۱۴﴾یزید بن هارون(رحمه الله)﴿د امام بخاري(رحمه الله)، د امام مسلم(رحمه الله)، د امام ترمذي(رحمه الله)، د امام ابوداؤد(رحمه الله)، د امام ابن ماجة(رحمه الله)، د امام نسائی(رحمه الله)﴾ شیخ.

﴿۱۵﴾زائد بن قدامه(رحمه الله)﴿د امام بخاري(رحمه الله)، د امام مسلم(رحمه الله)، د امام ترمذي(رحمه الله)، د امام ابوداؤد(رحمه الله)، د امام ابن ماجة(رحمه الله)، د امام نسائی(رحمه الله)﴾ شیخ.

﴿۱۲﴾زکریا بن ابي زائد(رحمه الله)﴿د امام بخاري(رحمه الله)، د امام مسلم(رحمه الله)، د امام ترمذي(رحمه الله)، د امام ابوداؤد(رحمه الله)، د امام ابن ماجة(رحمه الله)، د امام نسائی(رحمه الله)﴾ شیخ.[1]

تم الفصل الثامن بتوفیق الله تعالی

---

[1] تبیض الصحیفه(ص، ۱۱).

# نهم فصل

## امام ابوحنیفه(رحمه الله)او علم الحدیث

**الف: دامام ابوحنیفه(رحمه الله)څخه نقل شوي احادیث:**

**په دی کې مختلف اقوال دي:**

﴿۱﴾ابن خلدون(رحمه الله)نقل کړي چې امام ابوحنیفه(رحمه الله) ته ټول اولس(۱۷)او یا دوه احادیث یاد وو.

﴿۲﴾ابن غدي په الکامل کې لیکلي دي: چې امام ابوحنیفه(رحمه الله)ته دری سوه(۳۰۰) احادیث یاد وو.

﴿۳﴾د بعضو نه نقل دي چې امام ابوحنیفه(رحمه الله) ته پنځه سوه(۵۰۰)احادیث یادوو.

﴿۴﴾بعض وایي اووه سوه(۷۰۰).

﴿۵﴾بعض وایي شپږسوه شپږ شپیته(۶۶۶).

﴿۶﴾بعض وایي یونیم سل(۱۵۰).

﴿۷﴾دامام حسن بن زیاد بیان دی چې امام ابوحنیفه(رحمه الله)څلور زره(۴۰۰۰)احادیث روایت کړي دي، دوه زره یې د حماد نه او دوه زره یې د نورو مشایخو نه.[1]

[1] موفق بن احمد المکي(۱ج۹۲ص)وتهذیب الکمال فی اسماء الرجال(۱۳ج۲۹-۴۱۸).

﴿۸﴾وکیع بن جراح(رحمه الله) د امام ابو حنیفه(رحمه الله) څخه(۹۰۰) احادیث نقل کړي دي.[1]

﴿۹﴾حافظ ابن عبد البر(رحمه الله) د وکیع بن جراح په تذکره کې لیکلي(وکان یحفظ حدیثه کله، وکان قد سمع من أبي حنیفة حدیثا کثیرا)[2]

﴿۱۰﴾امام ملا علي قاري(رحمه الله) د امام محمد بن سماعه څخه نقل کړي وايي(ان الامام ذکر في تصانیفه نیفاً وسبعین الف حدیث وانتخب الاثار من اربعین الف حدیث)[3]
یعني امام ابو حنیفه(رحمه الله) د اویا زرو(۷۰۰۰۰) څخه زیات احادیث په خپلو تصانیفو کې بیان کړي او د څلویښت زرو څخه یې خپل کتاب الاثار انتخاب کړی دی.

﴿۱۱﴾د امام ابو حنیفه(رحمه الله) د یو شاګرد نه نقل دي چې امام ابو حنیفه په تصانیفو کې اویا زره(۷۰۰۰۰) احادیث موندل کیږي.[4]

---

[1] درس ترمذي(۱ج۹۵ص).

[2] رواه ابن عبد البر في الانتقاء(ص۱۳۲) و جامع بیان العلم وفضله(۲ج۲۹۱ص) ومقدمة اعلاء السنن(۲۱ج۱۲ص).

[3] مناقب ملا علي قاري(۲ج۴۷۴ص) ومناقب موفق(۱ج۹۵ص).

[4] درس ترمذي(۱ج۸۹ص).

**ب: دامام ابوحنيفه (رحمه الله) سندالحديث:**

په ټوله دنيا کې اعلى ترين سند دامام ابي حنيفه(رحمه الله) دى لکه: **﴿ابوحنيفه عن حماد عن ابراهيم عن علقمة عن عبد الله عن النبي صلى الله عليه وسلم﴾** ځکه دغه سند کې تمام راويان تام الضبط او هريو دخپل استاذ سره ډير وخت تيريدونکي دى، او ټول شرائط پکې موجود دى.[۱]

**ج: دامام ابوحنيفه (رحمه الله) په احاديثوکې ثقه توب:**

﴿۱﴾ امام بن حجر مکي الشافعي(رحمه الله) ليکې چې امام ابوحنيفه(رحمه الله) ثقه دى.[۲]

﴿۲﴾ علامه ابن عبد البر(رحمه الله) وايې: چې ثقه دى په احاديثو کې.[۳]

﴿۳﴾ شيخ رحيم الله(رحمه الله) په خپل کتاب کې ليکې دي، او يو څو اقوال يې نقل کړي هم دي، چې دامام ابوحنيفه(رحمه الله) تضعيف چا نه دى نقل کړى.[٤]

﴿۴﴾ امام محمد وايې چې ثقه دى ځکه چې ثقه والى يې ابن مبارک او وکيع بيانوي.[٥]

﴿۵﴾ امام علي بن مديني(رحمه الله) وايې چې(وهو ثقه لا بائس به)[۱]

---

[۱] مسند امام اعظم(ص، ۱۷۹)واحقاق الحق(۴ج۱۴۱ص).
[۲] الخيرات الحسان(ص، ۳۲)والبداية والنهاية(۱ج۱۱۵ص).
[۳] الانتفاء فى فضائل الثلاثة الائمة الفقها (۱ج۱۲۷ص).
[٤] احقاق الحق(۴ج۱۵۱ص).
[٥] مناقب کردري(۱ج۲۲۰ص).

﴿۶﴾مشهور مؤرخ او محقق علامه عبدالرحمن بن خلدون وايي(من كبار المجتهدين) ([2]) يعني دلويو مجتهدينو څخه وو.

﴿۷﴾حافظ شمس الدين الذهبي(رحمه الله) او ابن حجر عسقلاني(رحمه الله) دې دواړو ليكلي دامام ابوحنيفه(رحمه الله) په اړه﴿كان ابوحنيفه ثقه لايحدث بالحديث الا بما يحفظه﴾([3])

﴿۸﴾شيخ الاسلام ابن تيمية(رحمه الله) هم ويلي چې امام ابوحنيفه(رحمه الله)ثقه عالم وو. ([4])

﴿۹﴾ عبد الرحمن مباركپوري(رحمه الله)وايي: چې امام ابن معين او امام شعبه او امام ثوري( رحمهم الله)دې ټولو دامام ابوحنيفه(رحمه الله)توثيق كړى([5])

﴿۱۰﴾علامه شمس الدين الذهبي(رحمه الله) دامام ابوداؤد (رحمه الله)څخه نقل كړي(ان اباحنيفة كان اماماً)([6])چې امام ابوحنيفه(رحمه الله)يو امام وو.

---

[1] سيراعلام النبلاء(۱۱ج۴۷۹ص)وجامع بيان العلم وفضله(۲ج۱۴۹ص).

[2] مقدمة ابن خلدون(ص. ۴۴۵).

[3] سيراعلام النبلاء(۱۱ج۴۷۹ص)وتهذيب(۲ج۷۳ص)وطبقات الحافظ(۱ج۸۵ص)وتهذيب الكمال(۱۹ج۱۰۵ص).

[4] تلخيص الاستعانة(ص، ۱۴).

[5] مقام ابي حنيفه تحقيق الكلام(ص. ۱۴۰).

[6] تذكرة الحافظ(۱ج. ۱۲ص).

﴿۱۱﴾امام یزید بن هارون(رحمه الله) وایي: چې امام ابوحنیفه(رحمه الله)نقي، تقي، زاهد، صدوق اللسان وو.([1])

﴿۱۲﴾امام مکي بن ابراهیم دامام عیسی بن یونس چې دا یو ثقه محدث وو.([2])وایي: چې دې دامام ابوحنیفه(رحمه الله)نه اکثره روایات نقل کړي دي.([3])

﴿۱۳﴾محدث ابن عدي دامام اسد بن عمرو په ترجمه کې لیکلي دي، چې دې ډېر روایات دامام ابوحنیفه(رحمه الله) نه نقل کړي دي([4])

﴿۱۴﴾شیخ رحیم الله وایي: چې ددی ډیرو ځخه دا معلومیږي، چې خلکو تری ډېر روایات کړي، نودا ثقه دی.([5])

﴿۱۵﴾علامه خطیب بغدادي(رحمه الله)([6])اوعلامه کردري(رحمه الله)([7]) نقل کړي چې عبد الرحمن مقري(رحمه الله) به داسې په روایاتو کې ویل(وکان اذا حدث عن ابي حنیفه قال حدثنا شاهنشاه).

ځکه امام شافعي(رحمه الله)وایي«النَّاسُ عِيَالٌ عَلَى أَبِي حَنِيفَةَ فِي الْفِقْهِ»([1])

---

[1] مقام ابي حنیفه(ص، ۹۳).
([2])مناقب موفق(۱ج۳۰۸).
([3])تهذیب التهذیب(۸ج۲۳۹ص).
([4])لسان المیزان(۱ج۳۸۴ص).
([5]) احقاق الحق(۴ج۱۵۱ص).
([6])تاریخ بغداد(۱۳ج۳۵۴ص).
([7]) مناقب کردري(۲ج۲۱۲ص).

**د: دامام ابوحنیفه(رحمه الله)دکم رواتو وجه:**

یو څو کتابونو د دې وجه بیان کړې چې د امام ابوحنیفه(رحمه الله) نه کم حدیث نقل دي.[1]

**اوله وجه:** دا ده چې دوئ فقهاء وو، او دهغوئ اصل مشغله داحکامو او مسائلو استنباط او دهغې بیانول وو، لکه څنګه چې لوئ لوئ صحابه کرامو(رضي الله عنهم) لکه خلفاء راشدین مشغول وو په عمل باندې، د روایت کولو نه،[2] اوس اوګوره ددوی روایت شوي احادیث:

**چې عبارت دي له :**

﴿۱﴾ دابوبکرصدیق(رضي الله عنه)نه روایت شوي احادیث(۱۴۲)[3]

﴿۲﴾ دعمر بن خطاب(رضي الله عنه)نه روایت شوي احادیث(۵۳۷)[4]

﴿۳﴾ دعثمان بن عفان(رضي الله عنه)نه روایت شوي احادیث(۱۴۲)[5]

﴿۴﴾ دعلي بن ابي طالب(رضي الله عنه)نه روایت شوي احادیث(۲۸۲)[6]

﴿۵﴾ دابوهریرة(رضي الله عنه)نه روایت شوي احادیث(۵۳۷۴)[7]

---

[1] مرقات(۱ج۳۰ص).

[2] احقاق الحق(۴ج۱۵۲ص).

[3] فتاوی الدین الخالص(۱ج۲۳۲ص)د سوال نمبر(۹۰).

[4] فتاوی الدین الخالص(۱ج۲۳۵ص).

[5] فتاوی الدین الخالص(۱ج۲۳۲ص).

[6] فتاوی الدین الخالص(۱ج۲۳۲ص).

[7] فتاوی الدین الخالص(۱ج۲۳۳ص).

نــو د دی نـــه خـــو دا نـــه معلـــومېږي چـــې دا بـــو هريره (رضي الله عنه) بـــه د خلفـــاء راشيد ينو (رضي الله عنهم) څخه رتبه اضافه او اوچته وي

څکه دا خو ټولو ته معلومه ده ، چې هريو ، يو بل پسې د مرتبې والا دی، خو ابو بکر (رضي الله عنه) وروسته د نبي عليه السلام نه افضل او بهتره دی او تقريباً د دی په مناقبو او فضايلو کې (۲۳) صحيح روايت دي.(١)

او علي (رضي الله عنه) فرمايي ﴿افضل هذه الأمة بعد نبيها أبو بكر وبعد أبي بكر عمـــر رضـــي الله عنه﴾(٢)

**ژباړه:** په دی امت کې د نبي (صلی الله عليه وسلم) نه وروسته ابو بکر افضـل دی او بيا عمر (رضي الله عنه) ، نو ايا اوس چې دابوبکر (رضي الله عنه) د کم حديثو د روايـاتو په وجه ټيټ ګڼې دا خبره غلطه ده او که صحيح.

**دوهمه وجـه:** دا ده چـې دامـام ابو حنيفـه (رحمه الله) شـرائط ډير سـخت وو پـه علم د حديث کې ، د دی په باره کې صرف د کتـابونو حوالـه لانـدی ذکـر کـوم دالله تعالی په توفيق سره .

**دغه کتابونه کتلې شئ :**

سيراعلام الـنبلاء (١١ج٤٧٩ص).

تهذيب الـتهذيب (٢ج٧٣ص).

---

١ کـــشف الـــباري (٩ج١١٢ص).

٢ مـسند احمد رقم (٨٣٥) إسناده صحيح على شرط مسلم رجاله ثقات رجال الشيخين غير منصـور بن عبد الرحمن فمن رجال مسلم

تهذيب الكمال(۱۹ج۱۰۵ص).
طبقات الحافظ(۱ج۸۵ص).
احقاق الحق(۴ج۱۵۲ص).
الميزان الكبرى(۱ج۲۲ص).

څکه امام ابوحنيفه(رحمه الله) خپله فرمايي﴿إذَا صَحَّ الْحَدِيثُ فَهُوَ مَذْهَبِي﴾[1]او بل روايت کې دي،(تعجب دی په تا باندی ای يعقوبه[2] هر هغه خبره چې ته يې زما نه اوري ته يې سمدستي مه ليکه ،څکه نن زه يوه رايه اختيار کړم، نو صبا يې پرېږدم، او سبا بله لار اختيار کړم. بل سبا يې پرېږدم).[3]
يو بل روايت کې داهم دي چې کله زه يوه خبره اوکړم، او هغه دالله تعالى دکتاب يا د رسول(صلى الله عليه وسلم)دحديث نه خلاف وي، نو زما خبره پرېږدئ او هغه ومنئ او زما مه منئ.[4]
څينې وايې چې دامام ابوحنيفه(رحمه الله)نه په صحاح ستة کې حديث نقل نه دی ، نو څينې شيوخ يې څواب داسې کوي، ته ورته ووايه چې دامام شافعي(رحمه الله)نه هم حديث نقل نه دی.[5]
والله اعلم

---

[1] رد المختار(۱ج۱۳۲ص)،ورسم المفتي(۱ج۴ص)وفتاوی ديو بند(۱ج۲۵ص)وٌ إيقاظ همم أولي الأبصار للإقتداء بسيد المهاجرين والأنصار(ص، ۲۲).

[2] دا دامام ابويوسف اسم کنيه وه.

[3] الميزان للشعراني(۱ج۵۵ص)واعلام الموقعين(۲ج۳۰۹ص)والانتفاء لابن عبد البر(ص، ۱۴۵).

[4] الايقاظ(ص، ۵۰).

[5] احقاق الحق(۴ج۱۳۲ص) په دی کې ښه بحث کتلی شئ.

**هـ: دامام ابوحنيفه (رحمه الله) په احاديثو کې احتياط:**

په روايت کې ډير زيات احتياط ضروري دی، څکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي﴿ مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ ﴾[۱]

**ژباړه:** چاچې په ما باندې قصداً دروغ جوړ کړل نو اور کې دې ځانته ځای تيار کړي.

داحديث متواتر حديث دی دعشره مبشره نه روايت دی څکه ابن جوزي (رحمه الله) په(٦١) سندونو، اوملا علي قاري (رحمه الله) په په خپل کتاب کې په(۹۸) طرقو نقل کړې، او نورالانوار مصنف هم د تواتر په مثال کې راخيستې.[۲] په دې حديث کې زجر او رټنه ده، تر دې چې علماؤ ليکلي دي، چې په کبيره ګناه سره سړی نه کافر کيږي، مګر په دې دروغجن حديث نقلولو باندې کافر کيږي نو همدارنګه امام ابوحنيفه (رحمه الله) د ډير احتياط نه کار اخيستې دی، څکه خطيب بغدادي (رحمه الله) وايي: چې تر دې پورې به امام ابوحنيفه (رحمه الله) حديث نه ذکر کولو، تر څو پورې چې به يې حفظ کړی او پيژندلی نه وو.[۳]

---

[۱] البخاري ۲۰۷/۴(۳۴۶۱)ومسلم(۵۳۲۲) وابوداؤد(۳۶۵۳)سنن ابن ماجة(۳۰)والترمذي(۲۲۵۷)سنن دارمي(۲۳۶)سنن النسائي اكبرى(۵۸۸۳)ابن حبان(۵۴۳۲)مسند احمد(۱۸۲۵۲)و مسند الصحابة في الكتب التسعة(۳۷ج۲۳۹ص) ومرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح(۹ج۳۹۴۹ص).

[۲] قوت الاخيار(۲ج۴۱۲ص).

[۳] كفاية فی علم الرواية(ص، ۲۳۱).

او امام وكيع(رحمه الله)وايي چې ﴿لقد وجد ورع عن ابي حنيفة في الحديث مالم يوجد عن غيره﴾([1])

**ژباړه:** امام ابوحنيفه په احاديثو كې هغه احتياط كړى دى چې بل چا دغه شان احتياط نه دى كړى.

په احاديثو كې امام ابوحنيفه(رحمه الله)ډېر سخت احتياط كړى دى: لكه امام حاكم (رحمه الله)([2])امام عبد الوهاب شافعي(رحمه الله)([3])علامه القرشي (رحمه الله)([4])علامه سيوطي(رحمه الله)([5])علامه قاضي شوكاني(رحمه الله)([6]) امام عجلي (رحمه الله)([7])علامه ابن خلدون(رحمه الله)([8])علامه ابن صلاح (رحمه الله)([9])علامه امام نواوي(رحمه الله)([10]) علامه امام عراقي (رحمه الله)([11])علامه امام سخاوي(رحمه الله)([1])علامه عبد الرحمن

---

[1] مناقب صدر الائمة(اج١٩٧).

[2] ميزان الكبرى(اج٢٣ص)ومدخل في اصول الحديث(ص، ١٥).

[3] ميزان الكبرى(اج٢٣ص).

[4] الجواهر المضيئة(اج٣٩٠ص).

[5] تدريب الراوي(ص، ١٢٠).

[6] نيل الاوطار(اج٢٢ص).

[7] احقاق الحق(٤ج١٥٧ص).

[8] مقدمة ابن خلدون(ص، ٤٤٥).

[9] مقدمة ابن صلاح(ص، ٢٣٢).

[10] التقريب والتيسير(ص، ٧٢).

[11] فتح المغيث لعراقي(ص، ٢٥٢).

مبارکپوري(رحمه الله)([2])دی تولو دغه بیان کړی دی چې لاندې یې دکتابونو حوالې کتلې شئ.

دامام ابوحنیفه(رحمه الله)خوي او عادت داسې وو په سند کې، چې شروط یې دقبلولو ډېر سخت وو، نوهمدغه وجه ده چې ډېر احادیث ترې نقل نه دي، لکه یو شاعر چې دځان په باره کې یو څو ابیات لیکلي دي.

**شاعر وایې:**

اسْمَعْ حَـــديـــثي فإنّهُ عجَبُ
يُضحَـــكُ مـــــن شـــــرحِـــهِ ويُنتحَبُ
أنـــــا امــــرؤٌ لـــيْسَ فــــي خَـــــصائِصِهِ
عـــيْبٌ ولا فــــــي فَـــخـــارِهِ ريَـــــبُ

**ژباړه:** زما خبره واوره، ځکه چې هغه ډېره عجیبه ده، ددې په تفصیل سره به ډېر وخاندې، او ډېر به وژاړې، زه یو داسې سړی یم، چې خصوصیاتو کې څه غیب نیشته، اونه ددې په فخر کولو کې څه شک شته

[1] فتح المغیث لسخاوي(۲ج۲۲۸ص).
[2] تحفة الاحـوذي(۲ج۱۵ص).

## دامام ابوحنيفه (رحمه الله) جرح او تعديل

### دامام ابوحنيفه (رحمه الله) دجرحې او تعديل يوځو مثالونه:

﴿۱﴾ امام ابوحنيفه (رحمه الله) دجابر بن يزيد الجعفي په اړه وايي (ما رايت اكذب من جابر الجعفي لا افضل من عطاء بن ابي رباح).([1]) يعني دجابر بن يزيد څخه مې دروغجن او دعطاء بن ابي رباح نه مې زيات افضل نه دى ليدلى.

﴿۲﴾ دزيد بن عياش په باره كې وايي (زيد بن عياش مجهول)([2])

**ژباړه:** زيد بن عياش مجهول دى، داسې نور مثالونه په كتابونو كې ليدلې شي.

اصلي خبره دا ده چې امام ابوحنيفه (رحمه الله) د شيعه او بدعتي حديث نه منلو،([3]) او چې اوس هر څوک بدعات كوي، نو هغه د حنفي مذهب واله نه دى ځكه چې امام ابوحنيفه (رحمه الله) د دى څخه لرې گرځيدو.

والله اعلم.

---

[1] تهذيب التهذيب (۲ج۴۲ص) وسيرا علام النبلاء (۵ج۸۳ص) والعلل للترمذي (ص. ۷۴۱) وفتح المغيث (۳ج۱۵۱ص).

[2] تقريب التهذيب (ص. ۲۷۴).

[3] الكفاية فى علم الرواية كما فى احقاق الحق (۴ج۱۲۲ص).

**دامام ابوحنیفه رحمه الله دضعیف حدیث په مقابل کې هم قیاس پرېښودل**

﴿۱﴾علامه ابن حزم ظاهري(رحمه الله) لیکي ﴿قال ابوحنیفة الخبر الضعیف عن رسول الله صلی الله علیه وسلم اولیٰ من القیاس الخ﴾([1])

یعني دضعیف حدیث په موجوده ګئ کې یې هم په قیاس عمل نه کولو.

چې اوس هر څوک دامام ابوحنیفه(رحمه الله)پسې له ځانه وایې: چې دی قیاس کولو او حدیث یې پرېښودلو نو دغه انسان یا مطالعه نه لري ، او یا متعصب دی.

**یوشاعر وایې:**

تـبّاً لهُ من خـادِعٍ مُماذِقِ
اصـفرَ ذي وجهَیْنِ کالـمُنافِقِ

**ژباړه:** هلاکت دې وي هغه چالپاره چې دهوکه باز او منافق وي، زیړ دی دمنافق په شان د دوومخونو والا.

﴿۲﴾ شیخ الاسلام ابن تیمیة(رحمه الله) وایې﴿ومن ظن بابي حنیفة او غیره من ائمة المسلمین انهم یتعمدون مخالفة القیاس او غیره فقد اخطاء علیهم الخ﴾([2])

**ژباړه:** هرڅوک چې ګمان کوي چې امام ابوحنیفه(رحمه الله) یا یو بل دمسلمانانو امام چې قصداً یې دحدیث صحیح مخالفت کړی، او قیاس ته یې ترجیح ورکړی، نو بې له شکه هغه مسلمان سخت په وهم او اشتباه کې واقع دی.

---

[1] احکام الاحکام فی اصول الاحکام(۷ج۵۴ص).
[2] مجموع الفتاوی(۲۰ج۳۰۴، ۳۰۵ص).

﴿۳﴾ ملا علي قاري(رحمه الله) وايي چې(أَنَّ الْحَدِيثَ الضَّعِيفَ عِنْدَنَا مُقَدَّمٌ عَلَى الرَّأْيِ الْمُجَرَّدِ)([1])

**ژباړه:** چې مونږ په ضعيف حديث باندې هم رايه نه مقدم كوو، يعنې ضعيف حديث هم چې وي، نو هغه رايه پرېږدو او په حديث عمل كوو.

﴿۴﴾ علامه ابن حزم ظاهري(رحمه الله) ليكي(جمع اصحاب ابي حنيفة مجمعون على أن ضعيف الحديث أولى عنده من الرأي والقياس)([2])

**ژباړه:** د امام ابوحنيفه ټول متبعين او ملګري پدې باندې متفق دي چې ضعيف حديث هم په رايه باندې افضل دی.

﴿۵﴾ علامه ابن قيم(رحمه الله) هم همدا ذكر كړي([3]) او وايي ﴿كذب والله وافترى علينا من يقول انا نقدم القياس على النص وهل يحتاج بعد النص الى القياس﴾([1])

---

[1] مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح(۲ج۲۳۲ص).وفيه: أَنَّ الْحَدِيثَ الضَّعِيفَ يُعْمَلُ بِهِ فِي فَضَائِلِ الْأَعْمَالِ(۱ج۲۸۲ص)واعلمْ أنَّ الحَديثَ الضَّعيفَ يُعْمَلُ بِهِ فِي فَضَائِلِ الأعْمَالِ مَعَ أَنَّ صَدْرَ الْحَدِيثِ ذَكَرَهُ فِي الْحِصْنِ)(۲ج۷۷۲ص)و(أَنَّ الْقَاعِدَةَ الْمُقَرَّرَةَ فِي مَذْهَبِ الشَّافِعِيِّ أَنَّ الْحَدِيثَ الضَّعِيفَ لَا يُعْمَلُ بِهِ إِلَّا فِي فَضَائِلِ الْأَعْمَالِ. وَلَا شَكَّ أَنَّ هَذَا لَيْسَ مِنْ ذَلِكَ الْقَبِيلِ)(۳ج۱۲۲۳ص). أَنَّ الْحَدِيثَ الضَّعِيفَ يُعْمَلُ بِهِ فِي الْفَضَائِلِ وَإِنْ لَمْ يَعْتَضِدْ إِجْمَاعًا كَمَا قَالَ النَّوَوِيُّ مَحَلُّهُ الْفَضَائِلُ الثَّابِتَةُ مِنْ كِتَابٍ أَوْ سُنَّةٍ)(۳ج۱۲۲۷ص)( أَنَّ الْحَدِيثَ الضَّعِيفَ يُعْمَلُ بِهِ فِي فَضَائِلِ الْأَعْمَالِ اتِّفَاقًا)(۴ج۱۵۰۴ص)( قَالَ ابْنُ حَجَرٍ: مَعَ هَذَا لَا يَضُرُّ لِأَنَّ الْحَدِيثَ الضَّعِيفَ يُعْمَلُ بِهِ فِي الْفَضَائِلِ)(۴ج۱۲۳۷ص).

[2] مناقب ابي حنيفه(ص، ۳۱)وقواعد التحديث من فنون مصطلح الحديث(ص، ۹۵)ووقواعد التحديث(ص. ۱۱۸).

[3] اعلام الموقعين(۱ج۷۷ص).

ژباړه: هر څوک چې زمونږ په څکله وایي: چې دوی پرنص باندی قیاس مخکې کوي، قسم په الله چې دروغ او پرمونږ تُهمت دی، چې نص موجود وي نو بیا قیاس ته حاجت نشته، او مونږ خو وروسته د نص څخه محتاج یو قیاس ته

﴿۶﴾عبد الله بن مبارک(رحمه الله) وایي:(لا تقولوا رای ابي حنیفه ولکن قولوا انه تفسیر الحدیث)([2])

ژباړه: چې تاسې داسې مه وایې چې دا رایه دامام ابوحنیفه(رحمه الله) ده، بالکه داسې وایې: دا داحادیثو تفسیر دی

﴿۷﴾بل ځای پخپله امام ابوحنیفه(رحمه الله) وایې: ﴿کله چې زه یوه خبره وکړم، او هغه دالله تعالی دکتاب، یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم دحدیث خلاف وي، نو زما خبره پرېږدئ﴾.([3])

﴿۸﴾بل ځای امام ابوخنیفه(رحمه الله)وایې چې ﴿ایاکم والقول فی دین الله تعالی بالرای وعلیکم با تباع السنة فمن خرج عنها ضل﴾([4])

ژباړه: په تاسې باندی په رای وینا پکار نه ده، بغیر د دلیله، بلکه په تابعداریٔ دسنت، څوک چې دسنت تابعداریٔ څخه اووتلو گمراه شو.

---

[1] المیزان الکبری(۱ج۲۵ص).

[2] ذیل الجواهر(۲ج۴۲۰ص).

[3] فتاوی الدین الخالص(۱ج۱۳ص).

[4] المیزان الکبری(۱ج۵۰ص).

﴿۹﴾ وكيع وايي(رحمه الله) چې د امام ابوحنيفه(رحمه الله) نه ما اوريدلي، چې ويل به يې: «الْبَوْلُ فِي الْمَسْجِدِ أَحْسَنُ مِنْ بَعْضِ الْقِيَاسِ»([1])

**ژباړه:** په مسجد كې بولی كول ښه دي، د بغض د قياس نه

﴿۱۰﴾ بل ځای امام ابوحنيفه(رحمه الله) په تشديد سره وايي: چې(لعن الله من يخالف رسول الله صلى الله عليه وسلم، به اكرمنا وبه استقذمنا)([2])

**ژباړه:** د الله تعالى لعنت دی وي، په هغه چا چه د نبي عليه السلام خلاف كوي، ځكه د دی په وجه مونږ د هلاكت نه بچ شوی يو، او د دی په وجه باندې عزتمند شوي يو.

لكه څنګه چې الله تعالى(جل جلاله) په قرآن كريم كې د نبي عليه السلام د امت غوره والې او بهتر والې بيانوي، الله تعالى(جل جلاله) فرمايي:

﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ...﴾([3])

**ژباړه:**

امام ابوحنيفه(رحمه الله) يو داسې انسان وو، لكه يو شاعر چې د خپل ځان په باره كې وايي:

أَرْعَى الْجَارَ. وَلَوْ جَار

---

[1] مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(ا ج ۳۴ ص).

[2] تانيب الخطيب(ص، ۱۱۴).

[3] سُوْرَةُ آلِ عِمْرٰن، آيت نمبر(۱۱۰).

وابـذُلُ الوِصـالَ. لِمَنْ صـالَ

واحـتَمِلُ الـخَليطَ. ولوْ أبْدى التّخليطَ

وأودّ الـحَميمَ. ولو جرّعَني الحَميمَ

وافـضَلُ الشّفيقَ. عـلى الشّقيقِ

وافـي للعَشيرِ. وإنْ لَمْ يُـكافِئْ بالعَشيرِ

واستَقِلّ الـجَزيلَ. للـنّزيلِ

واغـمُرُ الزّميلَ. بالـجميلِ([1])

ژباړه: چې زه د خپل ګاونډي لحاظ ساتم اګر چې هغه ظلم کوي، او زه هغه سړي ته هم دوصال(محبت) ورکوم، کوم چې پرما باندې حمله کوي، ملګری برداشت کوم، اګر چې هغه ګړ بړ ظاهروي، زه د دوست سره محبت ساتم، اګر چې هغه په ما باندې ګرمې او به ګوټ ګوټ څښي، زه دوست ته په سکه ورور باندې ترجیح ورکوم، ماسره ژوند تیروونکي ته پوره حق ورکوم، اګر چې هغه لسمه حصه هم نه اداء کوي، لویه او غټه هدیه هم و میلمه لپاره کمه ګڼم، زه ملګري لره په ښایسته تحفې سره پټوم

---

[1] مقامات الحریري(ا ج۹ص )ودرس مقامات(ص، ۱۹۱).

**امام ابوحنیفه(رحمه الله) کوم وخت دقیاس څخه کار اخیستلو**

په خپله امام ابوحنیفه رحمه الله وایي«آخُذُ بِكِتَابِ اللَّهِ، فَمَا لَمْ أَجِدْ فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ وَالآثَارِ الصِّحَاحِ عَنْهُ الَّتِي فَشَتْ فِي أَيْدِي الثِّقَاتِ عَنِ الثِّقَاتِ، فَإِنْ لَمْ أَجِدْ، فَبِقَوْلِ أَصْحَابِهِ آخُذُ بِقَوْلِ مَنْ شِئْتُ، وَأَمَّا إِذَا انْتَهَى الأَمْرُ إِلَى إِبْرَاهِيمَ، وَالشَّعْبِيِّ، وَالْحَسَنِ، وَعَطَاءٍ، فَأَجْتَهِدُ كَمَا اجْتَهَدُوا»([1])

**ژباړه:** زه کتاب الله باندی عمل کوم، که پیدا نشو بیا په سنت رسول، بیا په صحابه وو کې په هغه عمل کوم چې هغه قول غوره وي، مګر دصحابه وو او تابعینو دقول څخه لاندی دچا قول نه اخلم، او کله چې خبره ابراهیم، شعبي، ابن سیرین، حسن او عطاء ته ورسیږي، نو څنګه چې هغوئ اجتهاد کوي زه هم اجتهاد کوم.

څکه اجتهاد دمفتي دشرائطو څخه یو شرط دی([2]) ، اګرچې داحنافو له نظره اجتهاد دمفتي لپاره شرط نه دی.([3])، څکه عبدالوهاب السعراني وایي: چې هرڅوک وایي چې امام ابوحنیفه رایه مخکې کوي په قیاس باندی نو هغه

---

[1] مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(۱ج۳۴ص) يَحْيَى بْنُ آدَمَ، سَمِعْتُ الْحَسَنَ بْنَ صَالِحٍ، يَقُولُ: «كَانَ أَبُو حَنِيفَةَ فَهِمًا بِعِلْمِهِ مُتَثَبِّتًا فِيهِ، إِذَا صَحَّ عِنْدَهُ الْخَبَرُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَعْدُهُ إِلَى غَيْرِهِ»(۱ج۳۰ص).

[2] دافتاء اصول او قواعد(ص. ۲۴).

[3] مجمع الانهر(۴ج۱۴۲ص).

دالله تعالی ددی قول نه غافل دی ﴿ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ۚ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ﴾[1]

**ژباړه:** او ته مه پسې کیږه په هغه څه چې تا ته پرې دلیل نه وي، یقیناً غوږونه او سترګې او زړونه، دی هریو نه به پوښتنه کیږي.[2]

**دامام ابوحنیفه(رحمه الله)محبت اوخرچ په محدیثینو**

علامه مسعر(رحمه الله) وایي: چې امام ابحنیفه(رحمه الله) به چې خپل اولاد ته څه اخیستل هغه به محدیثینو ته هم اخیستل.[3]

علامه خطیب بغدادي(رحمه الله) په خپل سند سره نقل کړي چې کله به امام ابوحنیفه(رحمه الله) تجارت کې بغداد ته لاړ، نو کله چې به سره دګټې کوفې ته راغلو ﴿فيشتري بها حوائج الأشياخ المحدثين وأقواتهم وكسوتهم وجميع حوائجهم﴾[4]

**ژباړه:** په هغې به یې دمحدیثینو حاجتونه اضرورتونه پوره کول

علامه مکي وایې چې امام ابوحنیفه یو محدث هم نه دی پریښې چې کومک او خرچه یې پرې نه وي کړې.[5]

---

[1] الاسراء ۳۶).
[2] المیزان الکبری(۱ج۵۲ص).
[3] عقود الجمان(ص، ۱۹۱).
[4] تاریخ بغداد(۱۳ج۳۶۰ص).
[5] مناقب موفق(۱ج۲۶۴ص).

**امام ابوحنیفه(رحمه الله)ته «سراج» امتي ویل**

دا ویل چې امام ابوحنیفه سراج امتي دی دا یوه موضوعي خبره ده او خلک ورته حدیث وایي ، چې الفاظ یې دا دي. عن أبي هريرة عن رسول الله صلى الله عليه و سلم «إِنَّ آدَمَ افْتَخَرَ بِي وَأَنَا أَفْتَخِرُ بِرَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي اسْمُهُ نُعْمَانُ وَكُنْيَتُهُ أَبُو حَنِيفَةَ، هُوَ سِرَاجُ أُمَّتِي»او دا روایت عن أنس رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «يكون في أمتي رجل يقال له : محمد بن إدريس أضر على أمتي من إبليس ، ويكون في أمتي رجل يقال له أبو حنيفة ، هو سراج أمتي» او دا روایت «إِنَّ سَائِرَ الْأَنْبِيَاءِ يَفْتَخِرُونَ بِي وَأَنَا أَفْتَخِرُ بِأَبِي حَنِيفَةَ، مَنْ أَحَبَّهُ فَقَدْ أَحَبَّنِي، وَمَنْ أَبْغَضَهُ فَقَدْ أَبْغَضَنِي»

ملا علی قاري( )فرمايي: ﴿أَبُو حَنِيفَةَ سِرَاجُ أُمَّتِي: مَوْضُوعٌ بِاتِّفَاقِ الْمُحَدِّثِينَ﴾[1]او ابن الجوزي په ډېر تشدید سره وایي« هذا حديث موضوع لعن الله واضعه »[2]او محمد ناصر الدين الألباني په السلسلة الضعيفة کې ذکر کړی چې دا موضوعي دی[3]

[1] الأسرار المرفوعة في الأخبار لموضوعة(۱ج۷۲ص). المعروف بالموضوعات الكبرى، ملا على القاري

[2] الموضوعات لابن الجوزي(۲ج۴۸ص).

[3] السلسلة الضعيفة(۲ج۴۲ص).

دا حدیث موضوعي دی او دځانه جوړشوی دی، څکه دغه کتابونه و ریسي کتلی شئ:

- (۱) تاریخ بغداد(۱۳ج۳۳۵ص).
- (۲)الدخيل في التفسير(۱ج۳۳۴ص). مناهج جامعة المدينة العالمية فهو موضوع
- (۳)المسند المستخرج على صحيح الإمام(۱ج۸۳ص).

- ﴿۴﴾جامع الأصول في أحاديث الرسول(۱ج۱۳۸ص).ابن الأثير
- ﴿۵﴾أضواء على السنة المحمدية(۱ج۲۱۱ص).
- ﴿۶﴾شرح صحيح البخاري(۴ج۳ص).
- ﴿۷﴾إِمْدَادُ المُنْعِم شَرْحُ صَحِيح الإِمام مُسلِم(۱ج۹۱۲ص).
- ﴿۸﴾تدريب الراوي في شرح تقريب النواوي(۱ج۳۲۸ص).
- ﴿۹﴾شرح المنظومة البيقونية(۱۲ج۸ص).
- ﴿۱۰﴾الوسيط في علوم ومصطلح الحديث(۱ج۰۳۳ص).
- ﴿۱۱﴾شرح نخبة الفكر(ص، ۴۴۹).
- ﴿۱۲﴾أصول الدين عند الإمام أبي حنيفة(ص، ۷).
- ﴿۱۳﴾ شرح العقيدة الطحاوية(ص، ۵۱).صدر الدين بن علاء الدين عليّ بن محمد ابن أبي العز الحنفي دار السلام
- ﴿۱۴﴾تلخيص كتاب الموضوعات لابن الجوزي(۱ج۱۵۹ص).
- ﴿۱۵﴾الأسرار المرفوعة في الأخبار لموضوعة(۱ج۷۲ص). المعروف بالموضوعات الكبرى، ملا على القاري
- ﴿۱۶﴾لسان الميزان(۷ج۱۵۹ص). أحمد بن علي بن حجر العسقلاني.
- ﴿۱۷﴾السلسلة الضعيفة(۲ج۱۴۷ص).
- ﴿۱۸﴾رد المحتار(۱ج۱۴۷ص).
- ﴿۱۹﴾أحاديث مختارة(۱ج۱۱۲ص).
- ﴿۲۰﴾كتاب معرفة التذكرة في الأحاديث الموضوعة(۱ج۲۵۷ص).
- ﴿۲۱﴾الضعفاء(۱ج۱۴۷ص).
- ﴿۲۲﴾الفوائد الموضوعة في الأحاديث الموضوعة للكرمي(۲۰۳).
- ﴿۲۳﴾موضوعات الصغاني(۱ج۴۵ص).
- ﴿۲۴﴾اللآلئ المصنوعة في الأحاديث الموضوعة للإمام السيوطي(۱۱ج۲۳ص).
- ﴿۲۵﴾تلخيص كتاب الموضوعات للذهبي(۱ج۱۵۸ص).

**په امام ابوحنیفه (رحمه الله) باندې اعتراضونه**

هغه چې امام ابوحنیفه رحمه الله ته یې د ضعف نسبت کړی، په لنډه توګه یې ذکر کوو.

بعض وایي ضعیف دی،[1] بعض وایي چې په باب د احادیثو کې نه دی قوي،[2] دارقطني ورته ضعیف ویلی،[3] ابن جوزي (رحمه الله) وایي: چې په پنځوسو احادیثو کې یې خطائې کړې،[4] بعض وایي: چې په احادیثو کې یتیم دی،[5] بعض وایي: سيئ الحفظ وو،[6] بعض وایي: چې د اهل کوفې په خلکو کې نور نشته،[7] ځینې وایي: چې کله حدیث د حجاز نه وو تللو د هغه مغز کېږاو منقطع شو.[8] ځینې وایي: چې د کوفې واله ټول ضعیف دي،[9] ځینې وایي: چې استاد یې ضعیف دی،[10] او نور...

---

ما د غه زخمت صرف د الله تعالی د رضا په خاطر وکړ. ځکه چې دا چاته معلومه نه ده. چې دا حدیث نه دی، او چاله ځانه جوړه کړې خبره ده، او د امام ابوحنیفه رحمه الله پسې یې تړي، الله تعالی دې ورته هدایت وکړي آمین.

[1] میزان الاعتدال (۲ج۲۳۵ص).

[2] احقاق الحق (۴ج۱۷۴ص) وګورئ.

[3] سنن دارقطني (۱ج۳۷۳ص).

[4] احقاق الحق (۴ج۱۹۱ص) وګورئ.

[5] کتاب قیام للیل (ص. ۱۲۳) وحقیقة الفقه (ص. ۱۱۸).

[6] شرح موطاء (۲ج۲۷۲ص). لابن عبد البر (رحمه الله).

[7] ابو داؤد (۲ج۳۵ص).

[8] تدریب الراوي (ص، ۳۳).

[9] الجرح علی ابي حنيفة (ص. ۱۲).

[10] الجرح علی ابي حنيفة (ص، ۱۲).

## دامام ابوحنيفه (رحمه الله) ثقه والی

**دامام ابو حنيفه رحمه الله توثيق په لنډ ډول:**

امام مالک رحمه الله وايي: چې ثقه دی،([1]) امام شافعي رحمه الله وايي: چې خلک په فقه کې ددی اولاد دی،([2]) امام احمد بن حنبل رحمه الله وايي : چې په تقوا کې اخري مرتبې ته رسيدلی،([3]) امام ذهبي(رحمه الله) وايي: چې دامام ابي حنيفه(رحمه الله) ، امام شافعي(رحمه الله) او امام بخاري(رحمه الله) په شان خلک نيشته په عظمت او جلاليت کې،([4]) علامه عيني(رحمه الله) وايي: چې دامام ابوحنيفه(رحمه الله) امامت، علم او عمل په نړئ کې يو مسلم حقيقت دی،([5]) يحيی بن معين(رحمه الله) وايي: چې امام ابوحنيفه(رحمه الله) ثقه دی،([6]) امام علي بن مديني(رحمه الله) وايي: چې(وهو ثقة لابائس به)[7] علامه شمس الدين الذهبي(رحمه الله) وايي: چې امام ابوحنيفه(رحمه الله) ثقه عالم وو ،([8]) علامه ابن حجر(رحمه الله) روايت نقل کړی چې امام ابو حنيفه(رحمه الله) ثقه

---

[1] کتاب کردري(۲ج۳۹ص).

[2] مرقات(۱ج۳۰ص).

[3] الخيرات الحسان(ص، ۳۲).

[4] ميزان الاعتدال(۱ج۳ص).

[5] عمدة القاري(۱ج۲۲ص).

[6] البداية والنهاية(۱۰ج۱۱۵ص).

[7] سيراعلام النبلاء(۱۱ج۴۷۹ص).

[8] تهذيب الکمال(۱۹ج۱۰۵ص).

عـالم وو،[1] حـافظ محمـد بـن یوسـف الشـافعي(رحمه الله) وایـي: چـې داحادیثو په حافظانو کې شمارل کیده،[2] امام علي بن مدین(رحمه الله) وایي: چـې دامـام ابوحنیفـه(رحمه الله) نـه علامـه ثـوري(رحمه الله)، عبـد الله بـن مبـارک(رحمه الله)، حمـاد بـن زیـد(رحمه الله)، هشـام(رحمه الله)، وکیـع بـن جراح(رحمه الله)، عباد بن عوام(رحمه الله) او جعفر بن عون(رحمه الله) روایت کړی دا ثقه دی،[3] ځینی وایي: چې په فقه او حدیث کې قوي دی.[4] عبد الرحمن مبارکپوري(رحمه الله) یې هم یادونه کړی ده،[5] امام حاکم(رحمه الله) د کوفی په ثقاتو کې راوړی،[6] شیخ الاسلام ابن تیمیة(رحمه الله) وایي: چې هیڅ یې رایه پـه حدیث نـه ده مخکـې کـړی،[7] د زیـات تفصـیل لپـاره احقـاق الحـق[8] وګوری.

تم الفصل الثامن بالتوفيق الله تعالى

---

[1] طبقات الـحفاظ(۱ج۸۵ص).

[2] تانیب الـخطیب(ص، ۱۵۲).

[3] الـخیرات الـحسان(ص، ۷۴).

[4] مقام ابي حنیفه تحقیق الکلام(ص، ۱۴۰).

[5] تحفة الاحـوذي(۲ج۱۵ص).

[6] معرفة علم الـحدیث(ص، ۲۴۹).

[7] مجموع الـفتاوی(۲۰ج۳۰۵ص).

[8] احقاق الـحق(۴ج د۲۴۲-۲۷۱).

**د امام ابوحنيفه (رحمه الله) يوڅو لنډ نصيحتونه**

د امام ابوحنيفه (رحمه الله) هغه نصيحتونه چې خپلو شاګردانو ته يې کړي او خاص، چې يې امام ابويوسف (رحمه الله)، امام زفر (رحمه الله)، امام محمد (رحمه الله)، يوسف بن خالد (رحمه الله) او نوح بن ابي مريم (رحمه الله) ته کړي. نو زه د دې نصيحتونو څخه يوڅو نصحتونه ذکر کوم، هغه چې لنډ او مختصر دي او دا نصحتونه ديو مختصر او وړې رسالې څخه ذکر کوم چې په همدې موضوع ليکل شوې ده، چې يو مشهور او جيد عالم مولانا محمد عاشق الهي بلند شهري (رحمه الله) ليکلې او پښتو ژبې ته ترجمه شوې چې نوم يې دې د امام ابوحنيفه (رحمه الله) نصيحتونه

**هغه نصيحتونه دا دي:**

- ﴿۱﴾ د پاچا د ملګرو او درباريانو سره ملګرتيا مه پيدا کوه.
- ﴿۲﴾ د پاچا له درباريانو لرې اوسه، چې عزت او مرتبه دې هماغه شان په خپل حالت کې پاتې شي.
- ﴿۳﴾ دوه ښځې (بنې) په کور کې مه يوځاې کوه.
- ﴿۴﴾ تر هغه وخته نکاح مه کوه، ترڅو ډاډمن شوی نه يې، چې ته د هغې ټولې اړتياوې پوره کولی شې.
- ﴿۵﴾ په لاره کې مه کينه، که تا ته د دې اړتيا وي، ته د کور نه بهر چيرته کينې، نو جومات کې کينه

- ﴿۲﴾ جومات او بازار کې خوراک مه کوه.
- ﴿۷﴾ د الله تعالی دویرې امانت داري غوره کړه. او د ټولو عامو او خاصو سره خیر ښېګڼه غوره کړه.
- ﴿۸﴾ د علم له ښوونې مخ مه اړوه، ځکه که تا علم ته شا کړه، علم به تا ته شا کړي الله تعالی هم په قرآن کې فرمايي: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى﴾[1]
- ژباړه: او هر څوک چې زما له ذکر (قرآن) څخه اعراض وکړي، پر ته له شکه به پرې تنګې راشي.
- ﴿۹﴾ ښځې ته دې مه نیږدې کیږه، مګر وروسته له هغې چې د الله تعالی ذکر وکړې لکه څنګه چې یو حدیث کې راځي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: چې کله یو ستاسې اراده وکړي چې خپلې ښځې ته راشي، نو دا دې ووايي: ﴿بِاسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبْ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا﴾[2]

---

[1] سُوْرَةُ طٰهٰ. آیت نمبر(۱۲۴).

[2] صحیح البخاري(۱۳۸) وصحیح مسلم(۲۵۹۱) والترمذي(۱۰۹۲) وسنن أبي داود(۲۱۲۳) وابن ماجه(۱۹۱۹) وسنن النسائي الکبری(۸۹۷۴) ومسند احمد(۸: ۱۹۰) وسنن الدارمي، باب القول عند الجماع(۲۹) ومشکاة المصابیح(۲۴۳۹) وعمدة القاري شرح صحیح البخاري(۲۵ج۹۷ص) ومرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح(۸ج۳۸۰۱ص) وسبل السلام(۵ج۴۲ص).

**زياره:** شروع كوم په نوم د الله تعالى يا الله موږ بچ كړه د شيطان نه او شيطان بچ كړه د هغه اولاد نه چې ته يې موږ ته راكوې

نو بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چې كه چيرې الله تعالى اولاد وركوي نو د شيطان څخه به محفوظ وي، او په يو روايت كې دي: چې هيڅ وخت به ورته شيطان ضرر ونه رسوي.[1]

- ﴿۱۰﴾ څو مره چې امكان لري، ته د خپلې ښځې مور او پلار كره ډير تګ راتګ مه كوه (پرته له شرعي اړتياوو نه).
- ﴿۱۱﴾ د عامو خلكو په وړاندې مه خانده او مه موسكې كيږه، يعنې ډير مه خانده لكه چې الله تعالى جل جلاله د دى يادونه هم كړې ده، الله تعالى د كافرو په زجر كې فرمايي: ﴿فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا وَلْيَبْكُوا كَثِيرًا ... ۝﴾[2]

**زباړه:** بس وخاندى لږ او ډير وژاړى.

- ﴿۱۲﴾ بازارونو ته ډير مه زه (غير د ضرورته)، او كه لاړ شي بازار ته دا دعاء ووايه ﴿أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ

---

[1] سبل السلام (۵ج ۴۲ص).
[2] سُورَةُ التَوبَة، آيت نمبر (۸۲).

الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾[1].

- ﴿۱۳﴾ په دوکانو کې مه کينه، که تاته د دې اړتيا وي، ته د کور نه بهر چيرته بايد کېني، نو جومات کې کينه
- ﴿۱۴﴾ دوکانونو کې مه کينه
- ﴿۱۵﴾ که چيرې عوام او يا هم بازاري خلک در سره شخړه کوي، ته ورسره شخړه او جګړه مه کوه، که داسې وکړې، ستا عزت او منزلت به له منځه لاړشي.
- ﴿۱۲﴾ د حق دوينا پر مهال د هيچا د جاه او جلال پروا مه کوه، که هغه دوخت بادشاه هم وي[2]

[1] المستدرک على الصحيحين(۱۹۷۴)وعمل اليوم والليلة«ابن السُنّي»(ص، ۲۸۲)وعمل اليوم والليلة النسائي(۱۱۴) او پوره حديث داسې دى ﴿عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، مَرْفُوعًا: مَنْ خَرَجَ إِلَى السُّوقِ، فَقَالَ: «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، كَتَبَ اللهُ لَهُ أَلْفَ أَلْفَ حَسَنَةٍ، وَمَحَا عَنْهُ أَلْفَ أَلْفَ سَيِّئَةٍ، وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ»﴾

[2] لکه د نسائي په روايت کې چې د باچا په مخ کې د حق وينا په باره کې راځي: ﴿عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ أَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ قَالَ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ﴾ ﴿نسائي: ۴۲۰۹﴾ او د ابن ماجه په روايت کې داسې راځي: ﴿عَنْ أَبِي غَالِبٍ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ عَرَضَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ عِنْدَ الْجَمْرَةِ الْأُولَى فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ فَسَكَتَ عَنْهُ فَلَمَّا رَأَى الْجَمْرَةَ الثَّانِيَةَ سَأَلَهُ فَسَكَتَ عَنْهُ فَلَمَّا رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ وَضَعَ

- ﴿۱۷﴾ كه خلك درنه غوښتنه هم وكړي، خو بيا هم مه دا اهل علمو (عالمانو) په شتون كې فتوا وركوه، مه مناظرې ته حاضرېږه.
- ﴿۱۸﴾ پرته د قرآن او حديث له دليل څخه د هغوى په مخ كې، خبرې مه كوه.
- ﴿۱۹﴾ د هغوى مشرانو ته پيغور او بد رد مه وايه، څكه هغوى به هم درته غبرګون ښكاره كړي[۱].
- ﴿۲۰﴾ له خلكو سره په احتياط چلند كوه.
- ﴿۲۱﴾ له زياتې خندا پرهيز وكړه، څكه دا زړه مړكوي
- ﴿۲۲﴾ كله چې خبرې كوې، زياتې چغې مه وهه او خپل غږ هم ډېر مه لوړوه.

---

رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ لِيَرْكَبَ قَالَ أَيْنَ السَّائِلُ قَالَ أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ ذِي سُلْطَانٍ جَائِرٍ﴾ ابن ماجه: ۴۰۱۲ ﴿او د مسند احمد په روايت كې داسې راځي: ﴿«عَنْ طَارِقٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ قَالَ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ إِمَامٍ جَائِرٍ(۱۸۸۲۸)» او په بل روايت كې دا الفاظ دي« عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ أَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ قَالَ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ »﴿ مسند احمد 31ج126ص د حديث نمبر: ۱۸۸۳۰﴾

[۱] لكه څنګه چې الله تعالى په قرآن كې فرمايي: ﴿وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾: سُوْرَةُ الْأَنْعَام، آيت نمبر 108﴾

- ﴿۲۳﴾ په هره مياشت کې دا سې ورځې وټاکه، چې ته پکې روژه ونيسې، چې نور خلک هم ستا په دغه کار اقتدا وکړي، په خپل عبادت دومره مه راضي کيږه، په څومره چې عام وګړي هم دځان لپاره بسنه کوي.[1]
- ﴿۲۴﴾ بې ږيرې غلام مه اخله
- ﴿۲۵﴾ تل د قرآن کريم تلاوت کوه.
- ﴿۲۶﴾ هغه کسان چې بدعت کوي، ډيره ناسته ولاړه ورسره مه کوه، پرته له دې چې سمه لار ورته ور وښايې.
- ﴿۲۷﴾ دلعنت کليمه او نور لعنتي الفاظ مه کاروه.
- ﴿۲۸﴾ تل سپينې جامې اغونده.
- ﴿۲۹﴾ کله چې په لاره روان يې، يو خوا بل خوا مه ګوره، بلکې ښکته ګوره.
- ﴿۳۰﴾ په مجلس کې له غوسې پرهيز وکړه.

---

[1] دغه دمياشتې درې روژې نبي عليه السلام هم ابو هريره رضي الله عنه ته درې روژې ښودلې وې چې په صحيح احاديثو کې ثابت دي، چې ددی څخه يو حديث ذکر کول غوارم: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَوْصَانِي خَلِيلِي بِثَلَاثٍ لَا أَدَعُهُنَّ حَتَّى أَمُوتَ صَوْمِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَصَلَاةِ الضُّحَى وَنَوْمٍ عَلَى وِتْرٍ. رواه صحيح البخاري(۱۱۲۴) وصحيح مسلم: ۷۲۱ سنن الترمذي: ۷۶۰ سنن النسائي: ۱۲۷۸ سنن أبي داود: ۱۴۳۲ ومسند أحمد: ۷۱۳۸ وسنن الدارمي: ۱۴۵۴ وابن ماجه(۳۹۲۰) په دغه کتابونو کې دوصيت لفظ کتلې شي.

- ﴿۳۱﴾ دعالمانو احترام کوه.[1]
- ﴿۳۲﴾ زړو او سپين ګيروخلکو ته ودريږه.[2]
- ﴿۳۳﴾ پر کوچنيانو شفقت کوه.[3]
- ﴿۳۴﴾ د ښو خلکو سره ناسته ولاړه اختيار کړه.
- ﴿۳۵﴾ څوک له ځانه ټيټ مه ګڼه
- ﴿۳۶﴾ خپل شخصيت په چا مه راښکاره کوه.
- ﴿۳۷﴾ عطر ډير کاروه.
- ﴿۳۸﴾ نوې جامې اغونده.
- ﴿۳۹﴾ که څوک درته فرياد وړاندې کوي، ښه سم يې واوره او که درنه مرسته غواړي مرسته ورسره وکړه.
- ﴿۴۰﴾ که چاته زيان رسيدلی وي، دخپل زړه د درد اظهار ورته وکړه.
- ﴿۴۱﴾ پرته له ازمايښت چاته د دوستۍ لاس مه ورکوه.

تم الفصل الثاني بالتوفيق الله تعالى

---

[1] ښکه الله تعالی فرمايي: ﴿وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَابِّ وَالْأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذَٰلِكَ ۗ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ﴾(سُوْرَةُ فاطِر، آيت نمبر 28).

[2] لکه چې رسول الله مبارک فرمايي: (لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَيُوَقِّرْ كَبِيرَنَا رواه الترمذي(۱۹۱۹)ولمسند الإمام أحمد بن حنبل عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَيَعْرِفْ حَقَّ كَبِيرِنَا(۲۷۳۳))، ومسند الصحابة في الكتب التسعة(29ج498ص).

[3] ددې په باره کې هم حديث موجود دي چې لږ مخکې ذکر شو.

## لسم فصل

## دامام ابوحنیفه (رحمه الله) وفات

**دامام ابوحنیفه (رحمه الله) د وفات په اړه مختلف اقوال دي:**

﴿۱﴾ اکثرعلماء فرمايي: چې امام ابوحنیفه (رحمه الله) په (۱۵۰هـ) کال د رجب په میاشت د (۷۰) کالو په عمر، بغداد کې د اسلامي امت دغه ستره او ځلانده علمي لمر ډوب او فنا کړی شو[۱]، او ځینی وايي چې په (۱۵۳هـ) کې وفات شوی ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾.[۲]

﴿۲﴾ نعیم بن یحیی (رحمه الله) وايي: چې امام ابوحنیفه (رحمه الله) ته زهر ورکړی شوي وو، او په ډیر نا آشنا حالت کې وفات شو ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾.[۳]

﴿۳﴾ ابوحسان الزیادي (رحمه الله) وايي: چې امام ابوحنیفه رحمه الله په سجده پروت وو چې روح ترې پرواز وکړ ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾.[۴]

﴿۴﴾ فضل بن دکین (رحمه الله) وايي: چې یو غړپ زهر پری وڅښل شو او دهغې نه وفات شو ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾.[۱]

---

[۱] عقد الجمان (ص، ۴۴) وتبییض الصحیفه (ص، ۱۳۴)

[۲] مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح (۱ج ۳۱ص) تُوُفِّيَ بِبَغْدَادَ، وَقِيلَ: فِي السِّجْنِ عَلَى أَنْ يَلِيَ الْقَضَاءَ سَنَةَ خَمْسِينَ عَلَى الْمَشْهُورِ، أَوْ إِحْدَى، أَوْ ثَلَاثٍ وَخَمْسِينَ وَمِائَةٍ فِي رَجَبٍ بِبَغْدَادَ.

[۳] عقود الجمان (ص، ۲۸۳).

[۴] احقاق الحق (۴ج ۱۰۵).

﴿۵﴾ راجح دا دی چې محبس، جيل، زندان کې يې وفات وشو﴿ اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ﴾.[2]

**دامام ابوحنيفه (رحمه الله) دوفات نېټه**

امام ابوحنيفه رحمه الله په (۱۵۰هـ) درجب په مياشت او دامام ابو يوسف رحمه الله په وينا دشوال دمياشتې په نيمايي کې د اويا (۷۰) کالو په عمر بغداد کې وفات شو، او په کوم ځاي کې چې وفات شو هلته يې تقريباً (۷۰۰۰) واری قرآن ختم کړی وو.[3]

**إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ**

**امام ابوحنيفه (رحمه الله) ته غسل ورکوونکي**

حسن بن عمارة قاضي (رحمه الله) ورته غسل ورکړ، او ابو رجاء بن عبدالله الهروي پرې اوبه اچولې[4]

---

[1] احقاق الحق (۴ج ۱۰۷).

[2] تاريخ بغداد (۱۳ج ۳۲۸ص).

[3] مرقاة المفاتيح (۱ج ۳۰ص). أَنَّهُ خَتَمَ القُرْآنَ فِي المَوْضِعِ الذِي تُوُفِّيَ فِيهِ سَبْعَةَ آلافِ خَتْمَةٍ.

[4] عقود الجمان (ص، ۲۸۵).

**دامام ابوحنيفه (رحمه الله) دغسل وروسته دحسن بن عماره وينا**

د ﴿ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴾ وروسته يې دا وويل: چې الله تعالی دی په تا باندی رحم وکړي زمونږ نه لاړې، بيا يې وويل چې زمونږ نه فقيه، عابد، زاهد، دخير دخصلتونو جامع او ډير په سنتو برابر او سمبال حالت کې دی مرګ وموند او دځانه وروسته خلک مو په غم کې واچول،[1] او ټول يې وژړول.[2]

علامه الخنجلي (رحمه الله) وايي: چې ددی دوفات د ﴿ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴾ اواز چې چا واوريده، ټولو ژړا کوله چې خلکو يې اواز اوريدو، تر دی چې پيريانو هم ددی په وفات وژړل چې خلکو يې اوازونه اوريدل.[3]

**دامام ابوحنيفه (رحمه الله) د وفات خبر**

﴿۱﴾ ابن جريج (رحمه الله) ته چې دمکې مکرمې فقيه وو، او دامام شافعي رحمه الله شيخ الشيخ دی، خبر ورسيد، د ﴿ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴾ څخه وروسته يې وويل: چې څه عجيبه عالم ددنيا نه لاړو.[4]

---

[1] پورته حواله

[2] دامام ابوحنيفه دژوند پلوشې(ص. ۱۴۲).

[3] عقود الجمان(ص، ۲۸۷).

[4] الخيرات الحسان(ص، ۲۹). بل روايت أبو نُعَيم، سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ صَالِحِ بْنِ حَيٍّ، يَقُولُ «لَمَّا مَاتَ أَبُو حَنِيفَةَ، ذَهَبَ مُفْتِي العِرَاقِ وَفَقِيهُهَا، وقال: رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، قَالَ كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ جُرَيْجٍ، فَقِيلَ

﴿۲﴾امام شعبه بن الحجاج(رحمه الله)ته چې خبر ورسيد ، نو د﴿ اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ﴾ څخه وروسته يې وويل، چې د کوفې دعلم چراغ او ډيوه ګُل شوه. او کوفې ته به ترقيامته ددې مثال پيدا نشي.(۱)

﴿۳﴾علامه هماني(رحمه الله)وايې: ما له خپل پلار نه واوريده چې ويې ويل: په خوب کې مې وليدل چې درې ستورې پرځمکه لويدلي، هماغه وو چې امام ابوحنيفه(رحمه الله)وروسته مسعر(رحمه الله)او بيا سفيان(رحمه الله)يو دبل پسې وفات شو﴿اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ﴾ هغه دغه خوب محمد بن مقاتل(رحمه الله)ته ياد کړ، محمد بن مقاتل(رحمه الله)وژړل او ويې ويل: علماء دځمکې ستوري دي(۲)

﴿۴﴾ابونعيم وايې: کله چې امام ابوحنيفه(رحمه الله)وفات شو، نو مادعلي بن صالح نه واوريدل﴿ ذَهَبَ مُفْتِي الْعِرَاقِ وَفَقِيهُهَا﴾(۳)

**ژباړه:** دعراق مفتي او فقيه لاړو.

---

لَهُ مَاتَ أَبُو حَنِيفَةَ، فَقَالَ: «رَحِمَهُ اللهُ، لَقَدْ ذَهَبَ مَعَهُ عِلْمٌ كَثِيرٌ» مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(۱ج۲۹ص).

[1] احقاق الحق(۴ج۲۵۲ص).

[2] دامام ابوحنيفه(رحمه الله)دژوند پلوشې(ص. ۱۴۳).

[3] مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه(ص. ۲۹)، شمس الدين الذهبي.

﴿۵﴾ روح بن عباده وايي: چې زه د ابن جريج سره وم، نودی ته چا وويل: چې امام ابوحنيفه (رحمه الله) وفات شو، نو هغې وويل: ﴿لَقَدْ ذَهَبَ مَعَهُ عِلْمٌ كَثِيرٌ﴾[1].

**ژباړه:** چې دی سره ډير علم لاړو (د دنيانه).

**دامام ابوحنيفه (رحمه الله) دجنازې ورځ**

ابو رجاء (رحمه الله) وايي چې دامام ابوحنيفه رحمه الله جنازی ته د بغداد خلک راجمع شو، او دوئ د خالق المخلوق نه غير چا شمارلی نه شو، او نعيم بن يحيى وايي چې اټکلي حساب د هغه خلکو چې جنازه يې کړی وه پنځوس زره (۵۰۰۰۰) او يا زيات وو[2]، اولنئ جنازه پری حسن بن عماره وکړه، او اخرنئ پری خپل ځوئ حماد اداء کړه[3]، او ډير زيات ازدحام له وجې دده په دفن کولو باندی څوک قادر نه وو[4] او په خيزو ران هديره کې[5] د مازيګرنه وروسته خاورو ته وسپارل شو.[6]

---

[1] مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه (ص، ۲۹)، شمس الدين الذهبي.

[2] احقاق الحق (۴ج ۱۰۷ص).

[3] عقود الجمان (ص، ۲۸۵).

[4] تبييض الصحيفه (ص، ۱۳۴).

[5] احقاق الحق (۴ج ۱۰۵ص).

[6] عقود الجمان (ص، ۲۸۵).

**دامام ابوحنیفه(رحمه الله) په باره یو آواز اوریدل**

کله چې امام ابوحنیفه رحمه الله ښخ کړی شو نو دری ورځی په غلي اواز باندی دغه اواز کیدو.

ذهــب الفقه فلا فقه لـــكم
فاتقوا الله وكـــونوا خلفاء
مات نعمان فمن هذ الـــذي
يحي الليل اذا ما ســجفا[1]

**دامام ابوحنیفه رحمه الله زیارت ته دامام شافعي رحمه الله ورتګ**

کله چې امام شافعي رحمه الله دامام ابوحنیفه رحمه الله دقبر زیارت کولو او چې کله به یې هلته د سهار دوه رکعته مونځ کولو، نو رفع الیدین به یې پکې نه کول، او نه یې قنوت لوستلو اوبیا به یې ویل: چې زمونږ ادب د داسې امام سره ډیر ښه دی، ددی نه چې دده په حضور کې د مخالفت اظهار وکړو.([2])

همدارنګه امام شافعي(رحمه الله) وأیې: چې ماته به څه حاجت پیدا شو، نوزه به دامام ابوحنیفه(رحمه الله) قبر ته به راغلم او دوه رکعته لمونځ به مې اداء کړو، او دده دقبر سره به مې دالله تعالی څخه غوښتنه وکړه، نوزما حاجت به ډیر زر پوره شو او مشکل به مو ډیر زر حل شو.([3])

---

[1] عقود الجمان(ص، ۲۸۷)واحقاق الحق(۴ج۱۰۷ص).

[2] مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح(۱ج۸ص) عبارت یې دا دی(ولَمّا دَخَلَ الشَّافِعِيُّ بَغْدَادَ زَارَ قَبْرَهُ، وَصَلّى عِنْدَهُ رَكْعَتَيْنِ فَلَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ فِي التَّكْبِيرِ، وَفِي رِوَايَةٍ أَنَّ الرَّكْعَتَيْنِ كَانَتَا الصُّبْحَ، وَأَنَّهُ لَمْ يَقْنُتْ فَقِيلَ لَهُ فِي ذَلِكَ فَقَالَ: أَدَبُنَا مَعَ هَذَا الإِمَامِ أَكْبَرُ مِنْ أَنْ نُظْهِرَ خِلَافَهُ بِحَضْرَتِهِ).

[3] البراهین في اثبات التبرک بآثار الصالحین(دتبرک عقیده)(ص، ۳۲۸).

## دامام ابوحنيفه(رحمه الله) يوځو صفات

۱﴾ حق ويونكې وو.[۱]

۲﴾ پرهيزګار وو.[۲]

۳﴾ رښتيا ويونكې وو.[۳]

۴﴾ عفت واله(پاک دامنی)انسان وو.[۴]

۵﴾ په صحيح حديث عمل كوونكی وو.[۵]

۶﴾ عمل يې ډير وو.[۶]

۷﴾ خپله رايه به يې د قرآن او سنت په ليدلو غورځوله.[۷]

۸﴾ د خلكو خاطر كوونكې وو په هر حالت كې.[۸]

۹﴾ رينښتونې محبت كوونكې وو.[۹]

---

[۱] پلوشـــې(ص، ۵۲).
[۲] الـخيرات الحسان(ص، ۱۴۲).
[۳] عقود الــجمان(ص، ۲۳۸).
[۴] احقاق الـحق(۴ج۱۱۰ص).
[۵] فتاوی الدين الخالص(۱ج۱۲ص).
[۶] رد الـــمختار(۱ج۲۳ص)ورسم المفتي(۱ج۴ص)وفتاوی ديوبند(۱ج۲۵ص).
[۷] اعلام الـموقعين(۲ج۳۰۹ص).
[۸] الخيرات الـحسان(ص، ۱۴۲).
[۹] عقود الــجمان(ص، ۲۳۸).

۱۰﴿ په نفه مندو خبرو به يې توجه كوله.[1]

۱۱﴿ د قرآن او حديث تابعدار وو.[2]

۱۲﴿ ځان يې عاجزه او كمزوری ګڼلو.[3]

۱۳﴿ ډيره غوصه به يې نه كوله.[4]

۱۴﴿ ريښتيني خوبونه به يې بيانول.[5]

۱۵﴿ فتوه به يې په دليل سره وه.[6]

۱۲﴿ په حديث يې هر وخت لپاره عمل وو.[7]

۱۷﴿ فقيه وو.[8]

۱۸﴿ عقلمند وو.[9]

۱۹﴿ زاهد وو.[10]

---

[1] احقاق الـحق(۴ج۱۱۰).

[2] فتاوی الدين الخالص(۱ج۱۳ص).

[3] فتاوی الدين الخالص(۱ج۱۳ص).

[4] د امام ابوحنيفه پلوشـي(ص، ۵۲).

[5] الخيرات الحسان(ص، ۱۴۲)واحقاق الحق(۴ج۱۱۰ص)وعقود الجمان(ص، ۲۳۸).

[6] فتاوی الدين الخالص(۱ج۱۳ص).

[7] فتاوی الدين الخالص(۱ج۱۳ص).

[8] احقاق الـــحق(۴ج۲۴۳ص).

[9] كـما لات ابوحنيفة(ص۳۴).

[10] الخيرات الـحسان(ص، ۳۳).

۲۰﴾ يوه ښه ښېښانه وه.[۱]

۲۱﴾ يوې خاصې درجې ته رسيدلی وو.[۲]

۲۲﴾ پراخه زړه لرونکې وو.[۳]

۲۳﴾ دعراق محترم وو.[٤]

۲۴﴾ په ځان او خلکو خرچه کوونکې وو.[۵]

۲۵﴾ دپاچاهانو دمال نه تښتيدونکې وو.[٦]

۲٦﴾ ښايسته شکل لرونکې وو.[۷]

۲۷﴾ عفوه کوونکې وو.[۸]

۲۸﴾ ډير عبادت کوونکې وو.[۹]

۲۹﴾ وو الله تعالی ته ډير ژړيدونکې.[۱۰]

۳۰﴾ صحيح او درستې خبرې يې کولی.[۱]

---

[۱] مناقب امام ابي حنيفه(۱ج۳۰ص)لامام ذهبي.

[۲] احقاق الحق(۴ج۲۴۴ص).

[۳] دامام ابوحنيفه پلوشي(ص، ۵۲).

[٤] تاريخ بغداد(۱۳ج۳٦۰ص).

[۵] مرقات(۱ج۷۸ص).

[٦] تاريخ بغداد(۱۳ج۴۰ص).

[۷] مرقات(۱ج۷۸ص).

[۸] دامام ابوحنيفه دژوند پلوشي(ص، ۵۲).

[۹] ذيل الجواهر(۲ج۴۹۳ص)ومفتاح السعادة(۲ج۷۸ص).

[۱۰] مناقب امام ابي حنيفه(ص، ۳۰) لامام ذهبي.

۳۱﴾ زيا تره به چپ وو.[2]

۳۲﴾ عطر به يې ډير استعمالول.[3]

۳۳﴾ دعاجز او فقير سره به يې كومک كولو.[4]

۳۴﴾ ژور فكر كوونكې وو.[5]

۳۵﴾ استدلال يې په صحيح احاديث وو.[6]

۳۶﴾ دجرحې او تعديل خاوند وو[7]

۳۷﴾ په فقه كې ماهر وو.[8]

۳۸﴾ د الله تعالى نه ډير ويريدونكې وو.[9]

۳۹﴾ ډير سخي وو.[10]

۴۰﴾ امام وو.[1]

---

[1] عقود الجمان(ص، ۲۳۸).

[2] الخيرات الحسان(ص، ۱۴۲).

[3] مرقات(۱ج۷۸ص).

[4] عقود الجمان(ص، ۲۳۸).

[5] مناقب امام ابي حنيفه(۳۰ص)لامام ذهبي.

[6] مناقب كردري(۲ج۱۰ص).

[7] تهذيب التهذيب(۲ج۴۲ص)وسير اعلام النبلاء(۵ج۸۳)وفتح المغيث(۳ج۳۵۱ص)والعلل الترمذي(ص، ۷۴۱).

[8] تبييض الصحيفه(ص، ۲۲).

[9] احقاق الحق(۴ج۲۴۹ص).

[10] تاريخ بغداد(۱۳ج۳۴۰ص).

۴۱﴾ قاضي توب یې نه خوښولو.[2]

۴۲﴾ په حدیث یې قیاس ته ترجیح نه ورکوله.[3]

۴۳﴾ په فقه کې ورته روښانه ستوري ویل شوي وو.[4]

۴۴﴾ تقوه دار انسان وو.[5]

۴۵﴾ د حرامونه ځان بچ کوونکې وو.[6]

۴۶﴾ د وینې او حاضر ذهن خاوند وو.[7]

۴۷﴾ صالح او خیرخواه وو.[8]

۴۸﴾ بهترین جواب ورکوونکې وو.[9]

۴۹﴾ په عالمانو خرچه کوونکې وو.[10]

۵۰﴾ سیّد الفقهاء وو.[11]

تلك خمسون كاملة

---

[1] تذکرة الحفاظ(اج۱۲۰ص).

[2] تاریخ بغداد(۱۳ج۳۲۸ص).

[3] مجموع الفتاوی(۲۰ج۳۰۴، ۳۰۵ص)ومرقات(اج۳ص)واعلام الموقعین(اج۷۷ص).

[4] الخیرات الحسان(ص، ۳۵).

[5] کتاب امام موفق(اج۱۹۵ص).

[6] احقاق الحق(۴ج۲۵۷ص).

[7] دامام ابوحنیفه پلوشي(ص. ۵۸).

[8] کتاب الامام موفق(۲ج۳۵ص).

[9] احقاق الحق(۴ج۲۴۷ص).

[10] المیزان الکبری(اج۵۲ص).

[11] کتاب امام موفق(۲ج۴۲)واحقاق الحق(۴ج۲۷۰ص).

**قال ابن المبارک فی مدح الامام ابي حنیفة (رحمه الله):**

لقد زان البلاد ومن علیها
امام المسلمین ابوحنیفة
بآثار وفقه فی حدیث
کآثر زبور علی الصحیفة
فما فی المشرقین له نظیر
ولا بالمغربین ولابکوفة
رآیت العائبین له سفاهاً
خلاف الحق مع حجج ضعیفه

**وقال البعض فی مدحه:**

ایا جبلی لنعمان ان حصا کما
لتحصی وما تحصی فضائل نعمان
جلائل کتب الفقه طالع تجد بها
دقائق نعمان شقائق نعمان

**قال ابو المؤید موفق بن احمد المکي:**

غدا مذهب النعمان خیر المذاهب
کذ القمر الواضح خیر الکواکب
تفقه في خیر القرون مع التقی
فمذهبه لاشک خیر المذاهب

احقاق الحق(۴ج۱۲۰ص)

**رباعي**

په علمیت او فقاهت کې سم دریاب وو
پوهیدونکې د الله په خوږ کتاب وو
د تقوه او د حیاء وو دا لرونکې
ځکه رب علمیت ورکړی بې حساب وو
استدلال یې په صحیحو احادیثو
هر یو کار هریو عمل یې په شتاب وو
د حرامونه یې ځان هر وخت ساتلو
رب ساتلی د دښمن نه په حجاب وو
زه ارشاد به یې په صفت کې دغه وایم
عبادت او شجاعت کې دا شباب وو

**نظم**

امام ابوحنیفه تقوه دار او حیاء دار وو
عزت ورت ورکړی په هر چاو کی کردګار وو
په بیان د احادیثو کې یې سوچ فکر وو ډیر
او هم رب پری رحم کړی وو په همدې بندی بی شمیر
هرچا سره چې مخ به شو هر چانه به دا زار وو
عزت ورکړی په هرچاو کی کردګار وو
علمانو یې سیرت کې دي لیکلي کتابونه

ډیر زیات یې تعریفونه دي ډیر زیات یې صفتونه
هر چا چې به کتلو دا په زړه کې به یې قرار وو
تکرار

په علم او تقوه کې یې والله کمال بې حده
په سخی او ښایست کې یې والله مثال بې حده
د هرچا سره یې مینه وه هرچا نه به دا زار وو
تکرار

دا زه ارشاد احمد سراج یې ځکه کړم صفت
الله ورته ورکړی وو کمال او ښه علمیت
دا ځکه چې مشغول شوم صفت کې په اشعارو
عزت ورته ورکړی وو په هرچاو کې کردګار وو

**ابو عبدالله ارشاد احمد سراج «کاموي»**

**تمت بالخير**

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وبِحَمْدِكَ ، اشْهَدُ انْ لا إِلهَ إِلاّ انتَ اسْتَغفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيـــــكَ

## ماخذونه


1. قرآن کریم.
2. تفسیرفتحُ البیان في مقاصد القرآن: أبو الطیب محمد صدیق خان بـن حسـن بـن علـي ابـن لطـف الله الحسـیني البخـاري(المتـوفی: ۱۳۰۷هـ) عـدد الأجـزاء: ۱۵ عـام النشـر: ۱۴۱۲ هـ-۱۹۹۲م المَکتبة العصریّة للطبَاعة والنّشْر، صَیدَا بَیروت.
3. تفسیر الماتریدي(تأویلات أهل السنة) : محمد بـن محمد بـن محمـود، أبـو منصـور الماتریـدي(المتـوفی: ۳۳۳هـ) الطبعـة: الأولـی، ۱۴۲۶ هـ- ۲۰۰۵ معـدد الأجـزاء: ۱۰دار الکتـب العلمیـة - بیروت، لبنان.
4. بیان المعاني(مرتب حسب ترتیب النزول): عبد القادر بـن ملّا حویش السید محمود آل غازي العاني(المتوفی: ۱۳۹۸هـ) الطبعة: الأولی، ۱۳۸۲ هـ- ۱۹۶۵م مطبعة الترقي - دمشق.
5. روح المعاني في تفسیر القرآن العظیم والسبع المثاني: شـهاب الدین محمود بن عبد الله الحسیني الألوسي(المتوفی: ۱۲۷۰هـ) الطبعـة: الأولـی، ۱۴۱۵ هـ عـدد الأجزاء: ۱۶دار الکتـب العلمیـة- بیروت.

6. تفسير القرطبي: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي(المتوفى: ٦٧١هـ) الطبعة: الثانية، ١٣٨٤هـ - ١٩٦٤م عدد الأجزاء: ٢٠ جزءا(في ١٠ مجلدات) الناشر: دار الكتب المصرية-القاهرة.

7. تفسير القرآن العظيم: لابن أبي حاتم أبو محمد عبد الرحمن بن محمد بن إدريس بن المنذر التميمي، الحنظلي، الرازي ابن أبي حاتم(المتوفى: ٣٢٧هـ) الطبعة: الثالثة - ١٤١٩ هلناشر: مكتبة نزار مصطفى الباز - المملكة العربية السعودية

8. المنتخب في تفسير القرآن الكريم: الطبعة: الثامنة عشر، ١٤١٦هـ - ١٩٩٥م الناشر: المجلس الأعلى للشئون الإسلامية - مصر، طبع مؤسسة الأهرام.

9. تفسير القرآن العظيم: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي(المتوفى: ٧٧٤هـ) عدد الأجزاء: ٨الناشر: دار طيبة للنشر والتوزيع.

10. صفوة التفاسير: محمد علي الصابوني الطبعة: الأولى، ١٤١٧ هـ - ١٩٩٧م الطبعة: الثانية ١٤٢٠هـ - ١٩٩٩م الناشر: دار الصابوني للطباعة والنشر والتوزيع-القاهرة.

11. الدر المصون في علوم الكتاب المكنون: أبو العباس، شهاب الدين،(المتوفى: ۷۵۲هـ) عدد الأجزاء: ۱۱ الناشر: دار القلم، دمشق.

12. نظم الدرر في تناسب الآيات والسور: إبراهيم بن عمر بن حسن(المتوفى: ۸۸۵هـ) عدد الأجزاء: ۲۲ الناشر: دار الكتاب الإسلامي، القاهرة.

13. تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان: عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله السعدي(المتوفى: ۱۳۷۶هـ) الطبعة: الأولى ۱۴۲۰هـ-۲۰۰۰م الناشر: مؤسسة الرسالة

14. جامع البيان في تأويل القرآن: محمد بن جرير بن يزيد بن كثير أبو جعفر الطبري(المتوفى: ۳۱۰هـ) الطبعة: الأولى، ۱۴۲۰هـ-۲۰۰۰م عدد الأجزاء: ۲۴ الناشر: مؤسسة الرسالة

15. مفاتيح الغيب(التفسير الكبير): المؤلف: أبو عبد الله محمد بن عمر الملقب بفخر الدين الرازي خطيب الري(المتوفى: ۶۰۶هـ) الطبعة: الثالثة-۱۴۲۰هـ الناشر: دار إحياء التراث العربي-بيروت.

16. محاسن التأويل: محمد جمال الدين(المتوفى: ۱۳۳۲هـ) الطبعة: الأولى-۱۴۱۸هـ الناشر: دار الكتب العلميه-بيروت.

17. الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل: أبو القاسم محمود بن عمرو ، الزمخشري(المتوفى: ۵۳۸هـ) الطبعة: الثالثة - ۱۴۰۷ هـ عدد الأجزاء: ۴ الناشر: دار الكتاب العربي – بيروت.

18. فتح القدير: محمد بن علي بن محمد الشوكاني اليمني(المتوفى: ۱۲۵۰هـ) الطبعة: الأولى - ۱۴۱۴ ه الناشر: دار ابن كثير، دار الكلم الطيب - دمشق، بيروت

19. أنوار التنزيل وأسرار التأويل: ناصر الدين أبو سعيد عبد الله بن عمر بن محمد الشيرازي البيضاوي(المتوفى: ۶۸۵هـ) الطبعة: الأولى - ۱۴۱۸ هـ الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت

20. التفسير الواضح الحجازي، محمد محمود الطبعة: العاشرة - ۱۴۱۳ هـ الناشر: دار الجيل الجديد – بيروت

21. زاد المسير في علم التفسير: جمال الدين أبو الفرج عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي(المتوفى: ۵۹۷هـ) الطبعة: الأولى - ۱۴۲۲ هـ الناشر: دار الكتاب العربي – بيروت

22. التسهيل لعلوم التنزيل: أبو القاسم، محمد بن أحمد بن محمد بن عبد الله(المتوفى: ۷۴۱هـ) الطبعة: الأولى - ۱۴۱۶ هـ الناشر: شركة دار الأرقم بن أبي الأرقم – بيروت

23 . البحر المحيط في التفسير: أبو حيان محمد بن يوسف بن علي بن يوسف بن حيان(المتوفى: ٧٤٥هـ) الطبعة: ١٤٢٠ هـ الناشر: دار الفكر – بيروت

24 . تفسيرروح البيان: إسماعيل حقي بن مصطفى الإستانبولي الحنفي(المتوفى: ١١٢٧هـ الناشر: دار الفكر – بيروت

٢٥ . الموسوعة القرآنية: إبراهيم بن إسماعيل الأبياري(المتوفى: ١٤١٤هـ) الناشر: مؤسسة سجل العرب الطبعة: ١٤٠٥ هـ

26 . التفسير المظهري: المظهري، محمد ثناء الله الطبعة: ١٤١٢ هـ الناشر: مكتبة الرشدية – الباكستان

٢٧ . تفسير أبي السعود: إرشاد العقل السليم إلى مزايا الكتاب الكريم: أبو السعود العمادي محمد بن محمد بن مصطفى:(المتوفى: ٩٨٢هـ الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

٢٨ . تفسير النسفي:(مدارك التنزيل وحقائق التأويل): أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين النسفي :(المتوفى: ٧١٠هـ) عدد الأجزاء: ٣ الطبعة: الأولى، ١٤١٩ هـ - ١٩٩٨م الناشر: دار الكلم الطيب، بيروت

٢٩ . التفسير الميسر: الطبعة: الثانية، مزيدة ومنقحة، ١٤٣٠هـ - ٢٠٠٩ م مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف - السعودية

30 . أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن: محمد الأمين بن محمد المختار (المتوفى: ١٣٩٣هـ) عام النشر: ١٤١٥ هـ - ١٩٩٥ مـ دار الفكر للطباعة و النشر و التوزيع بيروت – لبنان.

31 . أوضح التفاسير: محمد محمد عبد اللطيف بن الخطيب (المتوفى: ١٤٠٢هـ) الطبعة: السادسة، رمضان ١٣٨٣ هـ - فبراير ١٩٦٤ الناشر: المطبعة المصرية ومكتبتها.

32 . صحيح البخاري: أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي البخاري عدد الأجزاء: ٩ الطبعة: الأولى ١٤٢٢هـ الناشر: دار طوق النجاة.

33 . صحيح مسلم: مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: ٢٦١هـ) عدد الأجزاء: ٥ دار إحياء التراث العربي – بيروت.

34 . سنن الترمذي: وهو الجامع الصحيح للامام الحافظ أبى عيسى محمد بن عيسى بن سورة الترمذي ٢٠٩ - ٢٧٩ دار الفكر للطباعة والنشر.

35 . سنن أبي داود: سليمان بن الأشعث أبو داود السجستاني الأزدي الناشر: دار الفكر.

36 . سنن ابن ماجه: محمد بن يزيد أبو عبد الله القزويني الناشر: دار الفكر – بيروت.

37 . سنن النسائي: أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني، النسائي(المتوفى: ٣٠٣هـ)مكتب المطبوعات الإسلامية – حلب.

38 . سنن الدارقطني: علي بن عمر أبو الحسن الدارقطني البغدادي الناشر: دار المعرفة - بيروت ، ١٣٨٢–١٩٦٦.

39 . عمدة القاري شرح صحيح البخاري: أبو محمد محمود بن أحمد الحنفى بدر الدين العينى(المتوفى: ٨٥٥هـ) عدد الأجزاء: ٢٥×١٢ دار إحياء التراث العربي – بيروت.

40 . فتح الباري: أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني(المتوفى: ٨٥٢هـ) عدد الأجزاء: ١٣ مصدر الكتاب: موقع الإسلام.

41 . إرشاد الساري لشرح صحيح البخاري: أحمد بن محمد بن أبى بكر بن عبد الملك القسطلاني القتيبي المصري(المتوفى:

۹۲۳هـ) الطبعة: السابعة، ۱۳۲۳هـ عدد الأجزاء: ۱۰ الناشر: المطبعة الكبرى الأميرية، مصر.

42. فيض الباري شرح البخاري: محمد أنور شاه بن معظم شاه الكشميري الهندي (المتوفى: ۱۳۵۳هـ)(۱۲۹۲-۱۳۵۲) مكتبة مشكاة الإسلامية

43. كشف الباري شرح البخاري: مولانا سليم الله خان مترجم مولانا شاه فيصل ، فيصل كتب خانه بشاور.

44. إعلام الموقعين عن رب العالمين: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى: ۷۵۱هـ) الطبعة: الأولى، ۱۴۱۱هـ - ۱۹۹۱م عدد الأجزاء: ۴ الناشر: دار الكتب العلمية - بيروت.

45. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح: علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا القاري (المتوفى: ۱۰۱۴هـ) الطبعة: الأولى، ۱۴۲۲هـ - ۲۰۰۲م عدد الأجزاء: ۹ الناشر: دار الفكر، بيروت - لبنان.

46. البداية والنهاية: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: ۷۷۴هـ) الطبعة: الأولى ۱۴۰۸، هـ - ۱۹۸۸م الناشر: دار إحياء التراث العربي.

47 . تاريخ بغداد : أحمد بن علي أبو بكر الخطيب البغدادي عدد الأجزاء: ۱۴ الناشر: دار الكتب العلمية - بيروت

48 . تدريب الراوي في شرح تقريب النواوي: عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (المتوفى: ۹۱۱هـ) عدد الأجزاء: ۲ الناشر: دار طيبة

49 . تذكرة الحفاظ: أبو الفضل محمد بن طاهر بن علي بن أحمد المقدسي الشيباني، المعروف بابن القيسراني (المتوفى: ۵۰۷هـ) الطبعة: الأولى، ۱۴۱۵هـ - ۱۹۹۴م دار الصميعي للنشر والتوزيع، الرياض

50 . تقريب التهذيب لخاتمة الحفاظ أحمد بن علي بن حجر العسقلاني المتوفى سنة ۸۵۲ ه دار المكتبة العلمية بيروت - لبنان

51 . اخبار ابي حنيفة للمؤرخ الكبير الفقيه القاضي ابي عبد الرجمن حسين بن علي الصميري (۴۳۲ه)

52 . تبييض الصحيفة: للامام الحافظ جلال الدين عبد الرحمن سيوطي الشافعي (۹۱۱ه).

53 . كتاب المناقب: علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاري (المتوفى: ۱۰۱۴هـ) الناشر: دار الفكر، بيروت - لبنان

54. التمهيد لما في الموطأ من المعاني والأسانيد : أبو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر(المتوفى: ۴۶۳هـ) موقع مكتبة المدينة الرقمية

55. رد المحتار على الدر المختار: ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي(المتوفى: ۱۲۵۲هـ) الثانية، ۱۴۱۲هـ-۱۹۹۲م عدد الأجزاء: ۶ دار الفكر-بيروت

56. سير أعلام النبلاء: الامام شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي المتوفى ۷۴۸ه ۱۳۷۴م الطبعة التاسعة ۱۴۱۳ه ۱۹۹۳م مؤسسة الرسالة بيروت

57. معرفة أنواع علوم الحديث: عثمان بن عبد الرحمن، المعروف بابن الصلاح(المتوفى: ۶۴۳هـ) الطبعة: الأولى سنة النشر: ۱۴۲۳ هـ/۲۰۰۲م الناشر: دار الكتب العلمية

58. فتح المغيث بشرح الفية الحديث: للعراقي شمس الدين أبو الخير محمد بن عبد الرحمن السخاوي(المتوفى: ۹۰۲هـ) الطبعة: الأولى، ۱۴۲۴هـ/۲۰۰۳م عدد الأجزاء: ۴ مكتبة السنة-مصر.

59. معرفة علوم الحديث أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله النيسابوري المعروف بابن البيع(المتوفى: ۴۰۵هـ) الطبعة: الثانية، ۱۳۹۷هـ-۱۹۷۷م الناشر: دار الكتب العلمية-بيروت

60 . لسان الميزان: أحمد بن علي بن حجر العسقلاني شهرته: ابن حجر العسقلاني عدد الأجزاء: ۱۰(۹+ فهارس) دار النشر: مكتب المطبوعات الاسلامية.
61 . مجمع الزوائد ومنبع الفوائد: نور الدين علي بن أبي بكر بن سليمان الهيثمي(المتوفى: ۸۰۷هـ).
62 . المفردات في غريب القرآن: أبو القاسم الحسين بن محمد سنة الولادة / سنة الوفاة ۵۰۲هـ الناشر دار المعرفة
63 . د امام ابوحنيفه دژوند پلوشې: ليکوال: وهبي سليمان غاوجي الباني، ژباړن: محمد معروف فروغګر،(۱۳۹۰هـ)، مسلم خپرندويه ټولنه
64 . حيات امام اعظم: علامه شبلي نعماني(رحمه الله) الطبعة الثالثة(۱۳۳۹هـ) حاجي ګل پلازه پشاور.
65 . د امام ابوحنيفه(رحمه الله) نصيحتونه: ليکوال: مولانا محمد عاشق الهي بلند شهري، ژباړه: يوسف ظريفي(۱۳۹۴هـ)، ګودر خپرندويه ټولنه، ننګرهار جلال آباد.
البراهين في اثبات التبرک بآثار الصالحين(دتبرک عقيده)، تاليف: مولانا مفتي محمد يونس(برهان راشد) الحقاني حفظه الله(۱۳۹۱هـ) زما استاد محترم، صافي علمي خپرندويه ټولنه پيبنور




چاپچارې

افغان خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه - جلال آباد

0779090782 - 0788887797

gullmuhammadadil78@gmail.com

Afghanpublisher-Nangarhar